


# ږلی او گولی

حبیب الله رفیع

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B
3.532
RAF
1717



امان

د امان کتاب لخپرونو څخه

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژلۍ او ګولۍ

وینا وال

حبیب الله رفیع

۱۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د کتاب نوم : بلها او ګولها
- وینا وال : حبیب الله رفیع
- د چاپ کال : ۱۳۶۷
- خطاط : شاه محمود پتنګ نقشبندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# تړون

د هغو سرلوړو شهیدانو په نوم

چې

په میړانه د ګولیو په ږلیو ورګډ شول

خو

خپل ناولي دښمن ته یې سرونه

ټیټ نه کړل

په مینه

حبیب الله رفیع

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړ


| | | | |
|---|---|---|---|
| سریزه | ۱ | افغان | ۶۸ |
| د استاد پژواک لیکنه | ۳ | سوړ خزان | ۶۹ |
| د بناغلي پسرلي لیکنه | ۱۱ | آبادي | ۷۴ |
| د بناغلي روحاني لیکنه | ۱۴ | د استقلال لمن | ۷۵ |
| د بناغلي تڼکیال لیکنه | ۱۷ | وېر | ۷۶ |
| د بناغلي جهاني شعر | ۲۱ | میړانه | ۷۷ |
| د بناغلي نوري شعر | ۲۵ | د اختر دعا | ۷۹ |
| خپلې خبرې | ۳۱ | زندان | ۸۱ |
| لویه خدایه! | ۴۷ | سلسلې | ۸۲ |
| د مړ شخیره | ۴۸ | د پلار پر لار | ۸۳ |
| ژړا | ۵۰ | لوېهس | ۸۳ |
| د حق کور | ۵۱ | د کمونیزم شخیره | ۸۴ |
| د اختر ورځ | ۵۸ | خبرې نه کوي | ۹۰ |
| زما جرم | ۶۴ | د خره مینه | ۹۱ |
| غزل | ۶۵ | د آزادۍ شپې | ۹۲ |
| متل | ۶۶ | د نور خلي | ۹۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| له ماخوږي له ماطرب مه غواړه | ۹۴ |
| مي - بي | ۱۰۰ |
| نقاهت | ۱۰۰ |
| د وینو باران | ۱۰۱ |
| دولت که دولت | ۱۰۲ |
| زحمت کُش او زحمت کَش | ۱۰۲ |
| راسره وثهل | ۱۰۳ |
| اکساء کام ء خاد | ۱۰۴ |
| شاه شجاع او ببرک شا | ۱۰۴ |
| خاک من | ۱۰۵ |
| د لستوڼي مار | ۱۰۸ |
| رجیم | ۱۰۸ |
| د وینو بهیر | ۱۰۹ |
| د نورخلی | ۱۱۷ |
| بت پرستي | ۱۲۰ |
| زیری | ۱۲۱ |
| د ورشو - ورشو | ۱۲۷ |
| پنځه لار | ۱۲۸ |
| د ښاروی ګوند ترانه | ۱۲۹ |
| وینه او مینه | ۱۳۰ |
| سالنګ که سالنه | ۱۳۲ |
| کمونستی | ۱۳۳ |
| د وینو رنګ | ۱۳۴ |
| سرونه ګړل | ۱۳۶ |
| للون | ۱۳۷ |
| داوطن | ۱۳۸ |
| د شهید وینه | ۱۴۰ |
| څه ونه وایې؟ | ۱۴۱ |
| جبه زار | ۱۴۲ |
| د شمال له خوا شمال دی | ۱۴۳ |
| ستالین او امین | ۱۴۷ |
| توقفګاه زمان | ۱۴۸ |
| د ننګ تدبیر | ۱۵۰ |
| غوړیدلی ر؟ افغانستان | ۱۵۱ |
| دردانې | ۱۵۴ |
| مناجات | ۱۵۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | |
|---|---|---|---|
| درزونه | ۱۵۹ | بل جهان | ۱۸۸ |
| عقد | ۱۶۰ | مجاهد، مهاجر | ۱۸۹ |
| د اتفاق صف | ۱۶۰ | زما قاتله | ۱۹۰ |
| زندان | ۱۶۱ | د ملت لښکر | ۱۹۱ |
| جوړه | ۱۶۲ | غلامي | ۱۹۱ |
| سیلانی | ۱۶۳ | د محبوب غیږ | ۱۹۲ |
| پوړ | ۱۶۴ | غزل | ۱۹۳ |
| د سپېدو خط | ۱۶۵ | ملی ماتم | ۱۹۴ |
| بریښنف | ۱۶۶ | وطن پلوري | ۱۹۵ |
| ویني | ۱۶۷ | تکل | ۱۹۵ |
| انجام | ۱۶۸ | راز | ۱۹۶ |
| اوس پوړې شو | ۱۷۰ | لوړ سروته | ۱۹۷ |
| فرخائیږی | ۱۸۲ | تصویر | ۱۹۸ |
| ردیف بندگی | ۱۸۳ | د مور غیږ | ۱۹۹ |
| نوی دام | ۱۸۴ | بريالی پاڅون | ۲۰۰ |
| د مسافر جنازه | ۱۸۵ | اسیر | ۲۰۴ |
| سپېدې | ۱۸۶ | د زړه غوښتنه | ۲۰۵ |
| دباغ | ۱۸۷ | کربلاته سلام | ۲۰۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | |
|---|---|---|---|
| لوبې کوي | ۲۰۸ | چار بیته | ۲۳۷ |
| د یلدا شپه | ۲۰۸ | د ننګ تاریخ | ۲۳۹ |
| پیغام | ۲۰۹ | سوی مسری | ۲۴۰ |
| عمر | ۲۱۶ | د نیل پر غاړه | ۲۴۱ |
| لوړې شملې | ۲۱۷ | د وحشت غېږ | ۲۴۸ |
| د مجاهدو ماشومانو ترانه | ۲۱۸ | خرس مرګي | ۲۴۹ |
| د ایمان زور | ۲۲۰ | د اقتدار جنګ | ۲۴۹ |
| شهیدانو | ۲۲۰ | نوړین | ۲۵۰ |
| چېرته ولاړ شم؟ | ۲۲۱ | امتحان | ۲۵۱ |
| د تاریخ غبرګوت | ۲۲۲ | د خوشال بابا په مزار | ۲۵۲ |
| د حق ملر | ۲۲۵ | مقابله | ۲۵۳ |
| د ځان مرګ | ۲۲۶ | تیې غاټول | ۲۵۳ |
| د تره کي په یاد | ۲۲۷ | د ذبیح الله شهادت | ۲۵۴ |
| د سر سیوری | ۲۲۸ | فردوس | ۲۵۴ |
| غم | ۲۲۹ | منظوم لیک | ۲۵۵ |
| فلکه | ۲۳۰ | لوی فاتح | ۲۵۶ |
| کړان | ۲۳۱ | د روند غم | ۲۵۶ |
| یو لیک | ۲۳۶ | د نمر | ۲۵۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| په شینډنډ کښې . . . | ۲۵۸ |
| پر لیبیا تیری | ۲۵۸ |
| د میني بقاء | ۲۵۹ |
| یو هدف | ۲۶۰ |
| د روس بحث | ۲۶۰ |
| نوې سا | ۲۶۱ |
| د زړه قصه | ۲۶۲ |
| د زړه کور | ۲۶۲ |
| د بهار په لوری | ۲۶۳ |
| اصلي رنګ | ۲۶۴ |
| دار | ۲۶۴ |
| د افغان فخر | ۲۶۵ |
| فاصله | ۲۶۶ |
| ولایت | ۲۶۶ |
| رشته | ۲۶۷ |
| د روس بار | ۲۶۷ |
| د شهید وینه | ۲۶۸ |
| پلی نوم | ۲۶۸ |
| صرام | ۲۶۹ |
| د سپیدو خنجر | ۲۶۹ |
| لفظي بشر دوستان | ۲۷۰ |
| حراوتونه | ۲۷۰ |
| د پڅواك پڅواك | ۲۷۱ |
| آسیا | ۲۷۱ |
| قدموته | ۲۷۲ |
| ائتلاف | ۲۷۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

له کومه وخت نه چې په افغانستان کښې د کمونستي وحشت له لاسه د اور، وينو، وېرې او وير سلسله را نښلېدلې ده، له هماغه وخته زما د شعر دنيا هم د اورونو او وينو په حلقه کښې راګيره شوې او د يوه مظلوم ملت د اوښکو او زګېرويو او په عين حال کښې د يوه مغرور ملت د بهادريو او تکبيرونو چيغې په خپله غېږه کښې رانغاړي.

څو کاله پخوا ما د جهاد له فرهنګي سنګره "اورونه او وينونه" نشر کړل او خپل غمونه او دردونه مې له خپل غمځپلي او دردمن ملت سره شريک کړل دوی هم په مينه واورېدل، د وسله وال سنګر غازيانو هم ونغوښتل او ازانګه يې هم را ورسېدل.

ما په «اورونه او وينونه» باندې د هېواد د لوی مبارز او مجاهد ليکوال او پياوړي شاعر او اديب استاد عبدالرحمن «پژواک» نه نظر غوښتی و، دوی په زړه ور او ناروغ ځان تکليف وکاله او ارزښتناکه مقدمه يې پرې وليکله، ما غوښتل دا مقدمه د «اورونه او وينونه» له دوهم چاپ سره خپره کړم خو د «اورونه او وينونه» تر چاپ وروسته مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاد نور شعرونه هم ویلي دي او دا مې چې پرېږ ور زیات کړل
یوه بله مجموعه ترې جوړه شوه نو ځکه مې ددې مجموعې نوم
«بلې او ګولۍ» کېښود او د استاد پژواك دا ارځستنا که لیکنه
مې یې په سر کښې راوړه او هم مې د ادبي دوستانو هغه لیکنې
چې په «اوروونه او ویرونه» یې د نثر او د نظم په بڼه کښلې وې
ورسره ملې کړې او ورسره مې د اوروونه او ویرونه کتاب د سریزې
یوه برخه چې د «اوراو ویر داستان» دی
په دې مجموعه کښې راوړه او دا دي خپل جهادي شعرونه له
۱۳۵۷ کال نه تر ۱۳٦۵ کال پورې د «بلې او ګولۍ» په نوم ستاسو
درنو لوستونکو مجاهدو او مهاجرو ورونو ځې تر بندم او خپل
ګله درونه درد درسره سپکوم!

په مینه

ح - رفیع

پېښور - فقیرآباد

۱۳٦۵/۱۱/۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

بقلم استاد پژواک :

# یاحق!

از کیان ما دگر شهنامه ها نتوان سرود
بعد ازین خواهیم گفت آوارگانی داشتم

نازیدن به کیان برای فرزندان کشوری باستانی مانند افغانستان در میان عواطف پاك سرمدی یک احساس فطری و ابدیست ، چندان که انسان آرزومند است بعد از مرگ در وطن خودش بخاک سپرده شود . و اما چنانکه همه آوارگی ها یکسان نیستند همه آوارگان را نیز نمیتوان همسان شمرد . این چندگونگی در میان کیان هم هست : آنانیکه بنام شان باید نازید و آنانیکه نام شان مایهٔ ننگ است .

درود بر ارواح پاك آن آوارگانی که کودکان و فرزندان برهنه وگرسنهٔ شانرا در غربت گذاشته به وطن باز گشتند ، با دشمن جنگیدند وجز کارنامه و سرافشان میراثی نگذاشتند و درود بر آوارگانی پی آنانرا میگیرند و سنت مقدس شهیدان راه حق و آزادی ، جهاد و مبارزهٔ ملی را فرض عین میدانند جان می سپارند

(c) ketabton.com: The Digital Library



وراه ابدیت می سپرند .

همچنان

درود بر آوارگانی که باخامه و زبان مبارزه میکنند وبا فکر و بیان در دفاع از نوامیس معنوي وملي جان می کنند، اشعار شان سرود غازیان ، مرثیهٔ شهیدان ، زمزمهٔ بیوگان ونوازندهٔ یتیمان است ، اینها تلامید رحمان هستند .

خوشال خان ختک آن مرد بزرگ ملی با خامه و شمشیر جنگید . خود شمشیری بود در دست زمان خویش که قدرت او را در افق شهامت ملت افغان در برابر بیگانگان آخته بود . هنگامیکه آفتاب زندگانی وی نشست و آن تیغ برهنه در غلاف خاک گزارده شد قریحهٔ جاوید وخامهٔ سرمدیت آفرین وی کارنامه های سر افشان او وسربازان شهسوار هرکاب او را بر جریدهٔ روزگار و برگ های اعصار نبشت وبر لوحهٔ فرخندهٔ وآفرین فخر نامهٔ ملت او رسم کرد ، ارژنگ نگارینی که حواشی آن با خون کشتگان راه آزادی مزین است ، نگاری که نخواهد زدود و رنگی که نخواهد خشکود .

اگر قلم ها نبودی چشم معنویت ملت افغان آن علم ها را برافراشته ندیدی و برخود نگری های مقدس خویش روشن

(c) ketabton.com: The Digital Library



نماندی .

کتاب « ایرونه او ویرونه » اثر منظوم حبیب الله رفیع همینکه بمن رسید مانند همه آثار شعرای ملی مرا ساعت ها مشغول نگهداشت و در تنهایی های تاریک دوراز وطن بمن تسلی بخشید که الحمدلله درست آموخته بودم که روح آزاد اسیر نمیشود و خون شهید نه می خشکد . سرافشان غازیان زنگ وملت افغان ننگ نمی پذیرند .

من با رفیع در آوان مصیبت آشنا شدم . آشنائی در مصیبت رشتهٔ همدردی است که دلهای درد دیده را باهم می پیوندد . درینگونه آشنائی حقایق تلخ و دشـــوار در همه چشمان بیک گونه جلوه می کنند و همه دست هائیکه همدیگر را می فشارند بیک ریسمان چنگ می زنند . آشنایان همدرد دوستان همسنگر میشوند .

رفیع را جوانی یافتم صمیم . اعتماد من بر این پندار یک احساس گوارا و یک امید شایان پرورش بود . پیرمردان درینگونه احوال خویشتن را با چشمان جویندهٔ آرزوهای خود شان ، بویژهٔ آرزوهائیکه خود توان بر آوردن آنرا ندارند ، در روح جوانان می بینند که هرچند تنها بر سیمای شـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



آشنا شده اند با دلهای شان نا آشنا نیستند .

هر هنرور یک شخصیت دارد که کم یا بیش در هنر وی هویدا میشود . اگرچه چون کلیه اگر نایاب نباشد فراوان کمیاب است نمیتوان این گفته را کلیه خواند زیرا گویندگانی را می شناسیم که در قصاید خویش گدایان طماع هستند و در غزلهای خویش در ادعای مناعت و قناعت غلو میکنند و نیز هستند کسانی که قهرمان پرست اند و معصومانه آدمپرستی میکنند . ارتباط هنر و هنرور حقیقتی است که نمیتوان باختصار و اجمال بآن پرداخت که آنگاه نیز نمیتوان از دریافتن حقایق مطمئن بود .

در نظر من صمیمیت رفیع در اشعار او نمایان است و نیز « ایرونه از ویرونه » سراپا بیانگر آلام و مصائبی است که ناگزیر شعرای دورهٔ مصیبت عظمای ملی را همه گانی صمیم و حقیقت گو نگهمیداشت زیرا همهٔ شان شاهدان عینی حقیقت های عجیبتر از افسانه هستند .

رفیع تنها شاعر نیست . جوانیست طالب العلم و دانشجو . احساسات و عواطف جوانی او را دانش و معرفت وی هدایت میکند و به ساحهٔ وسعت نظر رهنمون میگردد . رفیع مسلمان و افغان است از ینرو « ایرونه او ویرونه » مجموعه ای از مناجات و حماسه های ملی است . باتوکل و ایمان یک جوان مؤمن و باعقیده و باور به شهامت ملت افغان سخن

(c) ketabton.com: The Digital Library



میگوید . آنچه خودش در آغاز کتاب در « داستان اورو ویر» نوشته است محلی برای شرح مزید نمیگذارد . اما باید بافزایم در اینکه میگوید این اشعار او کیف ادبی ندارد تواضع میکند . نظم و نثر او کیف ادبی دارد بویژه که لهجهٔ وردکی از مزایای خاص بهره منداست که زادهٔ بر کنار بودن آن در قلب افغانستان از تاثیرات زبانهای دیگر در شرق و غرب حتی جنوب کشور است.

رفیع در تصویر مصایب و شهامت غازیان و مبارزین ملی قیام عام و تام ملت افغان را در سرتاسر کشور تمثیل میکند و پاس تقدس وحدت ملی را بحد اعلی نگهمیدارد و بهر دو زبان مردم خود سخن می سراید.

پیشتر از حقیقت پسندی شعرای دورهٔ مصیبت سخن کردیم ، حقیقت را شناختن ، آنرا پسندیدن و برگزیدن کار متفکرین است . این امر دماغ انسان است . ربط آن با روحیهٔ انسان بویژه گویندگان شایان اعتناست . روح ناتوان از کشف حقایق تلخ و دشوار که کار دماغ است متاثر می شود و به آنچه آنرا بدبینی می گویند می گراید و اما روح توانا و نیرومند در برابر آن قیام می کند و به اصطلاح خوشبین می باید .

من از ستایشگران حقیقت پسندان خوشبین هستم یا آنکه میخواهم باشم . رفیع را به این گروه اخیر منسوب میدانم . چون مؤمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



است از رحمت خدا نومید نمی شود. وچون افغان است به اندیشهٔ ناکامی تن در نمی دهد. اکثر اشعار وی به پیام پیروزی به مقطع میرسد و پایان شب سیاه را سپید می سازد.

میگوید:...

نه باوري يم چې دا کېږي
او ډېر ژر کېږي ....

روحیهٔ این باور در اکثر اشعار رفیع نمایان است وچنان مینماید که میترسد مبادا خوانندهٔ خود را بتاریکی مناظر مصیبت ملی برده باشد ومی شتابد که شمعی از امید بافروزد و اورا بروشنی های پیروزی برآلام رهبر شود. من مسرورهستم که خود را بااین شاعرجوان ملی باهمه ناتوانی و پیری همنوا می یابم:

آن کشور بامی که خراسان جهان بود
از شامت بد یکدود می تیره چو شام است

ایندم چو خسوفیست که تاچشم زنی، باز
خورشید ببینی که فرا از لب بام است

امید من آنست که نومید نگردی
زیراک چو نومید شدی کار تمام است

در پارچهٔ زیبای د «آزادی شپې» نیز روح آرزومند شاعر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چون سپیدهٔ امید در افق تیرهٔ حوادث سیاه و شوم تبسم میکند و بر هنگامه های هولناک می خندد و از پیروزی روشنائی بر ظلمت و غلبهٔ حق بر باطل نوید میدهد.

هنگامیکه من این پارچه را خواندم پنداشتم برمزار شهیدی ایستاده ام که از خاك او گل سرخ روییده است و سکوت ژرف مرا به ثنا و درود وامیدارد. ربط این احساس روحی با شعر از مجهولات است و آنرا باید در ورای بینش و دانش خویش جستجو کنیم. آیا می توانیم به این سؤال که « رابطهٔ آب و گوهر چیست؟» پاسخ بگوئیم؟! شاید دردی که دل مرا فرامیگیرد و رنجی که روح مرا می آزارد زادهٔ حزن و سوگ نیست و احساس حقیقتی است که بر سعادت و شهامت آن شهید کرامت که رفیع در بارهٔ وی سخن میکند، رشک می برم:

د شهید وینه به رنګونه راوړي
د امید وګلان به وغــــوړېږي

یاآنکه می پندارم در پهلوی آرزوی راستین خویش ایستاده ام، خواستهٔ بهین خود را می بینم و در برابر آمال آفرین خویش جا گرفته ام امّا نمیتوانم بر آن برسم. چندانکه دامن آرزوها و امیدها دراز میگردد دست من کوتاه میشود زیرا هنوز زنده هستم و با

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرشکسته بال پریده در فضائیکه پهنای آن خلای میان زندگی ومرگ است پر افشان میکوشم این جوتهی را با نفس های آخرین خویش پر کنم و ذره های خاک را با منقار پریدهٔ خویش ببوسم.

این شعر مانند اکثر اشعار رفیع از سلاست و روانی بهره مند است و رشتهٔ آن گره ندارد بدرستیکه:

آب بود معنی روشن کلیم
خوب اگر بسته شود گوهر است

اکثر شعرای زبان پښتو در عصریکه من به آن تعلق داشته ام شاعران طبیعی بوده و هستند.

این گفته تا حد زیادی در بارهٔ شعرای عالم و ادیب پشتو و شعرائیکه کمتر سواد داشته ویا بیسواد بوده اند درست است. در گروه اول سخن آفرین آفرین سخن گل پاچا الفت و در گروه دوم شاعر مست و ملنګ ملنګ جان را میتوان مثال اعلی خواند. شعر رفیع نیز از تکلف آزاد است وطبع او را می شاید خداداد قلم داد.

داوګړي پرکړي خدایه!

عبدالرحمن پژواک

مه/ ۱۹۸۵ واشنګټن

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښاغلي محمد صديق پسرلی ليکنه:

# اوږونه او ويرونه

د روان جهاد په دوران کښې که شاه لمو توري ټوپک ته لاس او سينې يې د ملحد دښمن مرميو ته ډال کړې، د قلم خاوندان هم د دوی نه بې تفاوته نه دي پاتې شوي. په زرګونو شعرونه، مقالې او په سلګونو رسالې او کتابونه د جهاد په ارتباط وليکل شول چې يوه لويه برخه ممکن خپره شوې هم وي. د چاپ شويو آثارو په اعتبار دا ويلای شو چې د نن پرون ادبيات به مونږ د راتلونکو نمانو کښې په ګوښې تله تلل کيږي لکه څرنګه چې له يوه ډېر ستوماننيکې تاريخي پړاو څخه عملاً تيريږو دغه شان ادبيات هم په بل مرحله کښې دي.

هره دوره ډېر آثار او ادبيات منځ ته راوړي چې ځينې يې د کميت او کيفيت له مخې ډېر غني وي. تر او سه خو او سنۍ دوره د کميت په لحاظ ډېره د توجه وړ ده او د اوچت کيفيت له پلوه هم د ګوتو د شمېر آثار په لاس راغلي دي چې يو يې هم دغه د محترم ورور حاجي حبيب الله رفيع صاحب د جلا دي شعرونو مجموعه ده چې د «اوږونه او ويرونه» په نوم خپره شوې ده. رفيع صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو تکړه لیکوال - ښه محقق او حساس شاعر دی ، چې پښتنو ګلوي
ته یې ضرورت نشته او لنډ به یې د کتاب پاملنې سره ولېږوو
« اوړونه او ویړونه » په دوه سوه دوو مخونو کښې په وړه
قطع په درې ورسلیو ورځو کښې چاپ شوی دی . کتاب د اشعارو
د نوعیت په لحاظ پنځه برخې دی : نظمونه ، آزاد شعرونه ، قصیدې ،
غزلې او ټوټې .

دده دا اثر هم د دوی د نورو آثارو په څېر خوندور او
ارزښتناک دی . ډېر پاخه نظمونه او نازک خیالونه یې په مختلفو
قالبونو کښې ځای کړي دي . که یې د « لمر څېره » او د « وینو بهیر »
د پخوالي معیار وګڼو نو د « ژوبنې ترانه » او قطعات یې له ډېرو
سو طنزونو ډک دي او په الفاظو یې هم ښې لوبې ورسره کړې دي .

د کتاب سریزه ډېره خوږه ده ، د غوایي د الې ټوټې د ناڅاپي
پېښې ښه عکاسي یې کړې ده ، یعنې هم مطلب ښه جوت شوی دی ، هم د
نثر خوږوالی او جمله بندي په ځانګړي ډول او سبک سړی ځانته
متوجه کوي .

آزاد نظمونه یې هم تر ډېره حده کامیاب دي ، د جهاد
مسأله هغه هم په آزادو نوی شعر د هر چا کار نه دی ، د ښاغلی رفیع
غونډې تکړه ادیب پکښې خوند او رنګ پیدا کولای شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښاغلی محمد روحاني رڅویا لیکنه:

# اوړونه او ویرونه

روان سپېڅلی جهاد هومره چې غمونه او زخمونه لري هومره خوښۍ او بریالیتوبونه لري، هومره چې توري او ډالونه لري، هومره قلم او کتابونه لري. په هیواد کښې د یرغلګرو د اوړونو اوړول او ډیره ملت هستي لوټول او انسان وژل د هر انسان زړه ریږدوي او دې د خونړۍ فاجعې تریخ یاد به د تل له پاره په سرو وینو د تاریخ په تندي پاتې وي. خو هغسې چې تاریخ تل مخ پر وړاندې ځي او دنیا بدلون مومي د افغان ملت توري هم لا په ځلیدو شوې لړ او بړ، نو او ښځه را پاڅیدل او ملي پاڅونونه او غورځنګونه یې پیل او رامنځ ته کړل او په ټول افغانستان کښې یو ستر انقلاب د بشپړ خلاصون له پاره دادی مخ په وړاندې ځي او بشپړ هڅه دی چې زمونږ د سپیڅلي ایمان په مرسته به ښکیلاکګران هیواد استقلال بیا تر لاسه کوو.

د افغانستان د ملت بریالیتوبونه یوازې په تورو جبهو او جګړو پورې ولاړ، بلکې قلمي جهاد، علمي، ادبي او هنري هلې ځلې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره مل دی . دا هغې ځلېدونکو پرياليتوبونو ځنه دي چې زمونږ درنو ليکوالو، شاعرانو، اديبانو او هنرمندانو خپل ګران ملت ته وړاندې کړي ، خپلو هراړخيزو هڅو ته په پوره حوصلې سره دوام ورکوي او په روان سپېڅلي جهاد کښې پوره ونډه اخلي .

« اورونه او ويرونه » هم يوه برياليه ونډه ده ، د شعرونو په ټولګه پورې مجموعه ده ، د تېرو اوو غملړلو کلونو محصول ده . «اورونه او ويرونه» د چا اثر دی ؟

.... وايي چې په ۱۹۴۴ کال کښې الماني فاشيستانو پاريس نيولی ؤ ، نوميالی نقاش او انځورګر « پيکاسو» هم په پاريس کښې کار او ژوند کاوه . يو شمېره صاحب منصبان دده نندارتون ته ورتلل او دده د آثارو ننداره يې کوله . « پيکاسو» برسېره هر يوه ته د «ګرانيکا» تابلو ورښودله (ګرانيکا د اسپانيې يو ښار دی چې آلماني پرغلګرو بېخي وران کړی او له منځه وړی ؤ ) . يوه ورځ د ګزمې يو صاحب منصب نندارتون ته ورغی او د «ګرانيکا» تابلو ته يې پام شو، نو له پيکاسو ځنه يې پوښتنه وکړه : «آيا دا ستا اثر دی؟» او پيکاسو ځواب ورکړ : « نه ! دا ستاسو اثر دی ! »

« اورونه او ويرونه » هم هغه تابلو ده چې د روسانو د يرغل او ورانکاريو آثار پکښې پراته دي، د هېواد لوړ شاعر، اديب او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال حبیب الله رفیع دا آثار د خپل لوړ هنرمندانه ذوق په مرسته راټول کړي دي ، د خپل خوږین زړه دردونه او سوي غږ انګازې یې ورسره مل کړې او یوه ښکلې مجموعه چې انسان ته امید ور وبخښي او دبرې زېرې ، ترې جوړه شوې ده .

دا مجموعه "د دین او د وطن د لارې د سلهاوو زړو سپېڅلو شهیدانو په نوم " وړاندې شوې . د " اور" او " وېر " داستان تر عنوان لاندې د غوایي د اوومې نېټې ورځ یې پکښې ترسیم کړې ، په دې داستان کښې لوستونکی لاس نیولی د کابل په ښار ګرځوي او د کمونستانو بې رحمي ، ناروا او هېواد پلورنه تګي په تګي ورته ښیي . او په پای کښې زېرې ورکوي چې : " زموږ د مېړنی ملت ایمان داړ راکوي چې دښمن نه به امان ورنه کړي . "

دا مجموعه په پنځو برخو وېشله شوې : " لنطونه " ، " آزاد شعره " ، " قصیدې " ، " غزلې " او " توکې " پکښې رانغاړل شوي دي ، دا کتاب د مهاجرت په شرایطو کښې د " امان کتاب " پنځم توک دی ، او ښکلی چاپ شوی او د ښاغلی شاه محمود پتنګ خطاطي هم د یادولو وړ ده چې کتاب ته یې خاصه رنګیني ور په برخه کړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



درنو لوستونکو! دا بنکلې مجموعه د لوستلو ده ، د ساتلو ده او د وېشلو ده ، دا مجموعه ولولئ ، د شاعر د شعري ولولو او حقيقي جذبو سره شريك شئ .

موږ هيله من يو چې د سپېڅلي جهاد پانګې به لا پراخې او وړانګې بر لا خورې کېږي . د ادب مينه وال د ښاغلي حبيب الله رفيع د نورو علمي او ادبي وړانګو درسېدو په تمه شېبې شمېري.

روحاني

نيويارك ۱۹۸۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښاغلی شهرت ننګیال لیکنه

# "سکروټې" "اوروونه" "شول او" ویرونه"

کوم« سکروټې» چې له نن نه ۱۸ کاله د محمد رفیع صاحب هغه وخت چې د خلق منډوره ګوند د ودکا په بد مستۍ کښې د کمونیزم بې سراوتاله "ساز" ته نڅا پیل کړې وه بلې کړې وې نن اوروونه ګرځیدلي چې لمبې یې له تېرو اتو کلونو را هیسې په غرغړو دي .

هو سکروټې د رفیع صاحب لومړنی چاپي اثر او شعري مجموعه ده چې د لومړي ځل له پاره یې د مطبوعاتو پر آسمان د هوښدار او د خطر زنګ په توګه هغه وخت د تېرو ځان بایللو رژیمونو د بې بصیرته او بې غوره په تیاره کښې د روسي کمونیزم استعماري فعالیت د « خلق » په نامه پیل شو ، وځلولې او بیا یې له پنځوس هوکو زیات ځانګړې آثار او په سوونو مقالې ولیکلې او خپرې کړې .

او بیا چې هیواد د کمونیزم بربنځو او وحشي روسانو وران کړ ، ویې سوځاوه او ښکلې ښنې دړې یې تاڼکونو غوبل او بمونو وسوځولې ، « سکروټې » بیا ژبغړانده شوې ، د مقاومت اوروونه شول او ورسره ویرونه هم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو! حساس شاعر نه یوازې د ټولنې عیني او ذهني زېږنده شرایطو او چاپېریال نه الهام اخلي او انځوروي یې بلکه وړاندې او وروسته هم څو نظر کوي « تېر یادونه » هېرېدو ته نه پرېږدي او د راتلونکي اټکل کوي او تا بیا . . .

رفیع صاحب د خپلې اوږدې ځلاندې ادبي او مطبوعاتي سابقې په لړ کښې د فولکلور، ادب، تاریخ څېړنې، کتاب ښودنې او د ادب پر تحقیقي او تخلیقي وربل ډېر په زړه پورې، ښکلي او رنګارنګ ګلان ټولمبلي دي چې د هېواد ادبي، تاریخي، او تحقیقي خپرونې، جراید، ورځپاڼې، مجلې کالنۍ پرې ډکې دي او ګواه .

خو د ښاغلی رفیع په جهادي لیکنو، څېړنو، ټوټو او اشعارو کښې چې ټوم سوز، کوم خوند او کوم کیف پروت دی هغه د جهاد د وږمې پر اخر جبهې پوخ سنګر ګڼلی شي او پیاوړی مورچل - او له دغه جبهې او دغه سنګر څخه د دین او وطن د ښمنانو ډېر کاري ګوزارونه خوړلي او لا خوري به یې .

« اورونه او ویرونه » د محترم رفیع د جهادي اشعارو ژنګینه ګېډۍ ده چې د « تصویر »، « انجام »، « زندان »، « د وینو بهیر » « د شمال له خواشمال دی » له ښایسته او زړه وړونکو ګلانو نه جوړه شوې ده . دغه ګېډۍ د شعر د هرې څانګې لکه آزاد شعر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظم ، غزل ، قطعو او قصیدو له رنګینو ګلانو ترکیب موندلی دی، او بیا ددې ټولګه هر یو ټکل: « تصویر » ، « انجام » ، « زندان » ، « د وینو بهیر » ، « د شمال له خوا شمال دی » بیل-بیل په ځانګړې توګه د چاپ یوه ښایسته او موزون لاس ته لویدلي چې دغه شمهر رفیع صاحب په یوه وار شپږ ارځښتمن او معیاري آثار د جهاد مطبوعاتي څولحه تر ورغوړځولي دي .

محترم رفیع صاحب چې پر « اوروته او ویروته » کومه عالمانه او دیوه ځانګړې آهنګ لرونکي نثر مقدمه لیکلې ده ، سربېره پر دې چې دیوه نوي ادبي او خوندور نثري سبک لاربې پرانستلې ده ، یو مستند او ځانګړې تاریخ هم ګڼل شي . او زما پیشنهاد دادی چې ددغه خوانه ادبي نثر مقدمه نوره هم وغځوي ، او د اوروتو ، ویروتو ، وینو او ویرې دغه رښتینې داستان نور هم پسې اوږد کا او ځانګړې تاریخ .

« اوروته او ویروته » ، « تصویر » ، « انجام » ، « د وینو بهیر » ، « زندان » او « د شمال له خوا شمال دی » آثار و کښې د رفیع صاحب مذهبي ټینګه عقیده ، وطن دوستي ، بې آلایښه درونډ شخصیت ، ادبي قدرت او د زړه سوز او درد ښیله ځان ښکاره کوي ، داسې چې بیا د چا د تهمت ، حسد ، ناوړه او ناروا تبلیغاتو په پرده کښې نشي پټیدلی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی څښتن تعالیٰ دې ده ته نور هم توفیق، صحت او اوږد عمر ورپه برخه کاندې چې د خپل مؤمن، مجاهد او ننګیال اولس د جهاد حماسې او کارنامې وکاږي او انځور او د خپلو ادبي او فرهنګي ارزښتناکه خدمتونو لړۍ نوره هم وغځوي.

ومن الله التوفیق

ننګیال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بناغلي عبدالباري جهاني وينا :

# منظوم ليک

ما د پښتو د خوږ ژبي شاعر ګران ورور « جهانی » په نوم امريکي ته « اورونه او ويرونه » ورلېږلي وو او د خط د نه راليږلو ګيله هم ورسره . او دوی هم مهرباني کړې وه زما ليک ته یې ځواب او زما ګيلې ته یې منظوم غبرګون راليږلی ؤ . دا غبرګون د « اورونه او ويرونه » په باب ؤ نو ځکه یې دلته سره لولو :

***

زړه ته را تېره ګيله منه آشنا
ستا له خوږو - خوږو ګيلو ځکه ځم
ستا له سپېځلو اوښکو قربان
ستا له ويرجنو ترانو ځکه ځم

ستا د اورونو او ويرونو بهير
نه سوځولی ، ژړولی يمه
ستا د نودو ويرجنو چيغو آواز
له درانه خوبه پاڅولی يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته باوري يې چې دا سرې وينې بر
نن کړ سباوي چېرته رنګين راوړې
د آزادۍ د ناوې لاس به سره کا
د مستۍ بزم به په شرنګ راوړي

ما د هلمند سره د حال په ژبه
کيسې د فتحې د جشنونو کړې
مايې ليدلي دي ياغي خوبونه
ما سلسلې د تعبيرونو کړې

ته وايې مه غواړه له مانه مستي
ژوندى جهان دى تو پانو ځپلى
ستا ځنځيرې هم دي د پايزيب شرنګهار
وحشي لښکرو دې کورګي وهلى

مالا پخوا دا خزانې قافلې
د خيل ژوندون پرمنزل وابولې
هېر مې کړه ته وله د ځوانۍ يادونه
هيلې مې هم ټولې نابنا دې شولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یو ناکامه نابلده سفر
د پردو غېږې ته راوړې یمه
دلته پوښتنه د دردونو نشته
زه بې دردیو ګونګی کړی یمه

زما د احساس په تال کښې ورکې نغمې
د دې محفل د اورېدلو نه دي
زما د ګونګی ژبې خاموشې چیغې
دلته د چا د پوهېدلو نه دي

دلته یوې رڼښتینې کړیکې سره
د تزویرونو جهان وخوځېږي
چا به لا سترګې د پولې نه وي
دلته زړګونې اوښکې وبهېږي

زه یو پردیس یو نا امیده شاعر
زما اسویلي د اورېدلو نه دي
زه د نصیب ښکاري ویشتلی مرغه
نو زمې وزر د الوتلو نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د خیالونو دنیا ونړېده
خو جهاني نړۍ جهان پاته دی
زما د آرزو پسرلی ورژېدی
نړۍ نسیم، نړۍ باغوان پاته دی

زړه ته راتېره کېله منه آشنا!
ستا له خوږو - خوږو ګیلو ګرځم!
ستاله سپېڅلو اســویلیو قربان
ستا له ویرجنو ترانو ګـرځم!

عبدالباري جهاني
واشنګټن
۱۹۸۵/۳/۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بناغلی شیخ نورعلی نور وینا :

# بریښ

زما ګران دوست شیخ نورعلی نوّر چې د پښتو حساس او دردمن شاعر او زموږ له خواخوږو انصار و څخه دی، تل د افغانستان په ویر او ښکلې توپوي او له موږ سره عمرازي کوي. لاندینی آزاد نظم ده د « اوږونډ او ویږونه» په ارتباط ویلی او رالیږلی، که څه هم زه یې له شاعرانه مبالغو او اغراق سره موافق نه یم خو دده د مینې او اخلاص له امله یې دلته راوړم !

***

د پښتو ځلنده نمر دی

سمندر دی

داد علم

خزانه ده

فرزانه ده

یوکلتور دی

مناره ده د ادب

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ظلمت تورو تیارو لره
رڼا ده
یو بریښنا ده
هغه ځړیکه، هغه «بریښ» دی
چې وحشت هم
ترې وحشت خوري

***

د ادب د آسمان ستوری
رهنما
د ګمراهانو
لار ښود
د عالمانو
دده ژوندیو فلسفه ده
یو څېړنیو لټون دی
تجربه ده
انقلاب دی
زلزله ده
د وحدت یوه نعره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو استاد دی

یو پوهاند دی

یو جهان دی

یوه پانهٔ د تاریخ ده

* * *

یو دردمند عوږندې انسان دی

یو بلبل دی

د خزان وهلي

گلستان بلبل

کوي فریاد

څو د هغو گلونو

چې :

بې موسمه دي خزان وهلي

هغه گلونه

چې په تود باد هم لیدلی نهٔ

نهٔ پرې اورونه

له آسمانه اوري

هغه غوټۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د سبا نسیم

هم لا سنګل کړې نه وي

نه دوحشت

پنجو کښې دل شوي

پاڅې - پاڅې شوي

ذره - ذره شوي

* * *

دا د افسوس

نغمه چې اورمه زه

د سوز او درده ډکه

دغه د چا د زړه د کومې آواز

چې مې تر غوږو راځي

د چا آواز دی دا

څرنګه سان دی دا

که سمندر

په غور ځنګونو باندې سر دی

که آسمان جوش کښې راغلی دی غرهېږي

دا څه آورمه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څه دي ؟
دا ته ښکارېږي ترانه ده
چې غږېږي
د تورخم نه پورې غاړه
د افغانستان
د دنګو غرونو په سر
خو :
دا ترانه د چا ده
دا سې له سوز نه ډکه
په آورېدو لې
چې کائینات
دا سې جوته وخوړه
هن :
دا خو د "برېښ" نغمه ده
چې پرې د غزه څوکه کښې
خوشحال هم
خپل خوب من نړه تر
دلاسه ورکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوړې شومه

دا د سوزه ډکه

د « رفیع » نغـمه ده !

شیخ نورعلی نور

بهادر کلی - پېښور

۱۸/۵/۸۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې خبرې :

# د اور او ویر داستان

ورځې او شپې د زمان تسپې دي ، له همدې ورځو نه هفتې او میاشتې جوړېږي او کلونه او پېړۍ ، موږ د همدې شپو او ورځو په وسیله د زمان بدلون شمېرو او د تاریخ یون .

د ۱۳۵۷ کال د غوایي اوومه نېټه هم د زمان د ناپایاوه سمندر په غېږ کښې یوه ورځ وه او یوه د شپېلو مهره . د دې ورځې لمر د سر وهلو په وخت مړه بڼه درلوده او خونړۍ ؛ چې د افغان په هسک کښې یې د یوې « سرې ورځې » ښکارندویي کوله او زموږ په « پلټرلیک » کښې یې د یوې تورې ورځې څرګندویي .

لمر هسک راغلی و ، خونړی هسک ، د سهار کاروانه نوي پیل شوي وو او دفترونه نوي پرانستلي . د کابل ښار په څو عسکري قشلو کښې د ماشینګنو ډزو او بیا د ټانکونو غورهار د عسکري آرامې فضاء سکوت مات کې او ددې منظم نظام نظم یې ګډوډ . . .

د هیواد پالو افسرانو تر سینو ګولۍ ووتلې او د څرخي پله د زغورو قواؤ له اوسپینزې کلا نه د ټانکونو بهیر را روان شو ، د بالاحصار

(c) ketabton.com: The Digital Library



داستاني حصار ته اور ورته کړ شو او د «ملي دفاع» د وزارت نړۍ د «۸۱۵» نومره ټانک ګولۍ سوری کړ . .

راډیو افغانستان غمجنه خپرونه نوې پیل کړې وه ، دوې درې سندرې یې نوې خلاصې کړې وې چې ټانکونه پرې ورننوتل او د «عزبند» امر یې ورکړ ، د خوښې نغمې غلې شوې او د راډیو په څپو یو ویرجن سکوت خور .

ارګ تر اور لاندې ونیول شو ، مغرور «داؤدخان» د خپلو بې کفایته ملګرو په حلقه کښې بې تدبیره شو . هرې خوا ته یې هڅې وکړې خو هڅوک یې د «زارستان» پر وخت په کار نه شول او هیڅ د امید لوری یې ونه موند ، هڅې یې بې ګټې شوې او تکلونه یې بې نتیجې .

زه له تېر ماښام راسې خواشینی وم ، ځکه په همدې شپه د هېواد یو مشهور لیکوال مړ او یو پیاوړی ادیب ؛ د هېواد نامتو قلمي څېره محمد ارسلان «سلیمي» بنیم ؛ زه پر هاغه سهار د دې لیکوال په جنازه تللی وم ، د ماسپښین دوې دوې نیمې بجې وې چې بېرته ښار ته راغبرګ شوم ، «میرویس میدان» ته چې را ورسېدم د وضعې اکر بکر بدل ښکارېدل ، ټکسي والانو په تېرو خبرو کولې خو یوه ټکسي وان را واخیستلم ، د پولي تخنیک په څنګ کښې ټانکونه ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، نه پوهېږم ولې ډېر شوی وم، په بیړه مې ځان کوټې ته ورساوه، کوټې ته چې ورننوتم د وږو مور په وارخطایی راته وویل:
«کوډتا شوې؟» ما په ډاډمنه لهجه ورته وویل: «چا کړې؟ څوک کوډتا کولی شي؟» هغې وویل: «وایي خلقیانو کوډتا کړې! دا دې راډیو خبرې نه کوي!...» او راډیو مې یې مخې ته کېښوده، د راډیو پېچونه مې تاو راتاو کړل هغه نه غږېده، دوه درې بجې به شوې وې، ډموبم کوز د «باغ بالا» د لوړې غره په لمنه کېښې وُ، پر تخت بام کېښناستم، ډوډۍ یې راوړه، اشتها مې سوځېدلې وه، وارخطا شوی وم، خو مې ورته خوښه لای شول، د هغه ماسپښین غلی او رنګ الوتلی پر څوکۍ ناست وم چې دوې جیټ الوتکې رابنکاره شوې، په کابل ښار یې دوره ووهله او بیا یې د «خواجه رواش» په هوایی ډګر بمونه واورول او د الوتکو «الوت کوښه» یې ورانه کړه، ما دا هر څه په غوږلو سترګو لیدل او د بت غوندې ورته ناست وم.

د الوتکو د الوتنې چټکې شوې، ارګ هم بمبارې شو، په قرغه او قوای مرکز هم بمبارې وشوه او په نور ښار هم.

لوړ مانېګر وُ، له کوره راووتم، «پروان مېنې» ته رابنکته شوم، هلته مې د یو دوست کور وُ، هغه د راډیو افغانستان مامور

(c) ketabton.com: The Digital Library



وُ ، دی هم په کور کښې رنګ الوتلی او زبېښلی ناست وُ ، د پښتو پوښتنه مې ترې وکړه ، ویل : « عسکري کودتا شوې ، په پاو باندې دوولس بجو راډیو محاصره شوه او مونږ یې ترې را وایستلو ! » .

د ماښام خړه را خورېدونکې وه چې د دوست له کوره مې راووتم او د "باغ بالا" په لور پلی را روان شوم ، د "بهارستان سینما ،، په مخه کښې چـــــرتي روان وُم ، د خلکو ګڼه ګوڼه نه وه ، هیڅوک نه ښکارېدل ، ټول خلک په کورو ننوتلي وو ، د سینما په مخه کښې یو خیرن پیرن هلک ولاړ وُ ، خړې جامې یې اغوستې او یو خړ شادر یې په اوږه وُ ، غږ یې راته وکړ : « مه راځه ! » ، نه ور روان وُم ، رامنډه یې کړه ، په وحشت یې غږ رانه وغړخوله ماهم بې اختیاره لاس ورواچاوه ، بېرته یې ژر پرېښودم او ترې روان شوم له روانېدو سره پوه شوم چې دا « خلقي ځوان » وُ چې د دوی د ناروا قدرت له پیل سره د وحشت د تمرین قومانده ورکړه شوې وه .

بېرته چې کور ته راورسېدم په راډیو کښې مستې نغمې پیل شوې وې ، همدا نغمې مونږ د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ په شپږ ویشتم سهار هم اورېدلې وې ، خو هغه وخت ډېرې خوندورې او خوږې وې او نن ډېرې دردوونکې او ویرمنې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو شیبې وروسته راډیو د خونړیو او وحشیانه کودتا بریالیتوب اعلان کړ او د «خلق» هغه رټل شوې کلمه یې چې زموږ په خپرونو او راډیو کښې یې ځای نه درلود، په وار ــ وار لاندې باندې کړه .

د توپونو ډزې او د الوتکو بمبارۍ همداسې روانه وه ، پر آسمان هم له ماښام سره تورې وریځې را خورې شوې وې او د ویرجامې یې اغوستې وې ، لاندې د توپونو غور مبهار ، په هوا کښې د الوتکو غورهار او د بمونو کړسهار و او په هسک کښې تو ندره بریښنا او تنا ، شپه یې ډېره مهیبه او ویرووونکې کړې وه ، چا له ډېرې خوب ونه کړای شو او په همدې شپه آسمان زموږ د بدحالۍ او بد بختۍ په ییل وژړل ، ډېر یې وژړل او د باران په جامه کښې یې له شمېره وتلې اوښکې تویې کړې .

سهار تر د ارګ د لوړ «ګنټه ګر برج» د زنګې ساعت غږ غلی شوی و ، هغه کلنګ چې ساعت په ساعت یې شمېرلې زنګونه وهل ، له کاره لویدلی و ، دګړیو عقربونو نور دقیقې او ساعتونه نه شمېرل او دوی د تل له پاره د آزاد افغانستان د آزادۍ وروستۍ شیبې ثبت کړې وې او ځای پر ځای پرې دریدلی وو ، د غلامانو د الوتکې بم ددې برج یوه برخه نړولې وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ارګ د شرقي دروازې د پاسه لوی ، لوړ درې رنګه د آزادۍ بیرغ چې هر سهار به یې د لمر زرینو وړانګو سلامي کوله ، د وحشت له ګوزار سره را نسکور شوی ؤ ، د دروازې د پاسه یې په نیم ځوړند ډول د ویر رپا کوله او د خپلواک افغانستان د استقلال ویر یې تمثیلاوه .

" داؤد خان " چې په افغانستان کښې یې د روسانو د رختې کولو لویه ګناه په غاړه وه ، توله شپه د روس له غلامانو سره جنګېدلی ؤ د " تسلیم " ـ تسلیم ! " چیغو ته یې په ګولیو ځواب ورکړی ؤ ، په زرهاوو ګولۍ یې ویشتلې وې او بیا یې د خپلو ګناهونو کفاره په خپلو وینو وینځلې او د سهار له رڼا سره یې سینه غلبیل ـ غلبیل وه او په خپلو وینو کښې لژند پروت .

دا په افغانستان کښې د اور او وینو د داستان پیل ؤ ، ورپسې دلویو ویرونو او ملي بدبختیو لوی بهیر .

خلقیانو دې غلامانو او ځیره خورو تنه روسانو د وحشت قوماندې ورکړه اودوی هم نوې ـ نوې وحشت ته لاس وغزاوه . د کورونو لټول او لوټل ، د عقیدو پلټل ، د دیندارو او هیوادپالو کسانو نیول او وژل ، د عزت د کسانو سپکول او تحقیرول ، د مالونو ، جایدادونو او شتمنیو ضبطول ، د زړو دښمنیو تازه کول او د نویو دښمنیو پیدا کول هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا ته په شک او سپکه کتل او د هرې ودانۍ ورانول يې پيل کړل .

مغرورو خو يې ماېې خلقيانو هر يوه يې دا حق درلود چې هر څومره کسان يې پوښتني ووژني او په خلکو چپه ميږني وګرځوي د وحشت او انسان وژنې مسابقه پيل شوه ، هر يوه کمونست به هڅه کوله چې تر بل زيات ووژني او له دې لارې ګوتدي کړ يا رتبه تر لاسه کړي او د چتاک پرمختګ سند .

خاين تره کي به په راډيويي او تلويزيوني وينا ګې کښې وياړ کاوه : «چې په ملکي کښې له علاقه دار نه نيولي بيا ترما او په عسکري کښې له دګي مشر نه نيولي بيا ترما ټول خلقيان په کار و ګومارل شوي » او بيا به يې ورته ويل چې : « دا نوی موندلی موټر په سل ميله کښې دوه سوه ميله وزغلوئ ! لارې درته آزادې دي ! » .

هو ! دوی د ناروا قدرت دا موټر په زرهاؤ ميله کښې وزغلاوه او هر څه يې پرې برباد کړل او په خپله يې د اقتدار د موټر پرزې هم درې ـ ذرې .

د خلقيانو په دستور د دهمزنګ د زندان او د ټولو ولاياتو د جنايي بنديانو د زندانونو ورونه پرانستل شول ، د جانيانو او قاتلانو دوسيې وسوځول شوې او بيا يې دوی ټول خوشې کړل او له ځان سره يې تنظيم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغرنجي پله جهنمي زندان چې داؤدخان جوړ کړی ؤ
د هغه د کورنۍ په پاتې غړو افتتاح شو او په کښې واچول شول
او ورپسې یې د «هل من مزید» خوله خلاصه کړه او په لس هاؤ
زره افغانان یې تر ستونې تېر کړل؛ زندانیانو په جهنمي حالاتو
کښې ژوند کاوه او هره شپه به په لسهاؤ تنه ترې ایستل کېدل،
په تورو موټرو کښې به «پولیګون» (وژل ځای) ته وړل کېدل
او لاس تړلي به د ماشینګنو نښه ګرځېدل، په هر ولایت او هره
اولسوالۍ کښې زندانونه ډک شول او پولیګونونه جوړ.

د آزاد او آرام وطن هره خوا وحشت ونیوله او وژلو،
اور ونیوله او وير، وینو ونیوله او ویرې.

د روسانو د سنجش په خلاف افغانان د خلقیانو وحشت
نه یوازې دا چې غلي نه کړل بلکه را ویښ یې کړل، را ولاړ یې
کړل، را وي یې پارول، را غونډ یې کړل، را لښکري یې کړل او بیا پر
له پسې د هیواد په بېلا بېلو برخو کښې قیامونه پیل شول او پاڅونونه،
حملې پیل شوې او بریدونه، جهاد پیل شو او د حق او باطل خونړۍ
جګړه.

څومره چې وحشت زیات شو، هغومره مقاومت زیات شو
او څومره چې تېری زیات شو، هغومره مقدس دفاع پیاوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هیواد هر دیوال او کنډو سنګر شو او د هیواد هر بچی سپاهي او عسکر.

مغرورو خلقیانو درانه او د ایمان پاخه سوکونه وخوړل، په سپینه ورځ عسکري او ملکي ولاړ بدني ورته وشوې، دوی په بې رحمۍ وکوښتلې خو هغه په بېرته ډېرې شوې او خورې او په پای کښې د قیام سنګرونه دومره ډېر شول چې تر وس تېر شو د هغه ګټنون.

روسانو خلقیانو ته بې توله مهلکې وسلې را ماتې کړې خو خلکو په تش لاس ماتې او له خلقیانو نه یاتې کړې، له دې بې ایمانو نه یې د ایمان په زور ونیولې او د همدوی په وسلو یې ورسره جهاد نود کړ.

د افغانستان د ایماندارو او مېړنیو خلکو د قهر د توپان په څپو کښې مغرور خلقیان را نسکور شول، تس نس شول او خبر یې دې ته ورسېده چې په خپل منځ کښې سره ولوېدل، پرچمیان یې سره وشړل، نابغه استاد(؟) تره کی د خپل وفادار شاګرد په لاس باد روان او د دوزخ تورې کندې ته ور روان شو، خاین امین د سقوط په پوله ولاړ ؤ، د اولس د قهر سره اور ته رالویدونکی ؤ چې روسان په وارخطایۍ سره را میدان ته شول، دی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر ددې او د خوراک کې خو خپل نارواقدرت یې د «لوټ تېرې» په وسیله ونړغوره او د شلمې پېړۍ شاه شجاع ببرک شا یې د ښکارې زرک په توګه تخت نشین کړ او رئیس جمهور(؟).

روسانو سل زره کسېز سوراو نه ماتېدونکی(؟) پوځ راووست او پې شمېره وسلې، بمونه او الوتکې. د وی نور افغانستان اشغال شوی وګاڼه او د افغانانو قیام او مقاومت ختم شوی.

پر هېواد باندې یو محل بیا تر توپان وړاندې چوپتیا خوره شوه خو ډېر ژر، د روسانو تر راتلو څو هفتې وروسته په کندهار ښار او هرات ښار کښې د «الله اکبر» ملکوتي غږ د اسکوت مات کړ، خلکو پاڅون وکړ او د ۱۳۵۸ کال د کب په دریمه نېټه د «الله اکبر» د باعظمته غږ سره په کابل ښار کښې هم عمومي پاڅون وشو او ملي قیام د ۱۳۵۹ کال په پیل کېښې روښنفکري قیامونه پیل شول او پوهنتونې، ښوونځیو او زلمو تش لاس سینې ټوټو ته ډال کړې، استعماري ښوونې او روزنې ته یې لته ورکړه او حتی د وړکتون ماشومانو هم د روسي شیدو «نه خوړل» اعلان کړل.

د روسانو ددې دوهم پړاویز وحشت نتیجه هم معکوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه او د قیام په بل شوي اور « تېل » ، ددې اور لمبې ورځ په ورځ لا لوړېږي، تونديږي او خوريږي او انشاءالله هغه ورځ لرې نه ده چې ددې اور لمبې به د نړۍ دا لوی ښدادي او فرعوني قوت هم لوخړه کړي .

د اور او وينو دا تراژ يدي روانه ده او زموږ ډېرې مادي او معنوي شتمنۍ يې ونغښتلې خو زموږ د اولس پاکې ، سرې او تودې وينې ګواهي لي : چې دا وينې به رنګ راوړي او د آزادۍ د ناوې دلاس او پښو نوکرينې به شي .

زموږ د مېړني ملت ايمان ډاډ راکوي چې د ښمن ته به امان ور نه کړي او د تېښتې فرصت ته به يې پرېنږدي .

موږ باوري يو چې زموږ ناولی او وحشي د ښمن به ډېر ژر زموږ له خاورې نه ځي، سرو هلی، بروهلی ، شرمېدلی او ماتې خوړلی .

* * *

د اور وينو او وير د نړيوالې داستان زما دڅوند داستان هم دی، زه هم ددې توپان ديوه کوچني خس په توګه لکه چې تاسو ولوستل له هماغه پيل څخه له ځايه خوځېدلی يم ، بيا مې دخوښۍ او آرامۍ شېبه نه ده ليدلې او بيا له دې اور او وينو نه لرې نه يم پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي .

ددې وحشي توپان څپو کله په کابل کښي سا تلـــــم چې د خلقيانو او روسانو تر لاس لاندې ؤ او هر آن يې د عقيدو تلاشي کوله او د کورونو لټول او هره لحظه به يې بېول کــول ، وژل او د عقدو تشول ؛ کله يې دارالجهاد او تودو سنګرونو ته وردګوته بېولم چې زموږ کلي هم هلته ؤ او د جهاد مرکز ، او هلته به د خلقيانو وحشيانه حملې وې ، انسان وژنه او د ماشومانو او ښځو د عزو غارونو او سمڅو ته تلل او د کورونو ورانېدل ؛ کله به يې د زندان وسپنيزو پنجرو ته اچولم چې هلته به وهل وو ، ټکول وو ، برق ورکول او رازــ راز روحي او جسمي تکليفونه ليدل ؛ او کله به يې د مهاجرت په کاروان کښي روان کړم چې کډې وې ، ماشومان او ښځې ، سر وهلي بر وهلي ، در په در ، بې سر سيوري او بې خيمې ، د صوبه سرحد په ګرميو او د بلوچستان په دښتو کښي .

زه په دې خه باندې شپږو کلونو کښي په دې دوا ن بهير کښي که هر څو سرګردات او پريشان شوم خو ښيما ن او ستومان نه شوم ؛ که په کلي کښې وم يا په بند کښي ، زندان کښې وم يا په مهاجرت کښي ، د قلم د سنګر نه په خلک نه شوم ، هره شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به مې له ځان سره محاسبه کوله چې: «تا نن د نورو کارونو ترڅنګ د جهاد په لاره کښې ترڅو ګام اېښی او څه دې کړي دي؟»

په غونډو - منډو، په شبنامو، مقالو او خاطرو سربېره چې په دې دوران کښې مې لیکلې، شعر هم زما د دې دورې یو دایمي ملګری و، هر وخت به مې دې مار غه د فکر په سر سیوری کاوه او د دې حالاتو په ارتباط به یې یو څه را مېنځ ته کول چې کله به دا سې هم وشول چې هېڅ د لیکلو وخت به مې ورته ونه موند او بېرته به په ذهن کښې ورک شول، کله به مې ولیکل د ساتلو ځای به یې نه و چې بیا به مې د خلقي لوټماراتو له وېرې کله د کوټې په چت کښې ځای په ځای کړل او کله به مې په ځمکه کښې خښ کړل چې په دې سلسله کښې هم یوه برخه رانه ضایع شول.

یو وخت مې چېرته وواهه چې نوی لیک دود (رسم الخط) اختراع کړم، خپل شعرونه او خاطرات مې پرې ولیکم او که په نړلتُه کښې را ووتل ورته وایم به چې: «دا هاله یوه زاړه قلمي کتاب نه رانقل کړې چې خط یې لا تر اوسه نه دی پېژندل شوی او په دې امید مې دا نقل ساتلی چې که یو وخت ولوستل شي.» دا کار مې هم وکړ، مېنځي خط ته ورته لږ څه بدلون ورکړو او ټول یې مې جوړ کړل، لیک دود مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



«فونیمیک» بڼه درلوده یعنې حرکاتو او واولونو ته مې هم توږي جوړې کړل چې د توډو شمېره یې ترپنځوسو اوړېده؛ د لیک دود کلي مې بڼه ولیکله او یادداشتونه مې بیا بیل ولیکل؛ یوڅه شعرونه او یادداشتونه مې پرېې خوندي کړل خو د «کلي» ساتل یې خطرناک وو نو دا لیک دود مې هم دود نه شو (ددې لیک دود کلي او نمونې مې ساتلې چې په خپلو خاطراتو کښې به پرې مفصلې خبرې وکړم، (انشاءالله تعالی).

څه شعرونه مې چې په ډېر کړاو ساتلي وو ډېر ځل مې ددې خوړو- وړو شعرونو د راغونډولو او چاپولو تکل وکړی اوهڅه؛ خو تراوسه یې په چاپولو بریالی نه شوم ځکه زما لاس تش ؤ خو دچا جیبونه چې ډک وو هغو ته یې د اوبدېدلو بې همتي نه منله نو دادی ترننه دا شعرونه چې د جهاد له پاره وو، د مجاهدینو له پاره وو او د جهاد د سنګر له پاره؛ هدا سې ناچاپ پاتې شول اونن یې هم په تش لاس او د مطبعې د مساعدت په هواچاپ ته سپارم او ستاسو لاسونو ته یې در رسوم.

دا شعرونه له ډېرو توغونو وتلي، ډېرې سختۍ یې لیدلې اوډېرې سختۍ مې پرې لیدلې؛ ډېر ضایعات یې ورکړي اوډېرې پارچې یې له منځه تللې خو دا څه چې پاتې دي دا د جهاد د سرمایې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پانګې په توګه دلته څرګندي کوم ، کیدای شي ګونډې ددې شعرونو په وسیله زموږ او ستاسې په دې ګډه درد او غم کښې له تا سو دریو لوستونکو سره شریك شم او دې درانه پیټي ته د زغم او د حق د برې په لاره لا ښه اوږه ورکړو .

زه باوري یم چې زما دا شعرونه نه ادبي کیف لري ، نه یې ددې توان موندلی چې د افغانستان د ټې ساري تراژیدۍ یوه کوچنۍ برخه انځور کړي خو په دې لاره یې وړاندې کوم چې دا زما د احساس او ضمیر غږ دی او د افغانستان د ملت په دې سخت شیبو کښې زما د درد او دوک یو کوچنی تصویر ، نو څکه د ناموزونو او نامربوطو جملو تر څنګ د ښاغلی ایوب صابر خبره یو - یو الهامي بیت هم پکښې شته ، داسې بیتونه چې بې اختیاره مې خولې ته راغلي او په بیړه مې کاغذ ته سپارلي دي ، په دې الهامي بیتونو کښې یې څنې راته یاد دي لکه :

زما قاتله ما چې نن ــــــ دیل په لاس وژلې
ښکاري ستالاس یې هـم ترلی د سبا د پاره

یا :

د وینې ـــــ تېلو د همت ډېوه مې بله ساتې
له هرې خوا د تو پانونو سلسلې دي راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا :

اوښکو! ژاړئ چې له سترګو را جلا شوئ؟
زما کال د بېلتون وشول خندېږم!

او داسې یو - یو نیم بل بیت هم .

داؤ د ملت له تریخ داستان سره مل زما او زما د شعر تریخ داستان هم ! که اوس هم زما شعرونه زما د زړه غبرګتاسو ته ور سولای شي او ستاسو د زړه له غږ سره ملتیا وموم‌ي ما د خپل ټول ژوند اجر موندلی دی .

په مینه

حبیب الله رفیع

کوزتاکال ، پېښور

۸/ ۴/ ۱۳٦۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لویه خدایه!

ډکې خوږې راوتلی یم له کوره
امید ونه مې راوړی د تاکور ته
د افغان په کور د ظلم اور بلېږي
ابراهیم غوندې لوېدلی دی سره اور ته
افغانان خو ستا مخلص بندګان دي
ستا په دا دې ملاتړلې، دوخت زور ته
په خپل فضل، په خپل رحم بری ورکړې
چې شي درس د تاریخ پاتې هر سر زور ته
لویه خدایه! لویه هیله مې پوره کړې
چې مو سروي په سیالانو کښې تل پورته

۱۳۵۹/۸/۱۵

بیت الله شریف : مقام ابراهیم علیه السلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لمر خیره

نن د شپې عمر ؤ پای ته رسېدلی
د تیارې په زړه خنجر د رڼا خښ ؤ
هغه لمر په راختو ؤ په جهان کښې
چې د تول کون ومکان د مولا خوښ ؤ

د باطل د ژوند دانه په ختمېدو وه
د حق نور په ځلېدو ؤ هر خوا کښې
د ظلمونو د ظلمت په خاتمه کښې
ؤ د نیاؤ د نظام زېږی په دنیاکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهالت په مجهول لوری ؤ په تېښته
علم ځلنده رڼا را خـــوروله
د تقدير فيصله شوې وه محکمه
دانسان دژوند صحنه یې رونوله

چې انسان ، انسانيت پرې سلامت شي
د سلام اود اسلام د دين آغـاز ؤ
چې شکونه او وهمونه ټول مغلوب کړي
په نړۍ کښې دیو پوخ یقین آغاز ؤ

چې وروري ، برابري انسان ته ورکړي
ديوه داسې پاك آيين مقدمه وه
د ايمان داسې وسله په راوتـــوه
چې په ټولو قوتو يې غلبــــــه وه

محمد رسول الله ځکه پیدا شو
چې اوږه ورکړي دې نوي قيادت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی بشیر شو، دی نذیر شو ټول بشر ته
د بشر مخنیې وکړه هدایت ته

درودونه دې پرده دده پر آل وي
سلامونه استوم دده امت ته
ژوندي مونږ ته عقیده او هم جهاد کړ
مسلمان ځکه خوښیږي شهادت ته

۱۳۶۲/۹/۲۶

پېښور، کبابیان

# ژړا

فلکه ستا له لاسه ده وژړل، ما وژړل
هغه او دغه، خپل، پردي، دوست او اشنا وژړل
د غم لپاره یې یو ځای هم سره پرینښودو
هرچا جبلا، جبلا، جبلا، جبلا، جبلا وژړل

۱۳۶۲

جوزا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دحق کور

«حق»

یو نوم دی ،

یو مفهوم دی ،

یوه وړوکې کلمه ده ؛

خو یو لوی غونډې قوت دی !

پکښې پروت یو لوی جهان دی !

حق ډېر لوی دی ،

ډېر عظیم دی !

حق ډېر لوړ دی !

له مادې او مادیت نه !

د دنیا له کثافت نه !

* * *

«حق»

یو نور دی ،

یوه رڼا ده ،

یوه وړانګه ده ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو لمر دی ،

داد ختيځ تور جهان پرې منور دی ،

حق ته گوتې نيول کيږي ؛

خو دا لمر پرې نه پټيږي !

او دا نور کله نوريږي !

* * *

« حق »

يو جسم دی ،

يو ځان دی ،

د معنی يو لوی بدن دی ؛

خو باطل يې لوی دښمن دی !

باطل تل په تياري دی ؛

ورته جوړې کړي لښکرې ،

ورته بل کاندې اورونه ،

ورته کښېنوي دارونه ،

پرې کوي د ماشينګنو ، د بمونو ، د توپونو ګوزارونه ؛

خو حق تش لاس وروان وي :

هسکه غاړه

بې له پاره ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه له داره لري وېره،

نه له اوره پناه کېږي

او نه هيڅ وخت مغلوبېږي !

* * *

«حق»

موجود دی ؛

يو وجود دی ،

له ازله تر ابده ،

تل ژوندی دی ، تل ژوندی دی !

دار ته خېژي ،

خودا ستونی :

رسی نه شي بندولی ،

او ريي نشي سوځولی ؛

د بمونو، د توپونو ګوزارونه دي پرې کېږي ،

خو حق کله شي وژلی !

* * *

«حق»

د « ح » او « قاف » تړون دی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورورکې کلمه ده ؛
خو د ژوند یو لوی مضمون دی !
په دې لاره کښې قربان شوي ،
ډېر ځوانان او ډېر مېړونه ،
ډېرله عزمه ډک سرونه ،
خو تیت شوي کله نه دي
د باطل ناولو پښو ته !
دوی پاللی انسانیت دی ،
دوی ساتلی د حق نوم دی !

* * *

« حق »

یو غږ دی
یو تکبیر دی !
را ولاړ له ملکوت نه !
عرش الله یې لړزولی ،
کائنات یې خوځولي !
غلی شوی کله نه دی !
لا لوړېږي - لا لوړېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه تندر له آسمانه
د باطل په سر رالوېږي
* * *
« حق »
یو توغ دی ،
یو بیرغ دی !
چې رپېږي په جهان کښې!
له ربا سره یې رېږدي :
د باطل ټول قوتونه !
ماتوي یې په میرانه
په قوي وسلو پسولي -
ټول پوځونه !
* * *
«حق»
یو ژوند دی ،
یو حیات دی!
ازلي دی ،
ابدي دی ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل ژوندی دی ،

لا فاني دی

مدام حی دی ، لا یموت دی ،

« چې حق راشي باطل تښتي »

دا د حق د ژوند ثبوت دی !

* * *

« حق »

یوه لاره ده ،

یو واټ دی !

د ښکلا په لوري درومي ،

د ځلا په لوري درومي ،

د جنت په لوري درومي ،

د فردوس په نږه کښې تېر دی

د انسان عالی انجام دی ،

سرپاتوب پرې مکمل دی

د ایو پول دی ، د ایو پل دی ،

د صراط په تری لاره ، د وصال په لوري یون دی !

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



«حق»

یو عزم،

یو ثبات دی !

زه د دې سنګر سپاهي یم !

په هُدې لاره راهي یم !

د توپونو، د ټانکونو په صفونو ورګډېږم !

په تش لاس ورسره جنګ کړم !

د باطل له زور او شوره :

نه په شا ځم، نه ویرېږم !

باوري یم، باوري یم !

زه برېږم، زه برېږم !

زه د دې سنګر سپاهي یم !

زه د حق په لاره جنګېږم !

که شهید شم، که غازي شم !

په دې هره یوه لاره :

زه د حق کور ته رسېږم !

۱۳۶۳/۶/۲۵

کوټه، فقیر محمد روډ، د پروفیسور سیال کاکړ کور .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اختر ورځ

زما امانه ! په ماګرانه ! نن بیا هم اختر دی
ورځ د اختر ده ، ستا اختر دی ، زما هم اختر دی
څنګه اختر ؟ د غم اختر ! او د دردونو اختر !
د فریادونو ، د آهونو ، د ویرونو اختر !

* * *

ته له مالره یې او زه یمه له تانه لرې
نه آورم ستا ورې - ورې ، خوږې - خوږې خبرې
ستا له مستۍ ، ستا له خوبۍ ، ستا له خندا محروم یم
ستا له نازونو ، له رازونو مشغولا محروم یم
د تا د مخ له ګله څه اخیستلای نشم
د تا له بنګلي تنه لیچه څرخولای نشم
د تا د سترګو په نور سترګې مې غړیږي ګله
د تا د مخ شمع مې مخې ته بلیږي ګله
زما امانه ! په ماګرانه ! نن بیا هم اختر دی
ورځ د اختر ده ، ستا اختر دی ، زما هم اختر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

ته خو ما شوم یې ته به خوښ وې او خندان به اوسې!
له «ثُریا»، له «آریانا»، سره روان به اوسې!
ته به لوېږې یاد مور او یاد دنیا په غېږ کښې
یاد تور به، یاد دې او کاکا په غېږ کښې
ته په وړه ژبه دې تول ته «ابه» به وایې!
څه به ترې غواړې هر یوه و ته «آه - آه» به وایې!
بنا یې چې زه به دې له ذهن نه وتلی وُم اوس
د تا له مینې به دې شپې ورځې ایستلی وُم اوس
زما امان! په ما ګرانه! زما بیا هم اختر دی
ورځ د اختر ده، ستا اختر دی زما هم اختر دی

* * *

نه! نه! زه پوه یم، ته نا پوه یې خو بې مینې نه یې
ځکه چې زه هم یې، جدا زما له وینې نه یې
ستا لوی شعور دی کوچنی زړه دې له الفت ډک دی
کینه هیڅ نه پېژني ټول له محبته ډک دی
ژبه دې نه ګرځي خوستر کې دې حالونه وایي
ستا د خوږې او پاکې مینې ډک رازونه وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به یوه شپه چې نه ؤم ته به شوې رنځور راپسې
پوه یم چې اوس به هم کړې بې ته ضرور راپسې
زما امانه ! په ماګرانه ! نن بیا هم اختردی
ورځ د اختر ده ، ستا اختردی ، زما هم اختردی

* * *

ته خو ما شوم یې نه یې پوه چې دا بیلتون ولې دی
دا ستا ، زما ، د ټول ملت د مرګ ژوندون ولې دی
دا په زرګونو ډک کورونه اوس سپېره ولې دي ؟
دا د وطن میړني خلک خواره واره ولې دي
دا په زرګونو کورنۍ بې مشره شوي ولې ؟
دا په زرګونو کورنۍ بې کشره شوي ولې ؟
دا د وړو بچو پلرونه وژل شوي ولې ؟
دا په لکونو افغانان دي شړل شوي ولې ؟
زما امانه ! په ماګرانه ! نن بیا هم اختردی
ورځ د اختر ده ، ستا اختردی ، زما هم اختردی

* * *

ته نه یې پوه چې ډېر بچیان یتیمان شوي په څه ؟
او ډېر ودان - ودان کورونه دي وران شوي په څه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوډنیو تودې غېږې سړې شوې په څه؟
د ډېرو مینو د نغرې ایرې مړې شوې په څه؟
ډېر ماشومان بابا! بابا! وایي خو پلار یې نشته
ګرځي ژوندي خو د ژوندون کولو لار یې نشته
له ډېرو مینو د بمونو دوړې پورته شولې
ډېرې بشرې وې چې د کور په ځای مځکې ورته شولې
زما امانه! په ماګرانه! نن بیا هم اختر دی
ورځ د اختر ده ستا اختر دی، زما هم اختر دی

* * *

داهغه پېردی چې په وطن کښې سور وحشت راغی
تاریخ ته یاد نه دی یو داسې بربریت راغی
د روس مرئیو په وطن کښې کودتا جوړه کړه
زمونږ پر مادي او معنوي شتو یې تالا جوړه کړه
د خپل باداره تودې وسلې یې رامیدان ته کړلې
پر بې شرمه یې مخامخ اتل افغان ته کړلې
څوک یې په توپو، مشینګنو او بمونو مړه کړل
نور یې په زندانو، وحشتونو، عذابونو مړه کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما امان! په ماګران نن بیاهم اختر دی
ورځ د اختر ده، ستا اختر دی، زمام اختر دی

* * *

مېنې سپېرې، کورونه وران، خونې وېجاړې شولې
لښتې د وینو شول روان ودانې شارې شولې
په نوم د خلکو یې په خلکو پر ظلمونه وکړل
تاریخ شرمېږي پرې، چې دوی کوم-کوم کارونه وکړل
د روس په لمسه قتل عام د افغانانو کوي
د خوار په نوم باندې ناشندې په خوارانو کوي
په لکو ښځې یې کونډې کړې مېندې بورې کړلې
ددې وطن د زلمو ونې یې سر سورې کړلې
زماامان! په ماګران! نن بیاهم اختر دی
ورځ د اختر ده، ستا اختر دی، زمام اختر دی

* * *

خو بیا هم زړېږي درکوم چې دا لیوان به نه وي
دا د افغان ملت د خاورې دښمنان به نه وي
ژر به ورکیږي، د پردو حلقه بګوش غلامان
دا د روسانو د روبلو بوټو لوکو پیک نوکران

(c) ketabton.com: The Digital Library



زېږی بچیه چې افغــان ملت قیـام کړی دی
د دوی پرضد یې بریالی جدی اقـدام کـړی دی
دوی به ورکـېږي، دا وطن بـه آزادېږي زمـونږ
دا خوراو وور ملت به بـهرته راټـولېږي زمونږ
زما امانه! په ماګرانه! ننبيا هم اختردی
ورځ د اختر ده ، ستا اختردی، زما هم اختردی

* * *

بېرته به یو ځای شي پـلرونه د بچونو سـره
توده به مینه کـړي زامنو او له لونو سـره
بېرته به یو له بـل بېل شوي ژر وصال ته رسـي
داوبو تـږي به ضرور آب زلال تـه رسي
څوک چې ژوندي دي بېرته ژوند به په کورونو کوي
څوک چې شهید شول خوشالي په جنتونو کوي
که ژوند وو نه او ته به هم بیا یو ځای کېږو وزویه!
لکه پخوا به یو له بـل سره لـوبېږو زویـه!
زما امانه! په ماګرانه! بیا به هم اختروي
بیا به اختر، زما به هم د تا پر هـم اختروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلی اختر؟ د خوشالي او د خوندونو اختر
داسې اختر چې وي به دا دا خترونو اختر

د اختر ورځ ۱ شوال ۱۳۹۹

۱۳۵۸/۶/۱

پېښور، کبابیان

# زما جرم

زما جرم له وطن سره ده مینه
په دې مینه مې که سر ځي او س دې ځینه
چې وطن ځي زما سر دې تر ې ترسر ځي
تر وطنه به بل څه قدر لرینه

۱۳۵۷/۱۱/۲۷

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زه بې شمېرم درته څومره چې کوم ـ کوم دي ؟
د دنيا غمونه ټول زما په نوم دي !

د آسمان په کنارو کښې شومه ستړې
د بخت ستوري راته نه ښکاري معدوم دي

نه يې خوشي دې خوښې نه يم راوسته
چې خوښي کوي هغه کسان معلوم دي

شومه دم له اندېښنو نه رابېدار شم
ارخ مې نه لګي ، بستر او کټ مې شوم دي !

ها سمسور ـ سمسور بڼونه چې اوس نشته
سوځولي د شمال باد ـ سموم دي

چې د تم تکي ايزدي د بشر ژوند ته
دغه بدې ـ بدې چارې د اتوم دي

د تلو پل دې تل ژوندی شو زما وره کښې
پرې وهلې مې د تړموا و ښکو موم دي

۱۳۶۴/۴/۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منزل

دغه لاره چې تۀ ګورې:

دا چې ډکه په اغزو ده!

دا چې ډکه ده له کاڼو!

دغه لاره چې تۀ ګورې:

دا چې درومي له پیچومو!

چې تیرېږي په ښاڼزیږو!

دغه لاره چې تۀ ګورې:

چې غورېږي پرې جازونه!

چې اورېږي پرې اوروونه!

دغه لاره چې تۀ ګورې:

چې فرش شوې په بمونو!

چې ورانېږي په توپونو!

دغه لاره چې تۀ ګورې:

چې په ستنو ده ختلې!

چې په څوړو رالوېدلې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه لاره چې ته ګورې ؛

چې د شپې په زړه کښې پروځي!

چې تیارې پرې راخورې دي!

دغه لاره چې ته وینې ؛

چې لړلې ده په وینو!

چې ساتلې ده په وینو!

هو!

دغه لاره همدا لاره ؛

د ګلونو لور ته درومي!

د باغونو لور ته درومي!

دغه لاره همدا لاره ؛

د لوی واټ په لوري درومي!

ارت میدان لري په مخکې!

دغه لاره همدا لاره ؛

د آرام غېږې ته رسي!

د مرام غېږې ته رسي!

دغه لاره همدا لاره ؛

په هوارو تما مېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د گلزار غېږې ته لوبږي!

د غه لاره همدا لاره :

د سپېدو آغاز ته رسي!

ښکلوي يې د لمر وړانګې!

د غه لاره همدا لاره :

سروخروي يې ته وروتلي!

سرلوړي لري په پای کښې!

سرمنزل د مرامونو

« خپلواکي » لري په پای کښې!

۱۳۶۳/ ۷/۲۲

پېښور ، کوزتاکال

# افغان

مېړه هغه دی چې نرمري په میدان مري

د وطن په مقدس عهد او پيمان مري

وطن نه پلوري د ټل غلامي نکړي

افغان زيږي ، افغان ژوند کوي افغان مري

۱۳۵۸/۲/۲۱، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سور خزان

« د فلک له چاروخه وکړم کوکار؟
زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار»
چې نسیم وې موسولي په ګلبڼ کښې
په تونډ بادې کړي له واره تار په تار
مانزې کړې په ږ لی سوري سوري کړي
چې وې پرخې تازه کړي په سهار
ښکلی مخې بورا نوي لا ښکل کړي
نه وي کړي لا بلبلو پرې چغار
یو په یو یې د خزان په رحم ور کړي
په سرور کړې د سیلیو تونډ ګوزار
جړاو کړې چې لا سونو د قدرت وي
لاله زار ګاندې بدل په خس او خار
د ماشوم غوندې په « هست » و « بود » کړي لوبې
تار و پود د « هست » نابود کړي په مدار

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ځل نه دی ، دوه ځل نه دی ، دری ځل نه دی
څو چې دی دی ددې لوبې دي تکرار
هره ورځ نوي ګلان په اوبو يوسي
په هر وخت کې نوې - نوې کاندی چار
لاس دې مات شه ای فلکه ستمګاره
چې څه کله دې پرېښودو کرار
په سکندر او په چنګیز مودې ملک وران کړ
بیا انګریز دې کړ تېر يو ته تیار
اوس دې سره وبا په موږ کړه رانازله
له شماله دې راتېر کړ سور ښامار
د چنګیز خونریزۍ وللې په وينو
د خلقیانو بې جلبه اقتدار
د ظلمو سینې يې سمې کړې توپو ته
پرې يې جوړ کړ د بمونو درزهار
د ګولو ننله يې هرخوا اورولې
نراو ښځې يې پرې توې کړل انبار
د پروازه لړزند په خپلو وينو
دروی مېنګ الوتکو په بمبار

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وطن په هره برخه هره خوا کښې
دی د شوبلو، د ټانکونو غورمبهار
رانیول دي، ځملول دي، قتلول دي
په سرو وینو لړل شوي هر دیار
د ځوانانو کوڅې کوڅې په شپېلو کښې
په لاشونو یې کارغان کتار کتار
چې تباه دي ټول د دې خاورې زامن دي
کلیوال دي، که عسکر، که منصبدار
سترګو ژاړئ ! په سرو وینو اوښکې پرېږدئ !
دي دا پېښې د ژړا او د خونبار
وطن لوټه لوټه، کلي کلي وران شو
اسماني تندر نازل شو په هر ښار
نورستان تور و لوخړو کښې لمبه شو
د کونړ کورونه شول سره هوار
بریکوټ د خاورو کوټ شو په لحظه کې
روغ دي کله چغه سرای دی که اسمار
په نیټکلام کښې د ننګ کلام دی ترل شوی
په شیګل کښې شکې سرې دي په انګار

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مومند دي ، که کامه ، که خوګياني دي
که ګوشته ، که حصارک د ننګرهار
توله بمونو او تانګونو هوار کړي
چلېدلي پرې توپونه ، ماشيند ار
د لغمان د دولت شاه سينه غلبېل شوه
پاتې نه شو اليشنګ او اليننګار
په تګاو او په پنجشير لړې خورې شوې
شوله له خاورو سره سم د ژوند آثار
پاخېدلي د غليم په مقابل کښې
په ختلان ، که سمنګان دي ، که مزار
په بادغيس ، په ميمنه کښې درزمار دي
په هرات کښې دي د وينو شنهار
په فراه کښې فرحت نشته د وګړو
غور له غمه بيا پټ شوی په غبار
په هلمند کښې هيلې خاورې کړې خاورې
پنجوايي او ارغنداب کښې دي ناتار
په بولدک بولک ورېځې راغلي
بې آرامه دي له دوکه کندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



په روزګان کې روزګار سخت شول د خلکو
په تیرین کې تیري مات شول د غدار
په کلات کښې، په شینکۍ کښې، په مرغه کښې
په سورغر کښې بیا اوربل دی دوامدار
په مقر کې مقرور کړ شول د خلکو
قره باغ دی په جنګونو کښې ایسار
د اورګون ځمکه اورګونې شوه په اور کښې
په سرنه، وازه خوا دی تکسهار
غرجستان غرونه په شنو دوړو کې پټ دي
شهرستان او مالستان دی عزادار
په غزنی او په بامیانو کښې اوربل دی
سره ده ځمکه د وردګو، د خروار
په لوګر کښې، په زرمت کښې، په ګردېز کښې
په ځاځیو، سیدکرم دی ترسهار
سته ووته د ستو په کندو کښې
په تیره کښې تیرې شنه شول وار په وار
د دښمن قوي لښکري کړي نسکوري
د محمد راپو توریالیو په ایثار

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کابل کښې هم اوربل دانتقام دی
پایمال شوی چنداول او پای منار

دا داوربلي لمبې پې کړې چې بلې
راتولیږي کړي لمبې به یې دربار

د ملي قهر توپان به یې توپان کړي
دا چې دی د بلمزدور زموږ بادار

څوک چې اوربلوي سوځي به پرې خپله
دا فلک دی، دا یې دود دی، دا یې کار

سورخزان د سرو لمبو په تېرېدو دی
رانږدې دی د افغان ملت بهار

۱۳۵۸/۵/۱۴

پښتو، د بکری

# آبادي

«زما» دې ومرم، «ته» دې ومرې، «موږ» دې ومرو
خو ژوندی دې وي وطن «او «آزادي»
چې د وینو سیلاب جوړ شي ملك زرغون شي
تر باران د وروسته را شي «آبادي»

۱۳۵۷/۱۱/۲۷، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اِستقلال لمن

تورې د تېرې ته مې د ډال لمنه ونیوه
بیا مې د "میرویس" او د "خوشحال" لمنه ونیوه

ما په خپل وطن کښې سوله غوښته، آزادي غوښته
تاد تجاوز جنګ او جدال لمنه ونیوه

لوی سیلاب د خلکو رانسکور کړلې په ختو کې
ځکه دې دلوی صیاد د جبال لمنه ونیوه

زه به د مهدي په پاکه لاره ناندې یون کوم
تاچې د دې عصر د دجال لمنه ونیوه

زه د خدای په مرسته، د ایمان په زور جنګېږمه
تا د روس لستوڼي تر د سوال لمنه ونیوه

ځکه پر تش لاس، زمابري په هر میدان کښې وي
تا د لیننن ما د ذوالجلال لمنه ونیوه

"الله اکبر"، مې ستا په خوله کښې هورا وچر کړه
ما په خپل جهاد کښې د بلال لمنه ونیوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د مارکس، انګلز او د لینن غېږې ته ولوېدې

ما د خپل «جلال» د خپل «جمال»* لمنه ونیوه

زه د آزادۍ په سپین سحر باندې ایمان لرم

ځکه مې هجران کښې د وصال لمنه ونیوه

نن نه یم کړېږې یې بند م د روس وحشي منګولو ته

ټینګه مې په لاس د استقلال لمنه ونیوه

پېښېن بازارګی ۱۳۶۳

## ویر

لاس مې که خلاص دی خو په ذهن مې زنځیر پروت دی

چې ګران وطن مې دی پردو په لاس اسیر پروت دی

څنګه خوښي؟ څنګه خندا؟ څنګه سرور وکړمه؟

چې کور په کور مې د ملت په کور کښې ویر پروت دی!

کابل ۱۳۵۷/۱۱/۲۷

---

* له جلال او جمال نه مراد مولانا جلال الدین بلخي او سید جمال الدین افغاني دي او په دې سربېره د افغاني جلال او جمال عام معنی هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# میړانه

د وطن په سرله سره تېرېدل
د هېواد په مینه وینې تویول
د تاریخ د مېړنیو ننګ ساتل
خپلواکۍ ته سره د ولس تیارول
سرلوړي ده، ویاړ دی، فخر دی عزت دی
په تاریخ کښې جاویدانه نوم ګټل

* * *

د پردیو په تېرو تورو ورتلل
په ټانکونو، په توپونو ورختل
د ګولیو په باران ورګډېدل
د بمونو په اورونو کې لمبل
د ملي ننګ وناموس په ځای کول دي
د وطن په لار سرونه جارول

* * *

په پردیو یرغلګرو یرغل
استعمار ته خوله په سوک ورماتول

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټبرونيو په سر توره تيرول

ورته لار ښيرته د ټينګتې بندول

د هيواد د هيواد دوستو زوينو کار دی

د وطن د مور په ننګ راپاڅېدل

***

د قوي دښمن قوت اوبه کول

دايمان په زور قوي وسلې زغمل

په پوښتو د شهيدانو هسکېدل

په سنګر د علمانو برېدل

غيرت غواړي ،همت غواړي، ايمان غواړي

خپلواکي ګټل ، ساتنه او پالل

۱۳۵۸/۲/۱۱

وردګ، آبدره

## ژوند

دَ حُسَين شهادَت دَ يَزيد مرګ دی

اِسلام ژوندَ موُمي تر هَرې کَربَلا پَس

ژباړه : ۲۹ / ۱۰ / ٦۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داختر دُعا

بیا دی اختر را روان !

هر مسلمان ته به خوښي او هوسونه راوړي !

د خدای په پاك او په سپېڅلي کور کښې

د « بیت الله » په مقدس انګړ کښې ؛

دي را غونډ شوي په لکونو مسلمان د جهان ،

د سپین او تور، ژړ له تو پیره پرته ،

په یوه صف کښې د پاك رب حضور ته سر ټکوي ؛

د حج د لویې فریضې ،

د ابراهیم د سنت

د قربانۍ او د ایثار خاطره بیا نویوي !

* * *

خود افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې سپېڅلي مسلمان له کوره

خوښي کلونه کېږي کډه کړي،

اختر راد رومي خوښي نه راولي،

سترګې تورېږي په بارو تو، په رنجو باندې نه با

لاس هم سره کېږي ؛

په نوکريزونه، په وينو باندې!

قرباني هم داخلو رکاله کېږي،

پر له پسې پې کاندې،

* * *

که ابراهیمؑ د خپل خوږ ه زوی قرباني کوله

زموږ اولس ؛

د پلار، د مور، د ورور، د زوی قرباني،

کوي په ډېر عالي همت او ایثار ؛

په ډېر همت له خپله ماله تېر!

له ځانه تېر دی،

که آزادي نه وي له ژونده له جهانه تېر دی!

* * *

نو لوېږ خدایه! د جهان مالکه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هست وبود ، کون ومکان مالکه !
ته کړې قبوله !
داد اخلاص، داد ایمان قرباني !
داد سپیڅلي مسلمان قرباني !
د میړني غیور افغان قرباني!
ملک یې آزاد کړې! د پردود استعمار له واکه !
د سره ښامار له واکه !
دوی داسلام په مقدس دین باندې ننګ کړی دی!
دوی دافغان د آزادۍ د پاره جنګ کړی دی !
او دوی ،
دوی د وحشت په هیولا باندې غورځنګ کړی دی!

۱۳۶۱/۶/۳۰

پېښور ،کبابیان

# زندان

وطن لوټه-لوټه ، تیره - تیره وران شـــو
کور په کور د هرافغان په کور افغـان شـــو
دا عجب غونډې د خلکو حکومت دی !
چې هرچا ته وطن کـور شو، یا زندان شـو
کابل: ۲۱/ ۲/ ۵۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سلسلې

ورځې او شپې مې د غمونو سلسلې دي راځي
د زړه انګړ ته د ويرونو سلسلې دي راځي

زه به يې کوم -کوم ژاړم جنازه بې کوم
د ځوانيمرګو ارمانونو سلسلې دي راځي

په هر قدم کښې نوی دام دی، نوې لومه خوره
زما په مخ کښې د داموnو سلسلې دي راځي

د وينې نيلوا د همت ډيوه مې بله ساتي
له هرې خوا د توپانونو سلسلې دي راځي

ای د عمرونو لاميوزنه وار خطا دې نکړي
د ژوند درياب کښې د موجونو سلسلې دي راځي

د دنيا بامه! عظمت ته دې سجدې لګوي
د فرعونانو د سرونو سلسلې دي راځي

له سکندره، تر چنګيزه انګريزو او روسه پورې
ستا از هيبت ته د پوځونو سلسلې دي راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپید و توره راته ښيي چې سحر نږدې دی
پر توره شپه د ځوزارونو سلسلې دي راځي
ښکاريږي چې بيا به مې په لاسو کښې کړې واچوي
«رفيعه!» بيا دې د شعرونو سلسلې دي راځي

۱۳۶۳/۱/۲۹

# د پلار په لار

د وطن لار کښې که مرګ وي که زندان وي
د وطن ربښتيني زوی ورته آسان وي
د خپل پلار د ننګ عزت په لار به درومي
له دې لارې به وانه وړېږي چې افغان وي

۱۳۵۸/۱۲/۵

کابل ، د څرخي پله زندان

# لور سر

۶۳/۷/۱۵ پېښور

نه غوارمه خدايه شنش محل ته خاته نه غوارم
لور سر مې ټيټ مه کړې ټيټو - ټيټو دروازو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کمونیزم شېره

بې رسوا شو اوس حساب د کمونیزم
نه آبرو شته ده ، نه آب د کمونیزم

کودتاوې ، قتل عام تر ېنه زیږېږي
دې تر وايي انقلاب د کمونیزم

ژوندې دردوي ، غم وي ، ویروي ، دوک وي ، آه وي
چې نازلیږي پرې عذاب د کمونیزم

باغیچه یې په سرو وینو اوبه کیږي
ډک له وینو تل تالاب د کمونیزم

د منطق او علم نخښه یې نشته
سفسطه دی "سوال او ځواب" د کمونیزم

د انسان له قیمتي وینو نه پرته
باران نه لري سحاب د کمونیزم

په عمل کښې سر چېه د تطبیق ور دی
تش الفاظ دي سور کتاب د کمونیزم

د بیزوله زوي وخت سر پیتوب غواړي
څارویتوب دی انتخاب د کمونیزم

(c) ketabton.com: The Digital Library



سور پرچم د خونړي ښکیلاک سمبول دی
تري وريږي سور خوناب د کمونیزم

ای پر سره کتاب کښي ډوب سړدي هسک کړه
بې تعبیر دی رنګین خواب د کمونیزم

هغوی هم ردي ښامار تر ستوني تېر شي
چې پرانیزي چېرته باب د کمونیزم

خپله هم په خپلو وینو باندې سره شول
څوک چې کړ شول په سرخاب د کمونیزم

هم یې ژوند او هم مردن مردار مردار وي
چې ډوب شوي په مرداب د کمونیزم

چې په سره کښېنتې سواره ځي په دې سیندکې
غرقوي به یې ګرداب د کمونیزم

هغه مُلک بیا په سره اورکښي سوځېدلی
چې پرې شوی فتح الباب د کمونیزم

هرمزدور به بیا دستي نقش زمین وي
چې په قارشي پرې ارباب د کمونیزم

په خدمت یې چې ځان ستړی او تن آب کړ
شو په غاړه یې تناب د کمونیزم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نېشه کښې يې شيشه په . . . . . ولاړه
چې يې څښلې وو شراب د کمونيزم ۳

په بالښت يې روح له باده سره روان شو
چې وُ پروت پر تخت خواب د کمونيزم ۴

وفادار و سره هم وفادار نه دی ۵
دا قانون دی او دا داب د کمونيزم

توپ وي، ټانک وي، بم وي، درزوي، دروزي، دزوي
تباه کُن دی ټول اسباب د کمونيزم

بم يې ونه سرچپه کړې ولې پورته
لغوې دی انقلاب د کمونيزم ٦

حق په اورتو، بورتو نشي پټولې
که هر څو غاپې کلاب د کمونيزم

تندې لاندې کړل په چول بيابان کې
چې وو سم څوك په سُراب د کمونيزم

۷ حبشي غوندې له لوږې هلاکيږي
چې راغلې پرې سيلاب د کمونيزم

چين هم پوه شو پس له ډېرو ترنګولو
چې بې سُره دی رباب د کمونيزم ۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه پښنکو که هر څو وچه پېښېږي وخت ډېر دی
بېرته نه راګرځي آب د کمونیزم

د اولس د قهر اور تر به ورلوېږي
څوک چې پښه بندي په رکاب د کمونیزم

د بلا مخ یې څرګند شو ملول جهان ته
څیرې شوی دی نقاب د کمونیزم

اوس د خلکو تر د ب ډوبلاندې لشکور دی
ختم شوی نور د باب د کمونیزم

په منطق نه ځي، په تېلو ځي، په ټانک ځي
دی د اکاډمی اوس کرییاب د کمونیزم

چې د شپې په منزل ځي څراغ راواخله
ځلا نه لري شهاب د کمونیزم

ها کتان چې کمونست ورته جامې وې
اوس څیرلی دی مهتاب د کمونیزم

له لمر څرکه تر زواله وکسوف کښې
په غروب دی سورآفتاب د کمونیزم

اوس د وینې د فشار په رنځ اخته دی
چې په وینو وشباب د کمونیزم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغـان د تېرې تــورې په رڼا کېښې
مخ ليده شي بې حجاب د کمــــونيـــزم
هغه لوړ څي، د ده تېښته دي خواهشـونه
په دام نه نښلي عقاب ، د کمــــونيـــزم
مُسلمان افغانه لوی وياړ دې نصيب شـو
چې دې وتاړه پاياب د کمـــونيـــزم
نه د ېرش بيت قصيده بې د توان نـه ده
کتاب غواړي هر کتـاب د کمـــونيـــزم

۱۳۶۳

---

✦ پايليکونه :

۱ـ د کمونيزم سوال ځواب = د کمونيزم د يالکتيک مطلب دی.

۲ـ د داروين هغې نظريې ته اشاره ده چې انسان د بيزو اولاد بولي او کمونستان يې هم د خپل تکامل د قانون له مخې په کلکه مني.

۳ـ کله چې خلقيان او پرچميان په قدرت سره ورلن شول او خلقيانو پرچميان زندانونو ته واچول ، د روس له خوا يې ددې اجازه نه ورلوده چې ويې وژني نو خلقيانو د خپل تېر سپېڅلو د پاره د زجر او شکنجې په وخت کښې په پرچميانو باندې د فانتا بوتل استعمالول په دې بيت کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې پېښې ته اشاره ده .

(۴) دروزي د بالښت په وسیله د تره کي شرمېدلي مردارېدو ته اشاره ده .

۵- د تره کي وفادار شاګرد حفیظ الله لعین ته اشاره ده .

۶- چا وویل په کندهار کښې د روسانو یوه ډېره زړه ورنه له ځمکې راوایسته او په خاښونو یې ودروله ، ما ویل د انقلاب لغوي معنی همدا ده .

۷- د حبشې د روستی کاختې ته اشاره ده .

۸- د کمونیزم د ډیموکراتیا او زړښت په باب د چین د حکومت او کمونست ګوند ورو ستي اعلان ته اشاره ده .

۹- چرینکو د روس دیکتاتور .

۱۰- وایي اصیل کتان د سپوږمۍ په وړاندې شیږیږي چې د دري او پښتو په زاړه ادب کښې ددې عقیدې په باب ډېر شعرونه موندل کېږي ، په دې بیت کښې همدې عقیدې ته اشاره ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خبرې نه کوي

توپ او بم غزېږي خو انسان خبرې نه کوي
دور د وحشت شو دا حیوان خبرې نه کوي

لا هم مه موږم ته د پرځنډو ن رازونه هلته وو
چاویلي دادي چې بستان خبرې نه کوي

ګوره چې زما د سوي زړه حال د رته وو ایې
نه مې لوېږي زړه ته چې ګریوان خبرې نه کوي

څلې دا ایروې د تودې مینې داستان وایي
څوک وایي چې سوي پتنګان خبرې نه کوي

کوم پېرې شلوي "مسکو" بشر بشر دوستي وایي
دا خوشې وینا ده چې خرسان خبرې نه کوي

ډېرې د غیرت کیسې یې خوله کښې د هر زخم دي
نه منمه دا چې شهیدان خبرې نه کوي

کسه اپه شفق کښې د شهید د وینو کرښې دي
ولې انکاري یې چې آسمان خبرې نه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستر ګې یې د ظلم او وحشت داستان پر جار وایي
خیر دی که د غریبې یتیمان خبرې نه کوي
او ښکو او سلګو مې د خبرو شربه ګونګه کړه
ګوره مې دیوان ته چې دیوان خبرې نه کوي

۱۳۶۲/۳/۵

باجوړ، ښار

# دخره مینه

خلقیان وایي چې روسان زمونږ دوستان دي
دي دوستان یې دا وینا نه ده غلتــــــه
خود خرس دوستي وژل دي او خیرل دي
څه ښه وایي دخره مینه ده لغتــــــه

۱۳۶۱/۹/۲۱

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دآزادۍ شپې

زما دژوند سیمه یې لاندې کړله
پرې راخورې شوې خونړۍ تورې شپې
په ویرې ولړلې سرتر پایه
زما دژوند د هیلوډکې شپې

* * *

شپې دي اوشپې دي پسې شپې دي شپې دي
یوه پربل پسې لګیا دي راځي
د تورو شپو او سپینو شپو ځنځیر دی
ټولې تیارې - تیارې بیا - بیا دي راځي

* * *

که لمر سپوږمۍ ده او که ستوري لري
په وینو ډوب دي رڼایي یې نشته
ساتونږ کړځې ګړۍ هم ډکې زړي
شپه پسې شپه ده سبایي یې نشته

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د حق نور را ته دا زیری کوي
چې ژر به خپره د سبا رڼا راځي
د سره وحشت د اتور کابوس به نه وي
په ملک به هره خوا رڼا راځي

* * *

د شهید وینه به رنګ کوته راوړي
دا امید وګلان به وغوړیږي
د غازي توره به رڼا وکاندي
د آزادۍ شپې به ورسیږي

۱۳۶۰/۹/۴

کابل

# د نور خلي

وېرکسان دي چې دي تللي پسې تللي
پاتې شوي یې نه نخښې دي نه کلي
خو چې لاړ د شهادت یې ده نیولي
ابدي یې دي پرې ایښي د نور خلي

پېښین، پازانګ ۱۳۶۴/۳/۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له ما خوبني له ما طرب مه غواړه

له ما مه غواړه د غزالو د مستی غزلې !

مه کوه هيله د کيسو، د قصيدو، د مدحو!

مه کړه آرزو د لړزوونکو، پاروونکو نظمو !

له ما خوبني، له ما طرب مه غواړه !

زه د الم د توپاني بحر يو څاڅکی يمه !

زه د ستم له اوره پورته يو بڅرکی يمه !

زه د وحشت له تورو لړ ونه راوتې يوه څړيکه يمه !

زه د ويروونو له جهانه يوه اوښکه يمه !

* * *

د تورو سترګو د سپين مخ خبرې ،

د غوړاو ربل او د سرو شونډو خندا ،

د معشوقې د عشق او مينې دنيا ،

ها د نازونو د نيازونو جهان ،

ها د ګونګرو او د پايزيب شرنګهار ،

له ما دې پاتې !

زه ور خلاص نه يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د مينې په دنيا باندې يرغل شوی دی!
زما د ناز ماڼۍ د ظلم اور ذرې - ذرې کړه!

(نو): له ما،

له ما خوښي، له ما طرب مه غواړئ!
زه د الم د توپاني بحر يو شا خکی يمه
زه د ستم له اوره پوره يو بخرکی يمه!
زه د وحشت له تورو لړونه راوتې يوه څريکه يمه!
زه د ويرونو له جهانه يوه اوښکه يمه!

* * *

زما د خوږ وطن تنګي - تنګي ځواناں وهړدي!
زما په ګران وطن کښې پېغلې شته دي، ځوانې شته دي!
خو تورې سترګې يې د اوښکو بهيرو وينځلې
په نرمو شونډو باندې رنګ د د ندا سو نډلري
پټرې د وينو يې نيولې وې تل،
ورابل يې جړ دی.
د ګودرونو له ښنګونو د سنګرو ښنګ ته
دې را تول شوې -
له غليم سره يې غزې وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او قربانيږي د وطن په لار کښې .

او ردی سرې وينې دي ،

ويرونه دي ،

د وېرې دنيا !

(نو) : له ما ،

له ما خوښي ، له ما طرب مه غواړئ !

نه د الم د توپاني بحر يو څاڅکی يمه !

زه د ستم له اوره پورته يو بڅرکی يمه ؟

زه د وحشت له تورو لړونه راوتې يوه څرېکه يمه !

زه د ويرونو له جهانه يوه اوښکه يمه !

* * *

زما په خاوره کښې د وينو تالابونه جوړ دي !

زما اولس تر !

د وحشي لښکر له لاسه څخه !

په هره ورځ باندې تازه - تازه غمونه جوړيږدي !

بچې را په ياد کړمه ،

ها سرې ورځې زما د وطن !

هغه په سرو وينو لړلي شهيدان د مېنې !

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وجدان رڼې - رڼې مې لنبه - لنبه شي ،

د انتقام لنبه

خوله مې له وينو ډکه ،

آه مې سوړ دی

(نو) :

له ما

له ما خوبني ، له ما طرب مه غواړئ !

زه د الم د توپاني بحر يو خاشکی يمه

زه د ستم له اوره پورته يو بخرکی يمه !

زه د وحشت له تورو لړو نه راوتې يوه کرېکه يمه !

زه د ويرونو له جهانه يوه اوښکه يمه !

* * *

زما په زخمي - زخمي وطن کښې

خندا ګناه نشته !

بس د شهيد ،

تنکي زخمونه په خندا ښکاري ،

لکه غاټول په هره خوا ښکاري ،

مجنون لاسونه سره کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږه تکرېږونه

په سرو- سرو وینو سره دي !

سازونه نشته

د بمونو زېراو بم خوړدی !

ویرجن سکوت

مدام ماتېږي ،

د راکټ په خوله ، د توپ په ډز ،

د ماشینګن په غږ !

(نو) :

له ما ،

له ما خوښي ، له ما طرب مه غواړئ !

زه دالم د توپانی بحر یو ښاخکې یمه !

زه د ستم له اوږه پورتریو بخړکی یمه !

زه دوحشت له تورو لړو نه راوتي یوه کړیکه یمه !

زه دویرونو له جهانه یوه اوښکه یمه !

* * *

زه به غزل وایم ، طرب به کړم ، خوښي به کړم !

خو هغه وخت چې مې وطن آزاد وي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوطن زوی مې په خپل کور آباد وي!

د پښتون له پېښه ورو سره

د دوی د ژوند واك او اختيار نه وي

د ظلم او زور د تورو شپو ګريوان

د خپلواکۍ نور ورخيرلی وي

د حقيقت لمر راختلی وي

خو

څوچې تياره وي، توره شپه وي د وحشت په وطن!

(نور)

له ما،

له ما خوښي، له ما طرب مه غواړئ!

زه د الم د توپاني بحر يو څاڅکی يمه!

زه دستم له اوره پورته يو بڅرکی يمه!

زه د وحشت له تورو لړو نه راوتې يو ګړيکه يمه

زه د ويرونو له جهانه يوه اوښکه يمه!

له ما مه غواړئ د غزالو د مستۍ غزلې!

مه کوئ هيله د کيسو، د قصيدو د مدحو!

مه کړئ آرزو د لړزوونکو، پاروونکو نظمو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ما ،

له ما خوښي ، له ما طرب مه غواړئ !

۱۳٦۱/۷/۱۷

پېښور ، کچابېانس

## ټي ، بي*

په خپل کلي ، خپل وطن کښې روغ رمټ وو
شو مړکونی رنځ ناڅاپه راعيــــــان
وو ، «ويروس» يې له وروسته څخه راغلی
د ټي ، بي په رنځ تباه شول افغــــانان

۱۳٦۱/۷/۱۱ پېښور

## نقاهت*

د ټي ، بي له رنځه خلاص شوکه خدای کاندې
بس اوس پاتې يې دوره د «نقاهت» ده !
سور محور يې سره مابنام ته رســــــيدلی
د روسي بنکېلاك تخته د مېنځ ترکت ده

۶۵/۳/۱۰ پنجاب ، لارنس پور

---

* ټي .بي د تره‌کي او ببرک دنوموړو د سرتېکي دي چې د تو برکلوز د ناروغۍ نوم هم دی او دا نوم دا ښکلي کاله د واړه ورو لوته په کابل کې اخېستل کېده ، نقاهت هم د نجيب د نامه له سرتکي څخه جوړ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وینو باران

آسمانه واوره باران مه اوروه !
زه لا د وینو بارانونه لرم
ستا ټوکرونکی غاټول نه غوارمه
چې د شهید ګل، پرهرونه لرم

***

آسمانه واوره باران مه اوروه !
په وینو پالم د وطن ګلونه
کرم او به خوربه یې د تن په وینه
تازه به ساتم د چمن ګلونه

***

آسمانه واوره باران مه اوروه !
زه د غلیم پر سر بن لنبی اوروم
چې زما لورته یې کاڼه کتلي
په سره دښمن مې سرې ګولۍ اوروم

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسمانه واوره باران مه اوروه!
نه لا د وینو بارانونه لرم
د وخت فرعون ته توپان جوړوم
لا په آمو کښې غورځنګونه لرم

۱۳۶۳/۱/۱۴

پېښور

## دولت که دولت

دا "دولت" رښتیا "دولت" دی
هم سنګځل کا هم وهل کا
تر "دولت" لا پسې تېر دی
وحشیانه انسان وژل کا

۱۳۵۷/۱۱/۲۷، کابل

## زحمتکَش او زحمتکُش

زحمتکَش یې زحمتکُش په زحمت کَش کړل
جبري کار ته، زندانو ته، ادیرو ته
په رښتیا د زحمت کښو حکومت دی
زحمت ویشي ښار ته، کلیو ته دېرو ته

۲۸/۸/۱۳۶۱، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راسره وژړل

زه یوازې نه یم ټول افغان راسره وژړل!
هر یو بشردوست په آه افغان راسره وژړل!

زما د سوي زړه، سوې ژړا چې یې تر غوږ شوه
زړه یې چې درلود هر یو انسان راسره وژړل!

ډېر لوی مصیبت زما په کور کښې سترګې پرانیستې
دا چې هم کافر، هم مسلمان راسره وژړل!

چیغه مې د غم لکه ققنس له سوزه ډکه وه
شا او خوا مې ټول ساز او سامان راسره وژړل!

سپینې مرغلرې د شبنم هر ګل را پرېښودې
ډېر مې وو غمونه، ګلستان راسره وژړل!

ما چې په تور تم د رڼو اوښکو ډېوې بلې کړې
ستورې یې را کوز کړل کهکشان راسره وژړل!

څړیکې مې د زړه چې په پټرې شونډو کې کړیکه شو
ټولې یې تنې کړلې ګریوان راسره وژړل!

زه یو آواره یم، کله هلته، کله دلته یم
اوښکې سرګردانې دې آسمان راسره وژړل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه یم پوه واړه زړه کښې یې څه اندیښنه تېره شوه
ما «رفیع» چې وژړل، «امان» راسره وژړل!

۱۳۶۹/۷/۲۵

پېښور

# «اکسا، کام، خاد»

په «اکسا» کښې یې حق سا «هم تر پېره سلب کړه
«کام»، «ناکام» کړل د ځوانانو ارمانونه
د «وحشت دا انسان سوز ماشین چې «خاد» شو
کړل «نابناد» یې په زرګونه، په لکونه

۱۳٦۱/۸/۲۹

# شاه شجاع او ببرک شا

پنځوس زره انګریزي پوځ ورپسې وُ
شاه شجاع بریت تاوول سپر د دفاع وُ
خو یو لک خرسان ترځ، ببرک ترشا ته
دا دی ځکه «ببرک شا» ها «شا شجاع» وُ

پېښور، ۱۳٦۱/۸/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خاکِ من

برو!

برو!

برو!

از مرزهای ما

به مرزهای خویش

اشغالگر بی رحم

استمگر زمـان !

برو! برو! زین خاک ما وزین وطن ما!

* * *

این میهن آزادگان

از قرن های قرن

آزاد بوده است

آزاد زیسته است

برو!

برو!

برو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای کرگسک پیر

عقابها

اسیر صیادان نبوده است

* * *

این خاکِ پاک ما

از سالهای سال

از قرنهای قرن

از چشمه های پاک

و ز رگهای تاک

ما را باده یی

ز ازادی داده است !

* * *

اینجاست

ملتی

غیور و با ایمان

دلدادهٔ ازادی و آزادگی خویش

اندر نبرد حق

در راه حفظ خاک

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر میدهد آسان

هرگز زکف آزادی وطن نمیدهد

* * *

این میهن عزیز

فرزند تاریخی وکهنسال جهان است

آزاد ومستقل ؛

در طول زمان است

تا هست این جهان

تاهست یک افغان

این میهن ما نیز

آزاد میماند

آزاد میباشد

برو!

برو!

برو!

از مرزهای ما ،

به مرزهای خویش

(c) ketabton.com: The Digital Library



آنجاست خاک تو

اینجاست خاک من !

۱۳۵۸/۱۲/۱۰

کابل، زندان پلچرخی

## د لستوڼي مار

بل کاري ګوزار پرې وکړئ پرې يې نن دئ

پاس په سر يې چې خوړلی دا ګوزار دی

خپلواکي نعمت ته نه شئ رسيدلی

څو ژوندی دا د لستوڼي د منځ مار دی

۱۳۵۸/۶/۲۲ کابل

## رجیم

د پردو په مټو واک ته رسیدلی

سره ښکیلاک را ستولی مستقیم دی

څکه هر افغان يې ولي په سر کاڼي

د ببرک رژیم رژیم نه دی رجیم دی

۱۳۶۱/۸/۲۹

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وینو بهیر

خلکو یې ځایه تورن کړي شرمښان په وینـــو
یا یې بې‌رحمه شان بللي دي پړانګان په وینـــو

خو په خونړیز کښې کمونستو تردوی وار وله
چې یې ماره د انسانانو کـــړل لیوان په وینـــو

اوس مو پښتیلو ســـترګو ولیـــدل پښتیل وطن کښې
مونږ اوربـــدلي وو چې رغښتل به اوښان په وینو

یادونه هېر دي فریادونه له هر خوانه آورم
د هسک مرغونه هم افغان کړي د افغان په وینو

زما په ګران وطن کښې دومره وینې توې شولې
چې ښایي لوند په ځای د اوښکو کړم ګریوان په وینو

تورې لوخړې د بمونو تر بې‌راپورته شولې
کوږ ونه رنګ شول کلي رنګ شول د انسان په وینو

سترګې تیاره شي مرې خواته وینې وینې وینــم
چې راپه یاد شي لړل شوی شهیدان په وینـــو

دگنهګارو(!)، بې گنا هو ترمنځ پوله نشته

سره پراته واړه - زاړه ښځې، ځوانان په وینو

څوک په مړو، څوک په کورو، څوک په زندان کې مړ شول

هم کور په وینو دی، هم لړ ند دی زندان په وینو

له یوه سره د سرو په پریکولو سر شول

هم دې خانان په وینو رنګ، هم دې خواران په وینو

دوی کړل کښیناستل د وینو تویو د پاره

هغه کورونه چې له ځایه وو ودان په وینو

څوک یې وژلي په توپک څوک د بمو په مټو

څوک په ژوندون ښخ شول ترکتور په گورستان په وینو

صرفه یې ونکړه په هیچا د وطن په زویو

کړل یې امامان په وینو رنګ هم ملایان په وینو

د علم او فکر سرمایه یې له وطن کړه ورکه

چې په څه پوه وو کړل یې ډوب هغه کسان په وینو

که محصل، متعلم و، که مامور یا استاد

چې د دوی نه شول واړه غرق شول د توپان په وینو

دوی کله اړ شول په لیکوالو، ډاکترانو باندې

ډوب یې کړل ډېر متخصص، انجنیران په وینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګران وطن معنوي پانګه یې له مینځه یوړه
علم په وینو شو، ادب او ادیبان په وینو

کلي په کلي، ښار په ښار یې وینې وکړلې
دوی سرتر سره ولړل دښت او دامان په وینو

د روس له پاره یې د خلکو غلامي پیل کړه
د روس په لمسه یې خولم کړل افغانان په وینو

وطن په وینو دی ولړ شوی د وحشت له لاسه
د سپاهي نه دی ښایي لیک شي دا داستان په وینو

زه به یې وښیم جهان ته کومه ـ کومه برخه
دوی لړند کړې هر طرف افغانستان په وینو

عون تڼوي چې د کونړ د غمو چیغې واوري
اوبه سرې شوې دي د سیند د نورستان په وینو

کله وتی شي د کیراړې قتل عام له ذهنه
د خوږیند و میند و ځه لړند شول بچیان په وینو

د "شیګل" شګې هم په سرو وینو ککړې ولمبیدې
د "نیشګلام" ښیلې چې د ګې کړې باران په وینو

د "ننګرهار" د ګلو هار د وینو عکس ښیي
چې یې په ښو کښې رغړیدلي دي ځلمیان په وینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د «الیشنګ»، د «الینګار» سیند ونه سره ښکارېږي
دی لړل شوی سرتر پایه ټول «لغمان» په وینو
په «حصارک» کښې ایسار شوي سره اوروونه دي
په «خوګیاڼیو» کښې ټانکونه شول روان په وینو
که «خیرخانه»، «کرپای منار»، که «چنداول» د کابل
«بالاحصار» یې کړلو سور لکه الوان په وینو
د «لوګر» غرونه لا تر اوسه شاهدي پرې وایي
چې یې ډوب کړي دي د غیرې ماشومان په وینو
که «برکي» ؤ، که «پادخواب»، که د «علم پُل» ؤ
ټول وللي وینو دي، هم دی «تنګی واغجان» په وینو
د «خرخې» کوږونه، په «خرخي» الیکوپټرو وران شول
په «بچاوند» کښې چا ونه مونده امان په وینو
«تېره» «بیاره» شوه د توپونو په لوخړو باندې
«ګردېز» جنګړېز کړه سور په وینو، ګردېزیان په وینو
ستړه د «ستو» په کنډو کښې د سرو ووته
هم کلیوال وو، هم عسکر منصبداران په وینو
«زرملې» خپل بې شمېره ملیو غل له لاسه ورکړل
ژوندي تړې ولاړل، پاتې، پاتې شول بې نښان په وینو

شول مړي کوټه «سید خیلو» وزه»، «دوه مانده» کې
په «زیړوک» پریوتل لا شونه، شو «گیان» په وینو
په «سیدکرم» کې په «ځاځیو» کښې ځای پاتې نشو
«منگل» په وینو «خوست» په وینو شول «ځدران» په وینو
هلته شمال ته په «تنگاب» کښې تک د وینو وشو
شیر د «پنجشیر» په وینو رنګ شو «پروان» په وینو
«پلخمري» ده، کم «دوشي» دی بیخ له وینو نه شول
غاټول د دښتو ځیگر خوړ شول د «بغلان» په وینو
«تخار» په وینو دی، «فرخار» او «فیض آباد» په وینو
په کان کښې وژړل لا لو د «بدخشان» په وینو
«مزار» مزار شو د وطن د وطند وستو بچو
«میمنه» مینه شوه د وینو «سمنگان» په وینو
د «صلح کل» «بودا» لمن یې هم په وینو سره کړه
چې یې خوب پولې پټې کړل د «بامیان» په وینو
د «امیربند» د وینو ډنډ شو، پنجاب سو ښکاری
«شهرستان» رینی، لړل شوی «مالستان» په وینو
حیات د خلکو په «خوات» کښې په سرو وینو رنگ شو
«بهسود» په وینو دي لړلي، دی میدان په وینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ونخی»، «کر»، «شنین»، «کر» «جغتو» دی وینو ولمبول
«خروان» په وینو شو، «رنګین شو» «زنخان» په وینو
«هغه غزنین» چې ما لیدلی وُ اوس هغه نه دی
بوی د سرو وینو تری راځي رنګ دی ګلان په وینو
«ناور» په وینو دی «واغز» دی سرو لنبو وهلی
«رباط»، «تاسنګ» او د «شلګر» دی هر مکان په وینو
په «قره باغ» او په «مُقر» بمونه و اوریدل
د ښتي او غرونه لمبیدلي د «روزګان» په وینو
د «اورګون» زمکه شوه اورګوړي د لمبو د لاسه
د «وازي خوا» د «کټوان» دی هر میدان په وینو
«شینکی» شوه سره، «دروازګه» سره «سورغر» شو سور په وینو
ښکته او پورته ډوب شو «توَل» «زابلستان» په وینو
«ارغنداب» وینې شو «کرز» وینې شاو خوا یې وینې
«بولدک» په وینو، هم یې ډوب کړ «ارغسان» په وینو
په «لښکرګاه» کښې د لښکرو وینې وبهیدې
«موسی کلا» په وینو سره شوه «هلمند» وران په وینو
په «فراه رود» د وینو رود د افغانانو ګډ شو
«شینډنډ» د وینو ډنډ شو، لړزند شو «سیستان» په وینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



« هرات » په یوه ورځ کښې د برش زره بچي مړه ولیدل
هم د « بادغیس » ، « مرغاب » په وینو دی « لامان » پرېښو
وطن په وینو باندې رنګ شو کلی - کلی رنګ شو
خو ماره نه دي تر آخره ظالمان په وینو
د وینو - وینو په لار ولاړم د وطن په غښیر کښې
سمه په وینو ، غر په وینو ، ګلستان په وینو
ملي ماتم یې د افغان اولس په خلکو راووست
خوله مې د وینو خوند کوي ، سور مې بیان په وینو
د کونډو ، رنډو ، خویندو ، میندو چیغې هره خوا دي
چې یې وحشیانو لوغړولي دي خپلوان په وینو
تاریخ مې پاڼه - پاڼه واړاوه په وینو پسې
لګرد دوی د بل چالاس نه دي داشان په وینو
د ټول تاریخ د وبسو پاڼې یې په وینو ولې
تر دوی شول وروسته هلاکو او چنګیز خان په وینو
عَبْدُالرَّحمٰن له کګریو یو څو ځلي جوړ کړل
دوی سراسر ورنګاوه هر یو مکان په وینو
خو ناحق وینې یې لاس ناځلي له لمنې څخه
څکه لړلي وي ټول عمر قصابان په وینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باد روان له شرمه دک مرګ به هېر نشي د څپا
هغه ترکۍ چې یې سور وهر «پرمان» په وینو
امین دلوی خاین په ټوګه ورک شو، سپک شو پسې
روسي باداریې کړلو موږ سره د خپل ځان په وینو
کارغل به هم د پسر ژړ د وینو په بهیر د وبهېږي
چې له اوله ؤ وطن ترا روان په وینو
داد افغان وینې به نشي یې بدله پاتې
ژړ دي خولم بکري خپل واره دښمنان په وینو

۲۳/۱۰/۱۳۵۸

کابل

# عاشوره

رادبره شوه دکال ددرانه غم ورځ
هغه ورځ چې یاده ده د لوی ماتم ورځ
شوه حرامه آرامي په اهل بیتو
سره شوه، توره شوه له غمه محرم ورځ

۱۵/۷/۶۳

۱۰ محرم ۱۴۰۵ه،ق

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نور څلي

## د بګرامي غازي او سرلوړي شهيد
## مولوي شفيع الله په ياد کې

هغه غازي چې يې د توري شپې په تور زړه کښې
د تو غنديو د نور کرښې هره خوا ايستلې
د حق رڼا به يې د زړه سترګو ته نور ور باخښه
زمې ګولۍ يې د هدف په لور رسا ويشتلې

* * *

هغه غازي چې د باطل په سنګرونو باندې
په عقابي غورځنګ په لوړ جرأت بريدونه کول
د دښمن زړه ته يې رسا د توري خرپ رسېده
په خيل وحشي دښمن يې سم - سم ګوزارونه کول

* * *

هغه غازي چې د جهاد ډېوې يې بلې کړلې
د کابل ښار په زړه کښې څه چې ان دارګ په خوله کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل رسا ـ رسا ګوزارېي بې حسابه ورکړل
د دين او خاورې دښمنان د رسوا مرګ په خوله کېنې

* * *

هغه غازي چې د باطل غزنه يې غلې کړلو
دحق دلارې د راکټ په لړزوونکو ډزو
د روس دظلم ، استبداد او د فساد حاله
پرله پسې برې ويشته په نړوونکو ډزو

* * *

هغه غازي چې هر غازي ورته د ستر ګو تور ؤ
ده ته ؤ يو که به دتور ، که به د سپين ګونډ ؤ
چا به چې زړه د روس کړ نخښنه د زړه سر ؤ دده
دده نظر کېنې يو د کفر بل د دين ګونډ ؤ

* * *

هغه غازي چې زور ، زاری او زر پېرې نه چليدل
د عارضي سولې ، تسليم په لاره تللی نه شو
سر لوړی ژوند د ژوندانه عالي هدف ؤ دده
سرېې بايللی شو خو چا ته کښېنولی نه شو

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه غازي چې عقیده او جهاد ژوندۍ ورته
کوه صاف نه يې په صاف زړه جهادونه کول
په هر مصاف کښې به يې برېښو بنکلولې يې پښې
کړل تار او مار بې چې د ښمن به قطار ونه کول

* * *

هغه غازي چې يوه لحظه يې هم آرام نه کاوه
وايي: آرام شو دژوندون د لوړ مرام په غېږ کښې
شفيع الله وُ شو شفيع يې الله ولاړ الله ته
شولو آرام دخپلې توري د نيام په غېږ کښې!

* * *

خو غازي نه مري ، شهيد نه مري ، هغه تل ژوندی شو
ظاهره ښکاري چې زمونږه لوی غازي غلی شو
چې تر قیامته کړي رڼا او تر آسمانه رسي
شفيع الله د دې ځلانده ښکلي نور ځلی شو

* * *

۱۳٦۴/۴/۳

پېښور

# بت پرستي

تا پستي کړه، ما سستي کړه، ده چستي کړه
را نه لاندې يې د پلار نيکه هستي کړه
ها دې ياد دي زه د حق په مينه مست وم
ای د نن زاهده! تا به بد مستي کړه!
د دارېنو سرخرويي مې شوه په برخه
چې په وينو مې خيشته خپله هستي کړه
که پرون مې سومنات کښې بُتان مات کړل
نن مې مانړه د ما دې بُت پرستي کړه
چې کلونه په رنګونو کښې وه پټه
ښه رسوا مې اوس وحشي کمونستي کړه

۱۳۶۱/۱/۱۵

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زېری

زه یُم شاعر!
زه د وطن شاعر یُم
ما د وطن د عشق نغمې ویلې!
ما مې اولس ته ترانې ویلې!
ما ویښول،
ما پاڅول،
ما هڅول وګړي!
تل د لوړتیا،
د پرمختیا،
د وړاندې تیا لپاره!
زما ارزو وه چې زما ملت هوسا شي هوسا!
شي پخپل کور کښې بسیا!
د تمدن له ګړندي یون سره یون وکوي!
ملې پاڅون وکوي!
په ملي هڅه او تکل وطن آباد کاندې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مینه - مینه

* * *

خود پردیو ګوړ اګیانو پکې شوکه وکړه ،

داړه یې وکړه ،

د داړې له لارې واك د دوی شو ،

دوی خپلواکي په بل واکي ورکړه

د بل په واك کښې یې زموږ آزاد ملت ورکړ ،

له هر څه تېر شول ،

خپل تاریخ او خپل کلتور یې پرېښود ،

پر خپلواکی مین ملت ته یې په غاړه باندې ،

د پردو ژغ کېښود !

نو زه به شاعر وُم ! د ملت شاعر !

خود نغمواو ترانو په ځای به ساندې وایم !

پر خپلواکی ، په آزادئ پسې به ژاړم - ژاړم !

تش په ژړا نه شي ،

اوس وخت د ژړاګانو نه دی ،

دا خپل ملت به یو ځل بیا پا څوم ،

بیا مخشوم !

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

زه باوري يم !

زما خلك غلامي نه مني ،

د بل تر ژغ لاندي ژوندون نه مني ،

يون كوي

د روڼ تاريخ رڼه او سره لاره تري نه هيريږي !

دوی په دي خپل ښځرکلن تاريخ کښي ؛

لوړي تاللي يې تورې اوغزيږي ګاللي ،

خو بل ته نه دي تسليم شوي، غلام شوي نه دي!

دوی په خپل دي ښځرکلن تاريخ کښي :

ډېر پر غلګر ، ډېر داړه مار ليدلي ،

ددوی په خاوره بلوسېدلي له هر خوارا غلي ،

راغلي دي ، يرغل يې کړی ، بلوسېدلی هم دي ،

خو يا تې شوي نه دي بېرته ژوندي تللي نه دي ،

چا سر خوړلی، څوك برايېن عوندي تېې تښتلي ،

وطن فروشه افغانان يې بېګا نه بللي ،

په هاغه لار يې لېږلي ، چې باداريې تللی ،

ژوند ته يې نه دي پرېښي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه شجاعانـــ یې ټول په ګور منډلي !

***

اوس هـــم همغه وينه شته لا سړه شوې نه ده !
اوس هـــم همغه مينه شته لا زړه شوې نه ده !
اوســـ ـ اوس هـــم شته د وطندوستو افغانانو بچي
نه پرېږدي دلته په دې پاکه خاوره ،
پردي تېري ،
د دوی ځايي ايجنټان
د دوی په روبلو اخیستي شوي داخلي نوکران !

***

که باور نه لرئ نو ورشئ نورستان وګورئ !
د کونړ لوټه ـ لوټه ،
کلي ـ کلي
هلته تنګاب ، بلخ ، سمنګان وګورئ !
پکتیا ، اورګون ، هرات ، هلمند او بدخشان وګورئ !
ټولو ځوانانو ،
زړو ـ ښځو
او وړو ـ زړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ننهوو رتیا او په مېړانه ،

سینې سپر کړلې

د توپ ګولو ته ،

د ټوپک شلیک ته ،

د دوی سرونه ټانکو لاندې کړل ،

خو ټيټ نه شول ،

د بل نوکر ته ، د پردو امر ته ؛

غاړه یې ورکړه ، خو په غاړه یې قبوله نه کړه

د مړئیتوب کړۍ

غاړه یې خلاصه کړه وطن ته

او ملي تاریخ ته !

دوی قرباني شول د وطن په مقدس جهاد کښې ؛

* * *

زه باوري یم چې دا سرې وینې به رنګ راوړي

د آزادۍ د ناوې لاس به سره کا

افغان ملت به یو ځل بیرته کړي آزاد تنفس ،

په خپل آزاد ،

د مېړنو هیواد کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه باوري يم چې دا کېږي
او ډېر ژر کېږي،
دا د آزادو مېړنو وطن غلام نه پاتېږي!

* * *

زه کړيوځل د آزادۍ سپېځلې ورځ وويينم!
بيا مې په زړه کښې بل ارمان نشته،
بيا نو که مرم نو ډېر هوسا به مرم!
په خوشالۍ به مرم،
زړه خوښی،
په خندا به مرم!

زه باوري يم چې وطن به آزادېږي زما
خو که زه مړ نوم په دې منځ کښې
نو خوږ وملګرو!
تاسو تر هيله کوم،
خواست کوم،
غوښتنه کوم!

چې د وطن د آزادۍ په مقدسه ورځ
زما تر قبره څوک راواستوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ما ته زېرې د وطن ــــ د آزادۍ راکړي
زه به په قبر کښې خوشاله شم، خندان به شم
زه به په قبر کښې هوسا شمه، آرام به شم
د ا زېرې ـــــ
ما ته دی د ژوند زېرې!
د نوي ژوند
او د تل ژوند زېرې ـــــ!

۱۳۵۷/۱۲/۲۳
کابل

# د ورشو، ورشو*

چې د ټول جهان نیول یې وو په نیت ــ کې
ها حریص تر اوس ساحه د پښو شوه تنګه
چې بې سره پکښې هره خوا یې خــــر وُ
قطبي خرس ته د ورشو، ورشو شوه تنګه

---

* لومړی ورشو د پولینډ د پایتخت «وارسا» او دوهم ورشو د ځمځای «په معنیٰ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پخه لار

په وطن چې د وحشت سیلۍ خوره شــوه
هرې خواته ویرانه شوه- ویرانه شـوه
ورځ وې سپينه ، شپه وې توره په دنیاکې
خو زمونږه ورځ هم سره او شپه هم سره شوه
آرزوګانې مې د ژوند شوې ځوانیمرګې
د ولسه نږ ښکارې هرلورته جنازه شوه
کریوانونه ترلمن پورې پېژه شول
د کفن خبره پاتې شوه ، زړه شــوه
عرش پورې نولې له آسمانه د نور څاڅکې
چې سنګر کښې د شهید وینه د ډېره شوه
او ښکې لاندې کړې د وینو بهیرونـو
د غمونو قافله ډېره درنه شـــــوه
آزادي به پرې سرلوړې ځي « رفیعه ! »
په سرلوړو ګټروچې لار پخه شـوه

۱۳۶۴/۱۱/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ځاروي ګوند ترانه

په ژوبڼ کښې خوشالي ده چراغان دی
چې ترېخ يې نابغه څوګ قهرمان دی
امبا! امبا! امبا!
هورا! هورا! هورا!
«نور به نه وي استثمار د فرد له فرده
بڼ مو پاك کړ د انسان د پښولو ګرده»
د غوايه غوږ دل کړی هر انسان دی
په ژوبڼ کښې خوشالي ده چراغان دی
امبا! امبا! امبا!
هورا! هورا! هورا

* * *

«نور قابض زموږ ملکري په هر څه دي
که غوجلي، که ځنګلونه، که وابنه دي
په خپل واك مو شر وکړي چور تالان دی»
په ژوبڼ کښې خوشالي ده چراغان دی»

(c) ketabton.com: The Digital Library



امبا ! امبـــا ! امبـــا!

هورا! هـــورا! هـــورا!

* * *

ای ځاروو ملګرو خو ښ شئ، خوشالیږئ

د پرانو نه مو تول خپل دی پری پښلو یږئ!

ګلان خو زئ په بو یو و کښې یې تاوان دی!

په ژوبڼ کښې خوشالي ده چراغان دی

امبـا! امبـا ! امبـا!

هـورا! هـــورا! هـورا!

* * *

د خوګانو مشري د پر د پرافتخار دی

د غوایږ بغــاوت نوی ابتـــکار دی

د ځارویو نهضت تو ند پرمخ روان دی

په ژوبڼ کښې خوشالي ده چـــراغان دی

امبا! امبـا ! امبــا!

هــورا! هــورا! هـــورا!

۱۳۵۸/۷/۲۳

پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وینه او مینه

وینه په مینه توئیږدو تر پیدا

په کومه مینه؟

د وطن په مقدسه مینه!

په هغه مینه چې تر پښو پاکه بله مینه نشته

او هغه وینه چې تر ې صافه بله وینه نشته

دا وینه جوړه د وطن د مور له تیونه ده

دا وینه وینې د چینو له سپینو پیونه ده

دا د وطن د مور له وینې ده

له مینې ده

دا د وطن په لار تویږي

زرغونېږي پرې،

تازه ګلونه،

سره ګلونه،

د لاله ګلونه،

په پسرلي تازه کوي د وطن د ښتې غرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د وطن په لار توییږي له دې وینې قربان!

چې د وطن ناموس خوندي کړي له دې مینې قربان

وینه په مینه تو یېدو ته پیدا

په کومه مینه؟

د وطن په مقدسه مینه!

۱۳۵۸/۲/۱۰

وردګ، آبدره

# سالنګ که سالنګ*

"هندوکش" مو له ازله عدوکش دی

چا چې کړې پرې تېرې، تېرې یې شنډې دی

خو روسانو چې یې زړه تر عزمه ورلنډ کړې

دوډ یې وخوت ویل: "سالنګ نه دی سالنګ دی"

۱۳۶۱/۸/۲۰

پېښور

---

* دا توره په سالنګ کښې د سوونو روسانو د مړینو اړیدلو په ارتباط ویله شویده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کمونیستي

خلک قتلول "بشر دوستي" بولي
کور د چا په زور نیول "دوستي" بولي

جنګ او تجاوز ته نوم د "سولې" ږدي
حق پایمالول "حق پرستي" بولي

چور ته، لوټ ته "عدل"، "مساوات" وایي
لوڅ تېري "د سولې همزیستي" بولي

روس ته غلامي کول "شرف" ګڼي
لا د آزادۍ نیول "پېښي" بولي

کور په کور نفاق کول "وحدت" شمېري
حق جهاد د دین پر "بانه یستي" بولي

فسق، فساد "اخلاق"، او باطل "حق" ګڼي
ټولې بشري هستۍ "نیستي" بولي

هر څه یې چې په قاموس کښې وي
ګرانه بس همدا "کمونیستي" بولي

۹ / ۱۰ / ۱۳۶۱ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وینو رنګ

په ګلبڼ کښې پاڼې شوې دي ګلونه
پرې راغلي د خزان دي سره بادونه

سرو لمبو دي سره ګلان له منځه وړي
پاتې شوي يې اغزي د باغ په خونه

طبیعي پسرلی سره خزان تالاکړ
ګل ګیدیو ته يې واچول اورونه

د غوایه عوبل هرڅه سره دل ول کړل
په وطن وکړل غویو عوایه کارونه

د روسیې د کښت له پاره یې قلبه کړل
که کورونه وو یا وو ودان ښارونه

ودانۍ يې کړلې ورانې په بمونو
پرې يې کړ کړل د ځوانانو تاند سرونه

څوک يې کړل په تړاکټور ترخاورو لاندې
په چا تېر شول د روسیې درانه ټانکونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوك خوراك دماشينګن څوك دتوپو شول
چاته ګور كړل الوتكو خپل كــــورونه

نه واړه اونه زاړه ترې پر امان شــول
قتل عام شول : ښځې ، ووړكي ، زلمي ، نجونه

څوك هجرت ته شول مجبور له ګران وطــنه
په چا ډك شول په وطن كښې زندانونـه

زندان څنګه د قصاب قصابخانې دي
پرې كوي پكښې غوښې وته اولاســونه

په برقي ډنډو وهل دي څورول دي
په څرندويي بېلوي ترپښــه پوســتونــه

درسته وريځ وژل دي ، وينې دي ، وحشت دي
څوروي يې په ريشمو لكــه پســــونه

چې شعور يې وُ ، چې درك ، چې يې احساس وُ
ځ په ګور شول چې ور اوښتل محو ښــه

چې عالم ، چې په شعور ، چې بادانش وو
پرې انبار يې كړل د خاورو انبــارونــه

چې وطن ورباندې ګران چې وطندوست وو
د وطن د ښمنو پرې ښول ميــــــرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پردیو زرخرید و نوکـــرانـــو
د وطن په بچـــو وکړل ستمـــونه
خو باور دی چې داوینې به رنګ راوړي
شي پرې تاند به مو باغونه او راغـــونه

۱۳۵۸/۹/۲۳

وردګ، آبدره

## سرونه کرل

خلک په شاره هم ګلونه کـــري
یار* په ودانه ګټي بمونه کـــري
ودانه وراني خلک ژوندي خښوي
سر خښول نه دي، سرونه کـــري

۱۳۵۸/۲/۲۱

کابل

---

* یار دلته د ملګري، رفیق، تواریش په معنیٰ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# للـــون

د وحشت لړې له فضاء نه به خوربږي، ځې بـه!
د ایمان لاس به په باطل باندې برېږي، ځې به!
د نور د کرښې خنجر ننووت د شپې په زړه کې
نور د تیارو د رګو وینه به وچیږي، ځې بـه!
د وصال لمر د غزه په څوکو راختونکی سنکاري
د بېلتانه د واورې غرونه او به کیږي، ځې به!
زه به له یاره سره ځمه خپل اشنا دیار تـــه
د رقیبانو سره مخونه به توربږي، ځې بـه!
د بري زړې به زرغون شي د شهید په وینــو
دا هرزه بوټي په للون له منځه ځیږي، ځې به!

۱۳۶۱/۱۰/۹

پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا وطن

دا د افغان وطن دی ،
دا افغانستان وطن دی،
د تاریخ پاڼې یې زرینې دي ،
په وینو سرې دي او رنګینې دی !
* * *
دا د افغان وطن دی ،
دا د اتلانو کور دی !
دا د وطن په سینه مستور شازلمیانو کور دی
سرونه ږدي په خپل وطن ،
خو د حیا پښو کې نه ږدي ،
له افغاني غروره ډک سرونه !
د وطن ننګ کې ،
د ډګر په جنګ کې ،
خوښیږي مرګ ته ،
هیڅ وخت نه خوښوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور په منځ کښې د تلتک مرګونه

* * *

دا د افغان وطن دی ،

دا د عقابانو ځاله ،

دا استعمار قفس ته نه بڼدي غاړه !

په خپله پاکه او آزاده خاوره ،

کله پرېږدي د بل ناپاك پلونه !

دا استعمار بابښي په ځمکه ولي ،

د دوی ځایي کونګان په خاورومنډي ،

نه پرېږدي ، نه پرېږدي

په خپل دې مقدس وطن کې

د مردارخورو ټپوسانو د وزرو ټپېدل !

* * *

دا د افغان وطن دی ،

دا د میړنو مینه ده !

دلته پردي تېری کوونکي تم کېدلی نشي !

که شي پښېمانه هم په تېښته - تېښته ،

سرونه وړلی نشي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په ژوندیو پښو راځي
په مړو پښو بېرته وزي،
ځینې يې بېرته هم په هیڅ شکل وتلی نشي
په تېښته تللی نشي
سرخېل ساتلی نشي
دا د افغان وطن دی،
دا افغانستان وطن دی،
د تاریخ پاڼې يې زرینې دي
په وینو سرې دي او رنګینې دي.

۱۳۵۸/۲/۱۰
وردګ، آبدره

# د شهید وینه

که سینه سینه د کابل سینه
ته چې رالوېږې ترابا سینه
سوات ته غېږ ورکړې خوږې اګه نشي
په یوه کېنې ساتي د شهید وینه

اټک ۱۳۶۴/۶/۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څه ونه وايي؟

په ملک د بل حکمراني ده چې څه ونه وايي؟
د سره ښکېلاک خر دواني ده چې څه ونه وايي؟
کړي وطندوست وطنفروش ، انقلابي قلابي
د ټومتونو پرېماني ده چې څه ونه وايي؟
که خپلواکي غواړي چېټک څه د زندان په لوري
د مېني مينه زنداني ده چې څه ونه وايي؟
که سر دې ټيټ نه کړ تېښتېږي د برچې په څوکه
سر ايښود ل لو يه ځواني ده چې څه ونه وايي؟
د عوه د ټول انسان کوي فکر يې سيه کې دی
دلته تر او سه ځانځاني ده چې څه ونه وايي؟
د سردارانو امتياز دی او س د دوی ميراث دی
په عيش او نوش زندګاني ده چې څه ونه وايي؟
ماهر درزي تور استعمار ته سره کالي وا چول
رنګ دی بدل زړه خاني ده چې څه ونه وايي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که تن زندان ته، سر مې دار ته، ځان مې ګور ته درومي
مقابله مې ایماني ده چې څه و نه وایې ؟

۱۳۵۷/۸/۵

کابل، باغ بالامینه

# جبه زار

پلار وطنه «جبهه» څه دی بر «جبـــه» ده
د چا پلار وتنه نشي ځنې کــرلې
له کابل نه کــه کا، بل لــوري ته هځــــه
په تابوت کې مړ «جبې» پورې شي تــللی

* * *

پلار وطن جبهې ته ورچې شي ســـړی
د چا پلار وتن جبې نه نه شي کــړی
«سیل هله وي خښنتن چې دخره راشي»
بیا ایله «مـــردار» عزونډی ته ځان شي وړی

۱۳۶۱/۹/۱۰

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شمال له خوا شمال دی

د افغان په پاکه خاوره، نوی دوری راخوری شوی
د توپونو، د ټانکونو، د ټوپکو، د بمـــــونو
د شمال له خوا شمال دی، را خوځیږی، راتوندیږی
د آزاد ملت په کلیو، په کورونو، په باغونـــــو

* * *

د اتوپان د غلامی دی، دانوپان د بربادی دی
غواړی وران کړی زمونږ کلی، غواړی وران موکړی کورونه
غواړی وباسی له بیخه، خپلواکی سمسوره ونــه
چې ورکړی مو پلرونو دی د وینو بارانــونـه

* * *

دا د نوی وخت انګریز دی، دا د روس سور استعمار دی
په خوږو کې یې ترخه دی، په پستو کې یې زیږه دی
تر انګریزه خوځل تیر دی، خونیرنګ او رنګ یې بل دی
هغه یې په خوله نشته، چې نیولی یې په زړه دی

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلستوهني ماران روزي ملتوبزته په کور کښې
توږد میدان شي جوړوي ، دېر پیاوړی مداري دی
سرې ریتارې کړي ورپورې ، لکه وي يې په میدان کې
بې خبر خلک پرې راټول کړي دا يې راز استعماري دی

* * *

کور، کالي ، ډوډۍ شعار دی ، وږي خلک پرې دوکه کړي
خولې يې ډکې له اوبو شي ، چې ورگډ يې په اوبو شي
چې لا هوښ دې سره سیندته ، هرهرڅه ورڅخې یوسي
دغه وخت چې په ځان پوه شي ، په توبو شي ، په توبو شي

* * *

ننن راغلې هدا ورځ ده ، په وطن مو افغانانــــو
په میدان د سیاست کې خوښې شوي سره ماران دي
ډولکي د روس ته نا څي ، کله خملي ، کله پــا څي
خوروي په ملک کښې زهر ، ډېر بې رحمه دښمنان دي

* * *

بدل کړی يې خپل رنگ دی ، هر يو کار يې د نیرنگ دی
را روان په نوی لار دی دا د عصر استعمار دی

←----

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رنګونو غلط نشې، نیرنګونو یې رسوا کړه
د افغان اتل ملته! بیا دې وار دی - بیا دی وار دی

***

د تاریخ عنبتلیه زویه، بیا پر کار ده ستا میړانه
چې ژوندي درنه یونسي، د سمنان دې خپل سرونه
ستا په وار به ګوزاریږي، ستا په تورو به ختمیږي
استعمار ته په سرورکړه، خوبې سره ګوزارونه

***

باوري یم! باوري یم! آزاد کله غلامیږي
ولاړ شوي، روان شوي پښتنګان د آزادۍ دي
افغان کړی بیا قیام دی، نن یې بیا تر لې لام دی
وړاندې کړي یې میدان ته سربازان د آزادۍ دي

***

بیا ډک شوي سنګرونه، بیا په غرونو کې مورچې دي
بیا جګړه ده په تورکو، په چړو او په لښتونو
بیا د توپ او رد ټانکونو، د بمو مقابله ده
په تېرونو، په لورونو، په ډبرو، په سوکونو

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا راسي خبروېږد ملت د قربانیو
د افغان د مېړنوالي، شهامت اود بریو
په ټوپک نیسي توپونه، په ډلګي نیسي غونډونه
په تش لاس به ټانک ورخېژي روسان نیسي ترمړیو

* * *

بیا سره کړې یې ده زمکه، ددې وخت سرو استعمار ته
د «ګوره» په سرنوشت یې اړولي «سره روسان» دي
بیا د سرپورته کولو که خدای کاندې بېرته نه دي
په کارېګوزار یې ویشتي د لستوني سره ماران دي

* * *

له سروبونه تېرېږي، په خوبونو، خوشالیو
له وطنه نه تیرېږي، په لویشت - لویشت یې پړدې سرونه
چې سمسوره شي، چې شین شي، چې آباد شي، چې زرغون شي
سپېروې پرې د سرو وینو، خوږې سره سیلابونه

* * *

باورې یم، باورې یم، غلامي به ختمېږي او ده
را نژدې اتل ملته! اوس شیبې د خپلواکۍ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څو ورځو، په څو شپو کې، نتیجې به را وتـــلو
د غازي د میړنوالي، د شهید د قربانۍ دي

۱۳۵۸/۴/۲۵

وردګ، آبدرو

## ستالین او امین

د هر ظالم خونخوار ورېښتیا ده چې "ستالین" دی
خو سل ځله اوس او ښتي ترې «امین» دی
خلك وژني، کلي سيځي او ښار وران کړي
د ملت په کور کې جوړ ملي نـــــاورین دی

۱۳۵۸/۲/۲۱ کابل

## یو بیت

زما د ژوندانه بې ثباته تلـون کـې
زما د فکر رخته بند شوې زوړ نه شوې تازه شوې

۱۳۶۵/۶/۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توقفگاه زمان

اینجا پلچرخیست
زندان بس بزرگ
افسانهٔ سازقرن
اینجا همینجا
هزارها هزار
انسان این وطن
فرزند این خاک
سرمایهٔ ملی
درخاک وخون چومرغ نیم بسمل تپیده است!

* * *

اینجا پلچرخیست
زندان بس بزرگ
اینجا کتاب نیست
قلم در قید و بند
رادیو وتلویزیون

(c) ketabton.com: The Digital Library



بودن بود گناه
تلاش علم وفضل
جرمیست جرم سخت !

* * *

اینجا پلچرخیست !
زندان بس بزرگ !
اینجا زمان نما
آهسته میگردد
آهسته - آهسته !
اینجا ثانیه گرد
اینجا دقیقه گرد
اینجا ساعت نما
یک از دیگر آهسته میگردد .
به پیش نمیرود
گویا که در ینجا توقفگاه زمان است !

کابل، پلچرخی ۱۳۵۸/۱۲/۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ننګ تدبیر

لاس مې که خلاص دی خو په ذهن مې زنځیر پروت دی
چې ګران وطن مې د پردو په لاس اسیر پروت دی
له ما نه مه غواړئ خوښي، خندا، هوس، خوشالي
چې کور په کور مې د ملت په کور کښې ویر پروت دی
روښن فکران، رښتین فکرانو ټول خواره واره کړل
څوک په مړستون، څوک په زندان، څوک په بونیر پروت دی
ملت ویرجن، چاپیر ویرجن، ځمکه آسمان ویرجن دي
زما په شعر د ویرجن محیط تاثیر پروت دی
د وطن زویه! په تا وخت د امتحان راغلی
د تا په غاړه د وطن د ننګ تدبیر پروت دی

۱۳۵۷/۱۱/۲۷

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غوړېدلی؟ افغانستان

که وه ونه، که کلا وه، که انسان
چې د ځمکې پرمخ وو څه شی ودان
په ټانکونو، په بمونو یې هوار کړل
ښه یې وغوړاوه ګران افغانستان
د کورو په ځای یې وویشل ګورونه
خو بې شخنې او بې ښې، بې نښان
د کالو په ځای یې خلاص کړ وله کفنه
نې راپرېښوده لمنه، نه ګرېوان
د ډوډۍ په ځای یې وینې را خوراک کړې
کړل ماره ځمو ږ په غوښو یې لېوان
کړل یې لوږتي - لوږتي کلي، لوټ کورونه
په لوټمارېسې خواره شول لوټماران
کور، کالي، ډوډۍ یې واخېستل له خلکو
په وژنه یې هم اړ نه شول خلقیان

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوك د باندې ، څوك په بند کې ترتيغ تېر شول
شول خوار ه واره ، خوار ه - خواره يـاران
چې تود ې به پرې رمونږ مشـاعرې وې
بېل شـول هغه شـاعران او اديـبان
نه يې لوری ، نه لـودن ، نه يې درك شـته
شول بې پتې دوطن د پت زلميـان
دوطن دښمنو کـړل د حمڅـکې زېږې
دوطن په مينه مست خيـالي ځوانان
توري شوې دومره وينې په وطن کـښې
نه يې اوښکې شي وڅلي ، نـه بـاران
دبرچې او د نېـزې پـه څوکه باندې
خاينانو غوښتل ځان کړي امينـان
دبرچو او د نېزو تر څوکو لانـدې
ددوی زړه ؤ صـادقان کړي خـاينان
خبر نه وو چې وخت نشي غولـولی
چې خاين او امين ښيې دی زمـان
روسيه شول هم ملت ته هم تـاريخ تـه
په روسيه باندې يې وپلوره ايمـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی زړه ؤ چې افغان د روس غلام کړي
روس ته وسپاري آزاد افغانستان

خبر نه وو چې زمري په زنځير نه دي
په قفس کښې ژوندون نه کړي عقابان

دوی پوه نه وو تل به دا افغانستان وي
په جهان کښې څو ژوندی وي يو افغان

چا چې کړي ده سودا د ملک پلورنې
دي منلې يې په ګور شاه شجاعان

چې سپک ګوري د وطن د مورلن ته
سپک په ژوند وي هم په مرګ دا حراميان

د تره کي عوندي مړي د لښ له لوري
شي ناولی روح يې باد سره روان

دامين عوندي د سپي په شان مردار شي
د پليت مړي يې قبر وي ويران

چې اسلاف يې اول سپک او پسې ورک شول
دي اخلاف يې هم په دې لاره روان

دا وطن د بنسکېلاګرو هديره ده
ژوندي راشي، مرهم نه شي ايستی ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغان ملت وطن افغانستان دی
د لته ژوند کړای شي رښتیني افغانان
چې راغلي بېرته نه دي ژوندی تللی
د هر قوي استعمار ګر د دې جهان
دا وطن د آزادی په خښته روغ دی
دی تل ژوندی په غلامی نه په امان
آزاد ؤ، آزاد به وي، آزاد به اوسي
آزادي یې ده لیکلې په فرمان

۱۳۵۸/۱۱/۱۷

کابل

## دُرداني

د ماشوم په لاس مې ورکړې دُردانې
ځکه داسې شوې دانې-دانې دانې
چې له سونډو نه یې هیڅ شرلای نشو
نن په ما باندې رشید کړې زمانې

۱۳۶۲/۱۱/۱۹

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مناجات

بیټ نیکه علیه الرحمه یو مناجات ویلی ؤ :

دا وګړي د هرګړي خدایه !

لوی خدایه ! لویه خدایه !

خو کله چي په داؤدخانو کښي زموږ هیواد وال د بېکارۍ له لاسه ایران او عربستان ته په مزدورۍ پسي ولاړل ، په عربستان کښي به څوروول کېدل، شړل کېدل او سپکېدل او په ایران کښي به کله د قاچاقبر په نامه اعدامېدل او کله به یې نور زجرونه ګالل نو زه دې حالت وځورولم او د بیټ نیکه د مناجات څواب مې په دې ډول ووایه :

[۱]

دا وګړي د هر شول خدایه !

لویه خدایه ! لویه خدایه !

د خوراک او څښاک په غم کې   خواره شوي په عالم کې

له عربو تر ایرانه   لالهاند او سرګردانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روژې په لمه بنـــوري دي بې ستوري او بې سیوري
لېږ د بېدلي له خپل ځــــــايه !
لويه خــدايه ! لويــــه خدايه!

د دوی مېنې کوي کېنـــــې د کــوي دنور و خــــېنې
بشري قوت يې دروې هومـره مــومې چې بې شرمې
د پردو له خــوا ځــــورېږي د مړښت په ځای مړ کېږي
ژوند يې غم دی ســر تر پــايــه
لويــه خــدايه ! لويه خدايه !

د اولس وينه وچيـــــږي د خــو تنــو جــام ډکيږي
د کيـــږدۍ زامن هېرشوي د بنګلو خښــتن ډېرشوي
عنوي ورځ په ورځ خوارېږي او دوی سات په سات مړېږي
لوی واکمن شـــو رانـمـا يــــه !
لويـه خــدايه ! لـويه خدايــه !

تو له دې نه دي هم تېرشي؟ ددې ورنيو شـمېر دې ډېرشي؟
ورې تړې دې زيـاتـېږي؟ بيا له لوږې دی مره کېږي؟
داسې ژوند سنه دی که مړينه؟ چې مړ ژواندي ژوند کوينه؟
د تاخه ده ســكې راغيـــــه !
لويه خــدايــه ! لــويه خدايـه! کابل ۱۳۵٦/۲/۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کله چې د غوایې تر غوېل وروسته په ۱۳۵۷ کال کښې په افغانستان سره بلا رانازله شوه او زمونږ مادي، معنوي او بشري هستي یې ونغړله د خپل تیر مناجات په ځواب کښې مې دالاندې مناجات ووایه :

[۲]

دا وکړې ورک شول خــــدایـــه!
لوبیه خدایه! لــوبیه خدایه!

سور وحشت پرې رانازل شو    یو د بل د سر قاتــل شــــو
د سرو وینــو سیند روان دی    اور دی، وینې دي، افغان دی
هیواد ټول په وینو سور دی    وحشیانه قتل او چـور دی
وطن وران شو درد نمـــایـــه!
لوبـیه خــدایـه! لوبـیه خدایه!

لوټماران ورته را غـــــلي    مال او سر ته یې دي غـــلي
کور په کور باندې ویرخور دی    د چاپلار مړ د چا ورور دی
هر لور وینې - وینې - وینې    کله شوې دي ترې مینــې
هر خوا د کــه له وای واپـــه
لوبـیه خــدایـه - لوبـیه خدایه

ځوک شهید کړل الوتـــکو    ځوک یې مړه کړل په ټوپکو
په چا پریوتل بمونـــــه    پرې یې بل کــړه سره اورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک ځوراك شول دګولیو    د وحشت د سرو ښ لیو
د چا کور وران شو له ځایه
لویه خدایه! لویه خدایه!

څوك ژوندي په ځمکه ښخ شول    څوك د ځان په وژله خوښ شول
د چا قطع شول سرونه    د چا غوښې پښې او لاسونه
څوك تېکتېر کړل خاوروولاندې    څوك راوویتل د بانــدې
ټول په ویر شول سرتر پایه
لویه خدایه! لویه خدایه!

ډېرې میني وې سپېرې شوې    د وطن هستی ایرې شوې
سره کموڼ واره تبا کړل    عالمونه یې فنا کړل
څوك ژوندي ولاړل څوك مړشول    افغانان خواره واره شول
له ماره نه ترګدایه
لویه خدایه! لویه خدایه!

دا وګړي وو ډېر شوي    هرې خواته خواره شوي
په ځېل ډك کورکښې وو وږي    د او بو په غاړه تږي
د مرهېنت په بدل مره شول    په عمو باندې ماره شول
د تا داوه پکښې رایه؟
لویه خدایه! لویه خدایه!

۱۳۶۱/۸/۱۸
پښتنور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درزونه

د حسرتونو په دنیاکې مې عیشونه زیات شول
هومره مې درک زیات شو چې څومره مې دردونه زیات شول

د بېلتون اورمې د زړه خامه حونه ښه پخه کړه
مینه مې هېڅکه شوه چې څومره پرې اورونه زیات شول

د پېرواغزیو مې په بڼ کې سرراپورته کړلو
اغزي که پېرشول ورسره زما ګلونه زیات شول

د غلامۍ سره زنځیرونه زیاتي مات در واخله
چې مې په پښو کې په لاسو کې زنځیرونه زیات شول

ښه دي د غوټۍ پرېکړې لاره یې راوښودله
که مې سوچونه، که فکرونه، که چورتونه زیات شول

نور به د ژوند کاروان نه بند دم د سبا په غاړه
زما درانه درانه غمونه له پرونه زیات شول

د ناکامۍ خپېړو لار د کامیابۍ پرانسته
د ناهیلیو په سبب مې امیدونه زیات شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سرنه تېرو لیونو د صف سر لاری شومه
چې په شلېدلي ګریوانه کې مې درزونه زیات شول

۱۳۵۸/۵/۳۱

پېښور

## عقد

قران چې وویني قرآن نه ویني
چې پیمانزوی بیا پیمان نه ویني
عقیدې نه لري عُقدې یې ډېرې
ځکه د عقد ساتلو ځان نه ویني

۱۳٦۲/۷/۲۷

## د اتفاق صف

نفقه یې چې ده نغښتې په نفاق کښې
چې یې شق او تخصص دی په شقاق کښې
کامیابېږئ به هله غیورو خلکو!
چې ځای ورنه کړئ په صف د اتفاق کښې

۱۳٦۲/۲/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زندان

نه یم زندان کښې،
د ځرخي پله په لوی زندان کښې!
زما وطن تردې زندانه تنګ دی
ځکه په هره خوا کښې جنګ دی جنګ دی
د وطن هر لوری په وینو رنګ دی
هر یو افغان له ژوندانه نه تنګ دی
د آزادۍ د بل ځراغ پتنګ دی
په ډېر اخلاص سرونه ږدي د خپل وطن په لار کښې
د هندوکش غوندې ټینګ ناست دی د دښمن په لار کښې
وطن که تنګ دی د دښمن له پاره هم تنګ دی
په هر طرف د میړنو غورځنګ دی
د مجاهد سوک کار د بم ورکوي
غلیم ته نوی - نوی غم ورکوي

* * *

نه یم زندان کښې
د ځرخي پله په لوی زندان کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما وطن ترڅو زندانه تنګ دی

خو په هر کوټ کښې روان؛

د آزادۍ جنګ دی

په دښمن ځکه تنګه شوې آزادي به راځي

په تودو وینو یې چې کېږي

او به خور هره خوا

په ګران وطن کښې سرخرويي او آبادي به راځي!

۱۳۵۸/۱۲/۲۸

کابل، د پلچرخي زندان

# جوړه

بریژنف سولې (!) ته جنګ کړی دی بې ننګه

خو په جنګ - جنګ کښې د سولې مرغۍ مړه شوه

اوس امید دی چې بیا «سوله» (!) ترې پیدا شي

«اندیرا» له «اندروپف» سره جوړه شوه

۱۳۶۱/۸/۱۲

پېښور

# سیلاني

نیسه! لاس طبیبه زخم مې ناسور شـو
چې بې تمې شوم ایله مې زړه مسرور شـو

غاټول شین وُ چې راشین شو په بېدیاکښې
خو چې ولې خندل زما په وینو سور شو

بې له ډاره چې تر داره ددروان یم
اوس شوې پوه چې سکني ورور مې منصور شو

تل چې ګرځم سر ولي، بر ولي
د علیم له لاسه ملک راته تنور شـو

د هېواد د لوړو غرونو سیلاني دی
دا رفعت رفیع هاله موند چې مغرور شـو

پېښور: ۱۳۵۸/۶/۱۱

## یوه لنډۍ

ترکیه داسې دې کور وران شه
لکه چې وران دې کړل زمونږ و دان کورونه

۱۳۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پــور

(د هېرلنډ بحر شعر)

وطن کــور دی    وطن ګور دی
وطن پلار دی    وطن مور دی
دده نــوم د    ژوند انځور دی
دده یـــاد د    زړه تــکور دی
دده عشــق د    ایمان زور دی
په بېلتون کښې    لېـ سور اور دی
بل وطن کښې    ژوند پېغور دی
چې وطـــن نه    وي ورک لوری
په وطن پـ    ـسې مې شور دی
استقلال يې
په ما پــور دی

۱۳٦۳/۱۱/۱۰

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رحمان بابا په ليکه :

# دسپېدوخط

شپه او ورځ د ژوند لړلې مې په غم دي
جوړ غمونه مې له غمه سره سم دي

ژوند تېرېږي خوښي نشته، غم را درومي
خوشې وايې: شم، سبا دي وبله ضم دي

زه پوهېږم دغه چارې د آسمان دي
او که ترېښې مې د لوح او د قلم دي

نورو نوره شپه هم ځان ته رڼا ورځ کړه
زما ورځې هم پوښلې په تورتم دي

د افغان د انغان دود آسمان ته رسي
سرې لمبې وربانديې بلې د ستم دي

د وطن سکون، آرام يې د ی مات کړی
په هر لوري د بمونو زيروبم دي

په هر کلي، په هر ښار، په هر ديار کښې
د افغان ملت وګړي په ماتم دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د وینو ارزاني په وطن وینم
درنه وینې مې مدام د سترګو نم دي
میرویسي فال د بابا په دیوان ګورم
بیا پردي منګولې خښې مې په چم دي
ها کشور چې ده په شعر معطر غوښت
بدبویه پښکې خورې د تانک وبم دي
د سپېدو له سینه خطر داسې ښکارې
چې رابرې نښانې د صبحدم دي
دې واره قبر کښې لوی عالم ویده دی
د رحمان د شعر کوکې په عالم دي

حمل/۱۳٦۴

# بریژنف

یا زوی مری*، یا پښې مات**، یا چانماري***شول
چې کاره کتلي چا افغانستان نه
بریژنف چې په دې خاوره تېری وکړ
شو نه چا ود ارمان یې یو ور ګورستان نه

۱۳٦۲/۱۱/۲۲

* تکه چنګېز، ** تکه ګوډ تیمور، *** تکه ګرګین، مکناټن او کیوناري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وینې

وینه په هره خوا کښې وینې - وینې
په وینو تکې سرې دي مینې - مینې
بشر دی تږی د بشر وینـــو تـه
څښي يې په مینه - مینه، پیښې - پیښې

***

په خولو بشر وايي: بشر غواړي
خو په عمل کښې شور او شر غواړي
سوله، ورورې، برابرې وايــي
خو په میدان د جنګ شرر غواړي

***

بشر دښمنه به څوک خر کړمــوي؟
بشر دوستان چې سرې لښې بلـــوي
کله کامبوج، کله ویتنام پرې سیځي
یو یمني بل یمني قتـــلوي

(فیمکړی)

کابل / ۱۳۵۷/۱۲/۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انجام

(د تره کي په مړينه)

د وطن مور مقدسه ده درنه ده
احترام یې احترام د احترام دی

پاکه غیږه یې هم پاکه هم سپېڅلې
د هرڅا تر حق یې لوړ د حق مقام دی

په اغزو کښې یې هم ګل عوندې ښکلا ده
په خزان کښې یې هم عیش مستدام دی

د ربښتینې زوی له پاره یې پر پښو کښې
هم خوبنې ده، هم هوس دی، هم آرام دی

سر پرې بندي د نوروپښو به پرې پرې نږدې
د مړک لوري ته یې هر د تېرې ګام دی

چې ناموس حیا یې ساتي هغه زویه
ګرامي دی، په کابل، کړ په باګرام دی

چې (خو) پلو ترې په سپکه سترګه ګوري
تر بنګي نه سپک دا نمک حرام دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خیانت ورسره کړي مخ یې تور شوی
د وطن خاین په هر وخت کې بدنام دی
چې آبرو او حیثیت یې په بل پلوري
چې د مور په غیږ کښې پروت د بل غلام دی
رسوا کیږي، بدنامیږي، منفوریږي
انتقام یې انتقام د انتقام دی
لعنتونه له هر لوري پرې وریږي
چا چې کړی یې د زویو قتل عام دی
د امین په نوم که وي هم چې خاین وي
د خیانت منزل یې لنډ، آس یې ناکام دی
تره کی غوندې نرکیږي په ګولو کښې
ترکولی یې چې چا په بم او بام دی
په ژوند سپک شي بیا په سپکه پسې ورک شي
چې یې مور ته نظر کړی هسې خام دی
مرګ یې سپک وي، پس له مرګه هم سپکیږي
دا خیانت، دا یې آغاز، دا یې انجام دی

۱۳۵۸/۷/۱۸

پېښور، بالاحصار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اورپورې شو

بهار مه راځه ګلونو باندې اورپورې شو
چې پرې راتلې په هغو غرونو باندې اورپورې شو
چې تا به ښکلي کړل په ګلو، مونږ بې سیل کاوه
په هغو ښتو او کښونو باندې اورپورې شو
د ګل درنګ دېرنګو وینه سرې سیلۍ کړه وچه
هم بې په بوی، هم په رنګونو باندې اورپورې شو
د زېړو ګلو پر ځای سرې لمبې تاوېږي پکښې
د پسرلي په چمنونو باندې اورپورې شو
د ښکولې موجونه لوټ کړه د وحشت پوځونو
د ګران وطن تاندو باغونو باندې اورپورې شو
ګلاب، نرګس، مرسل هر یو بخیل ځای وسوځېدل
په رامبیلونو، چامبیلونو باندې اورپورې شو
د بنفشې، شبو، ببرې ځانګې لوخړې شولې
په میخکونو، ریحانونو باندې اورپورې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هم يې بوې، هم يې ښکلا وه، هم ميلې پرې کيدې
د ارغوان ښکلو ښاخونو باندې اور پورې شو

د هيڅ افغان له پاره ځای د آرام پاتې نه دی
هم په فرشې، هم په فرشونو باندې اور پورې شو

چې ګل يې پښې ښکل کړې او دې به تر وريله يووړ
د هغو حورو په پرونو باندې اور پورې شو

چې يې ټومبلې پکې وو د پسرلې ګلونه
په هغو تورو وربلونو باندې اور پورې شو

نه لاله زار دی پاتې شوی نه خارزار پاتې دی
هم په ګلو، هم په خارونو باندې اور پورې شو

د اګران اوخون جنت نظير وطن لمبه لمبه شو
هم په سارا، هم په ښارونو باندې اور پورې شو

د اور حلقو کښې دې راګير د وطن سيمې مو
چې يې په کليو، په کورونو باندې اور پورې شو

چې دوی ته کور ؤ او دښمن ته پوخ سنګر ؤ د دوی
هغو کلاؤ او برجونو باندې اور پورې شو

د ننګرهار د ګلوهار پروت د شهيد په قبر
په شنو سمسورو کونډونو باندې اور پورې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الیشنګ ، د الینګار سیند ونه سره ښکاریږي
چې د لغمان په شنو فصلونو باندې اور پورې شو
د جګدلک د ونو ډک یاقوت لنبه - لنبه شول
د ماهیپر په کږ لیچونو باندې اور پورې شو
په شیوه کیو را ښوه شوې د دښمن لښکرې
د کمریو پر کمرونو باندې اور پورې شــــو
باغ بالا باغ د بلا شو افغانانو لـــــره
قرغه یې قروغ کړه په بنــدونو باندې اور پورې شو
بالاحصار اوړ کښې ایسار کابل توته - توته شو
ښکلې پغمان په محلونو باندې اور پورې شــو
په استالف کښې لېږې - لېږې ګولۍ و اورېدې
د شمالي په شنو تاکونو باندې اور پورې شو
شکردره او ګلدره داوردره غونډې شـوه
هم یې په غرو ، هم په رغونو باندې اور پورې شو
پروان په زړه باندې پرېمانه ګـولۍ وخوړلې
د ګلبهار په بهارونو باندې اور پورې شــو
غوربند کښې بندې دي لوخړې د روسي ټانکونو
چې د پنجشیر په زمرګونو باندې اور پورې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غل سرخ د ننداړو لارې اوس شارې شولې
د لاله زار په ګلزارونو باندې اوربورې شو
په شهرستان او مالستان کښې ښار او مال تالاشول
بامیان ته ګوره یادګارونو باندې اورپورې شو
میدان ، میدان د خونړي جنګ شو، په سرو وینو رنګ شو
تنګي ، خوات په ښنو باغونو باندې اورپورې شو
لوګر ، ګردېز په اورکښې پټ شول د اورین بوتو
زرمل اورګونو باندې اورپورې شو
د آسمان څکو ښترونو ځای سکروټو لې
چې د پکتیا په ځنګلونو باندې اورپورې شــو
د تاریخي غزنې له زړه نه دوړې پورته شو لې
په حصارونو، ښارتونو باندې اورپورې شو
په قره باغ ، شلګر، مقر بمونه و اورېــدل
د ښنه زابل په بادامونو باندې اورپورې شو
د کندهار تاکونه لاندې کړل خونې ټانکــونو
په ارغنداو او په کرزونو باندې اورپورې شو
په لښکرګاه د سره غلیم لښکرې وېلو سپېدې
د زاړه بُست په تاریخونو باندې اورپورې شــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیستان سور اور شو په نیمروز کښې سختې ورځې راغلې
د دلارام په آرامونو باندې اور پورې شو

په ارزګان کښې ارزونګانې خاورو لاندې کړلې
بې غوره خلکه په غورونو باندې اور پورې شو

فراه فرحت له لاسه ورکړې، د دښمن له لاسه
د استقرار په شینډنډو باندې اور پورې شو

هرې دهرې قواؤ وران کړ په وحشي جنګونو
د مدرسو په منارونو باندې اور پورې شو

د شنه بادغیس پستو لاخولې په ناتارسپېرې نروې
ترشول مات ورانډې په شولونو باندې اور پورې شو

په میمنه کښې یې د امن مینه پرېښښوده
د جوزجانې په یادګارونو باندې اور پورې شو

اُم البلاد د خبیثانو په لاس وسوځېده
په هغولورو بېرغونو باندې اور پورې شو

په سمنګان کښې د مېړانې یادګارونه وسول
سنګلې تخار او بغلانونو باندې اور پورې شو

په چاردره کښې ماشومان لکه دورو حلال شول
د کندز کلیو او کورونو باندې اور پورې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دواخان د پکړې ول يې د روس پښو کښې کښېږ
د بدخشان په سرو لالونو باندې اور پورې شو

* * *

چې به سجدې پکښې کېدلې د پاك رب حضور ته
په هغو پاکو محرابونو باندې اور پورې شو
کورونه وران، اوروونه مړه، نغري ساړه ـ ساړه شول
د روس له لاسه په اوروونو باندې اور پورې شو
ديرې مو ولاړې اديرې شوې اديرې ايرې شوې
کورونه څه چې په قبرونو باندې اور پورې شو
تنها ژوندي او ژوي نه دي چې سره اور وسېځل
په زيارتونو مزارونو باندې اور پورې شو
چې فرش د گلو به د نوړې کېږدی د غ تر خوږ وږ
په هغو د ښتو دامانونو باندې اور پورې شو
هم د کږدی او هم د زړونو مراندې وسوځېدې
د عشق او مينې په تارونو باندې اور پورې شو
د سرو او ښانو کاروانونه به نور چېرې لېږدي؟
چې په کږديو، پېشولونو باندې اور پورې شو

←

(c) ketabton.com: The Digital Library



رمې اوس نښته، په ګلو هم ګولۍ واورېدې
په ایلبندونو، څړځایونو باندې اورپورې شو

چې له مستۍ نه به اوبو پکښې ټوپونه وهل
هغو شېلو، هغو ناوونو باندې اورپورې شو

چې به مېلې وې، ساتېرې به وې، سیلونه به وو
په اخترونو، په جشنونو باندې اورپورې شو

د ژوند لمحه - لمحه په سره وحشت لنبه - لنبه شو
په ورځو، شپو، په مهالونو باندې اورپورې شو

چې انتظار به دېردیس لالي کېده وریکښې
په هغو لارو کنډوونو باندې اورپورې شو

لیلا به وینې ټولول، لالی به لوخنګه کړي
چې په لووینو درمندونو باندې اورپورې شو

د خزانونو پاڅې سوې نه دي ایرې - ایرې دي
د بهارونو په هارونو باندې اورپورې شو

* * *

سهار عوبل د غوایه وشو، روس ما بنام ته راغی
په سهارونو، ما بنامونو باندې اورپورې شو

←

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ثور برج ، د جدي برج په موږ قيامت راوستو
خونه په هسک ، نرپه برجونو باندې اور پورې شو
په شپه بندېږ په ورځ ګړوند په بنديزکښې بند شو
د آزادۍ په ساعتونو باندې اور پورې شو
چې د اسلام او د ملي فرهنګ دښمن پرې راغلل
په مکتبو او کتابونو باندې اور پورې شو
تنکي ځوانان او ماشومان په اورکښې وسوځېدل
په نا سپړلو ارمانونو باندې اور پورې شو
دا اوښکې وينې سرې که دي خوناب جوړوي
که په تنکيو کبابونو باندې اور پورې شو
چې به رپاند وو د غيرت او د عزت په شمال
اوس په شملو او پلوونو باندې اور پورې شو
چې يو بې سر قلم او بل به يې نظر قلم کړ
په هغو تورو، قلمونو باندې اور پورې شو
د پرون هغې مودنن په اورکښې وسوځېدې
د بره تلک په تکلونو باندې اور پورې شو
انسان يې ناوړي د آسمان فضاله دوړه که
د مظلومانو په آهونو باندې اور پورې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسیه به شنګه روسیاهي کړي اوس له خلکو پته
چې د افغان په افغانونو باندې اور پورې شو

***

که زما مینه روس کړه ورانه خو مزه یې وکړه
چې هر - هر ځای یې په ټینګونو باندې اور پورې شو
د هر خوږ مېن افغان په زړه کښې خوښي ودوېده
چې د دښمن په واحدونو باندې اور پورې شو
د هرې بورې مور د زړه د زخمو خولې ورغلې
چې د لښکر په سرو بچونو باندې اور پورې شو
شو بلې یې ورانې عصري زور یې ټول اوبه - اوبه شو
په زغرورو جهازونو باندې اور پورې شو
د ګران وطن په هره برخه کښې په شور - شوځله
په قطارونو قطارونو باندې اور پورې شو
په ډېرو سیمو کښې د روس قوې - قوي پوځونه
صفاً صفا شول، په صفونو باندې اور پورې شو
ایمان تر ګوره چې ټوپک په ټانک کښې لاړه کوي
په پولادینو مقتلونو باندې اور پورې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کم نظر يې چې کتلي وو غيور افغان تــــه
د سره دښمن په سرو خوبونو باندې اور پورې شو
چې د جنګ اور ته له روسيې نه پکې تېل رادرومي
په هر - هر ځای په دې ټېنکونو باندې اور پورې شو
چې يې د سولې د کوترې کوڅې وســـــوځـــول
الیکوپتر وپه خړ خونو باندې اور پورې شــــو
هغه سالنګ کښې چې يې جوړ کړ د تېرې له پاره
د روس په سرو وحشي پوځونو باندې اور پورې شو
دارالامان د ښمن ته ځای د امن نه ورکوي
پکښې د روس پر میخ ښینو باندې اور پورې شو
چې د اوربل په قومانده يې راډيو ستړې کـــړله
د سره ترۀ کي په هډوکو باندې اور پورې شــــو
چې استخمار کړ روس ، خپل بار يې پرې تر ځايه يوور
د خره امين په خرو مغزونو باندې اور پورې شو
دوی کړ نسکور زموږ سرلوړ د آزادۍ بيرغ کړ
د خلق ، پرچم په پرچمونو باندې اور پورې شــــو
انسان دوستي مې يې اوس تول جهان ته وښـــودلــه
د روس په تشو سرو لفظونو باندې اور پورې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زما کور یې کړ ایره مسکو هم ولړزیده
په کرملین کښې په تختونو باندې اورپورې شو

* * *

چې د پولینډ کارګر څټك دی را اخیستی پسې
د روس په لور او څټکونو باندې اورپورې شو
چین هم اوس پوه شو چې مارکسیزم دی تریاق د خلکو
چې د مارکسیزم کتابونو باندې اورپورې شو
د کمونیزم شرارت د دنیا لمبه - لمبه کړه
په کمبودیا او ویتنامونو باندې اورپورې شو
چې دي پیلي یو د بل تر څنګ چمتو ولاړ دي
په ناپیلو هیوادونو باندې اورپورې شو
لوی قدرتونه یو و بل وته په شا ټېــــوي
ایران ، عراق په اولسونو باندې اورپورې شو
په مونږ قیامت دی خو د زړو دوك به مو ووزي هله
که په دې لویو قدرتونو باندې اورپورې شو
چې زور حق بولي د ویتو حق د هغوی دی پکښې
نور په ملګرو ملتونو باندې اورپورې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې کېږي نتیجه یې د جنګ اور کړې لاندې
د ژړا په مجلسونو باندې اور پورې شو
افغان سوځېږي او فریاد کړي د نیا هیڅ نه وایي
جوړې یې په سترګو او غوږونو باندې اور پورې شو

***

زلمي اتڼ کوي خو ډول ورته د جنګ غږېږي
اوس د ښادۍ په اتڼونو باندې اور پورې شو
یتمې پېغلې دې روانې د سنګر په لورې
چې د غرمې په ګودرونو باندې اور پورې شو
ډوډۍ پخېږي خو د لوړ ځای سنګرته درومي
د مازیګر په تنورونو باندې اور پورې شو
پکښې عکسونه د شهید د پاکو وینو ښکاري
سهار ماښام په شفقونو باندې اور پورې شو
رفیعه هغه طراوت اوس په کښې نه ښکارېږي
ستا د هجران سوې شعرونو باندې اور پورې شو

۱۳۶۳/۱۲/۲

پېښور، کوزتاکال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نه ځایېږي

وجود مې له خپگانه په وطن کښې نه ځایېږي
غمونه مې دي دومره چې په تن کښې نه ځایېږي

گلونه خزان شوي دي ، باغونه دي وران شوي
د سره خزان بادونه په گلشن کښې نه ځایېږي

راغلی سور وحشت دی، په اولس مې سور ساعت گ
سرې وينې د زلمو په سپين کفن کښې نه ځایېږي

رودونه دي د وينو په هر لوري چې بهيږي
ځوانان دومره قتلېږي چې مدفن کښې نه ځایېږي

ودانې ورانې شوې دي هر لور په وير لړلي
ويرونه د وطن د مور لمن کښې نه ځایېږي

وطن سوری - سوری دی د روسيو په سرو گوليو
تر دې يې زيات زخمونه په بدن کښې نه ځایېږي

خلقيانو داسې ظلم په وطن کښې کړ برپا
شرمېږي پرې تاريخ نې لري ساری سرتر پا

۱۳۵۸/۹/۱۸

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ردیف بندگی

زندگی:
رادمردان
از همان اول
با زندان بسته است؛

* * *

زندگی
بردگان روسیه
تا به آخر
در ردیف بندگیست!

۱۳۵۸/۴/۸

کابل، زندان پلچرخی

## یو بیت

زما د ژوندانه په بې ثباته تلون کښې
زما د فکر رخته بند شوې زوړ په نه شوې تازه شوې

۱۳۶۵/٦/۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوی دام

د سره استعمار نوی دام د ذهن غولول دي
څو کسه کړي د ځان نوم د ملت وربانديکېږدي
د سره لښکر په مرسته په تخت کښېنوي مغرور
د پاسه نوم د خلکو حکومت وربانديکېږدي
قومونه سره جنګوي، پلار، زوی سره په جنګ کړي
په ډېره بې شرمۍ نوم د وحدت وربانديکېږدي
بمونه او روي په خلکو ظلم چــــلوي
او رونه بـلوي نوم د خدمت وربانديکېږدي
آرامه آرامي وي په يو ملک کښې چې دوی ورشي
جنګونه کړي نوم سوله، امنيت وربانديکېږدي
کوي قتل عامونه د وګړو د مــــلت
خو نوم په سپين سترګۍ د عدالت وربانديکېږدي
تري واخلي خپلواکي او آزادي او خپل اختيـار
په خوله نوم د ملت د حاکميت وربانديکېږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځان په ګټه چورېي کړي کلتور او اقتصاد
خونوم د وروورولۍ او محبت ورباندې کېږدي
غلام کړي بل ملت په ډېر ولوموکښي يې ښکېل کړي
د خولې په تش ويل نوم حريت ورباندې کېږدي
نازله په ملت کړي سره وحشي ډيکتــاتوري
خو نوم اولسواکي، ملي قدرت ورباندې کېږدي
که داوي سوسياليزم ترقي او امـــنيت
هر څوك به لوی پښــه ونه دلعنت ورباندې کېږدي

جدی / ۱۳۵۸

وردك، آبدره

# د مسافر جنازه

له سوې سرې دښتې له خالو له زړو خيمو نه
د څوکسانو په اوږو د مسافر جنـــــازه
له هيلو ډك زړه د بې پايه دښتې زړه ترولاړه
د يوه بې کوره، يوه بې ګوره مهاجر جنــازه

۱۹ / ۷ / ۱۳۶۱، پېښور، کچه ګړۍ

# سپېدې

سپېدې دي خوښي زما زېرې د سحر لري
په خړه پړه کښې ترشا څېره د لمر لري
سپېدې دي خوښي زمــــا

* * *

تياره څيري په ځای يې هره خوا رڼا راوړي
د باطل مراندې پرې کوي د حق خنجر لـري
سپېدې دي خوښي زمــــا

* * *

د تاندو هيلو غوټۍ خونړين زړګوټي نه پرېږدي
د سرو ګلونو په خندلو کښې اثر لــــري
سپېدې دي خوښي زمــــا

۱۳۵۷/۹/۸

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دباغ

باغ زاغ ته حواله شو له دې باغ نه والوتم
بلبل مين په ګل وم خو له زاغ نه والوتم

زما او د لاله د زړه داغونه سره يو وو
زاغ تن ور سره يو چې کړ له داغ نه والوتم

خطر د تن د پوست و کنه څو به نه وم الوت ته
له باغ نه کله تلم له د باغ نه والوتم

ارزو مې وه چې بيا - بيا د خپل ځان سولو ته ځېر شم
پتنګ غوندې پر سوی له څراغ نه والوتم

لوړ سر مې ټيټ همتو ته هېڅ شان ټيټېدی نه شو
په لوړو غرونو سر شوم له « برباغ » نه والوتم

عقاب په دام کښې نه نښلي دانه دې بل ته کېږدې
لوړ الوت يم له باغ نه کړ له زاغ نه والوتم

۱۳۵۹/۲/۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بل جهان

چې آسمان یې پټ په وریځو
توری لړې پرې خورې دي
نې د بخت ستوری ښکاریږي
نه یې "تلې "
نه "نغري" نښته
او نه یې "کټ د بوډۍ" پروت دی
نه "پریوونې" یې ځلیږي!

* * *

خو:
د اوړي سوګند لمر یې
د قیامت د ورځې لمر دی
ټول مخلوق یې ښکاره دي
د خپل ونه زره نه لویږي
او:
د ژمي سوګند باد یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمهریر دی !

زمهریر دی !

چې چلیږي

له هډوکو هم تیریږي

دا دنیا د مهاجر ده

دا جهان د اواره دی !

۱۳۶۴/۳/۶

پېښور

# مُجاهد مهاجر

اولسونه دېر بنکیل شوي ، پرې راغلي بنکېلاک گردي

لا تر ننه مهاجر دي ، مهاجر دي له خپل ځایه

خو پر تا چې دا ورځ راغله ، مجاهد شوې مهاجر شوې

مجاهد شوې مهاجره ! ستا برې به وي تر پایه !

۱۳۶۱/۲/۱۲

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما قاتله!

ارته د نیا داور تبی شوله زما د پاره
له تحمل نه یم وتلی د دنیا د پاره

اوس را پنکاره شوه ملیونونه ککړې په کار دي
ستا د خیالي جنت د دې خیالي بنا د پاره

دا ستا رژیم دی چې ژوندون کړي دانسان پړینو
زه به ژوندڅار کړم دانسان داعتلا د پاره

زما قاتله اما چې نن د بلا په لاسو وژنې
ښکارې ستالاس به هم تړلي د سبا د پاره

خبر دی که سر مې ترکټو ترڅمکه لاندې کړلو
د ښکار نه يې به ميوه ورکړم هرچا د پاره

زه که فنا هم شم بقا مې په فنا کښې وينم
ځکه فنا به وي زما ملي بقا د پاره

د وحشي شپې توره سينه کښې چې بلګه غونډې مشي
ما نتړدی ویار چې شم بخړی دې رڼا د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما «سواد» دی په ختیځ کښې پرې رڼا بر راشي
تر تولو وړاندې پرې لمر ځیره د «سبا» بر راشي

۱۳۶۰/۸/۲

کابل قلعهٔ فتح الله

## د ملت لښکر

سرې پسرلي سور راته ښکاریږي
د لاله داغ یې ناسور راته ښکاریږي
خونړی سیلاب راتلونکی په وطن دی
د ملت لښکر مخسور راته ښکاریږي

کابل / ۲۲/ ۲/ ۱۳۵۸

## غلامي

د یوې توري کوډتا په ښهر اغـــــــــی
انقـــلاب یې د ظلمو په ویر ســـــور دی
د افغان د میړني ملت په تـــــن یـــي
تکــولي غلامي زخم ناســــــور دی

۲۲/۲/۱۳۵۸/ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د محبوب غيږ

ساقي ياڅر پياله راکړه      ماله ځان څخه جلا کړه
دا خپل ځان راځنې هېر کړه      سر سبند و تر مې سر تېر کړه
بزمې مينه لېونۍ کړه      بزمې مينه سپيلنۍ کړه
چې زه پورو دانګم دار ته      چې ځان واچوم انګار ته
چې قربان کړم خپله وينه      پرې ترلاسه کړمه مينه
چې منصور د خپل دلدار شم      يار ته ور د دار پر لار شم
چې سرلوړى شم مجنون ته      مؤمن خان غونډې پښتون ته
چې رښتينى يو عاشق شم      چې په مينه کښې صادق شم
چې د مينې مينتوب کښې      چې د مينې لېونتوب کښې؛

تېر تر ځان شم، تېر تر سر شم
د محبوب غېږې ته ور شم

۱۳۵۸/۷/۱۰

پېښور

# غزل

وې وږې - وږې اشنا تږې سترګې جوړوي
ځکه هره ورځ راته خبرې جوړوي

دا د ګرېوانه صدف مې ځکه خوله سپړلې دې
عشق زما له اوښکو ملغلرې جوړوي

ښکارېږي چې د سرو روسانو تېر به جوړېږي پرې
بيا غازيان مصروف ښکارې سنګرې جوړوي

ګوره په ټوپک راګوزارېږي ايمان وګوره
روس که الوتکې نغوږې جوړوي

پوهېږي چې سالنګ د سرو لښکرو د مرګ کنده ده
بيا هم لا نادان ګوره لښکرې جوړوي

داد شرق او غرب ښکېلاک مجرم د انسانانو دی
تښتي نور آسمان پر لوړ ونړې جوړوي

څو به په قناد پسې ځې راشه له شاعر کره
ګوره له الفاظو نه شکرې جوړوي

۱۳۶۳/۱۱/۲۲

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي ماتم

کله چې زه پرچمیانو د ۱۳۵۸ کال د کب په دریمه نېټه د لارې له سره ونیولم او زندان ته یې واچولم زما په تن کښې زما اغغه تورې جامې وې چې د کمونیزم د یوویشتم کلنې زورواکۍ په دوره کښې یې زما د غم او ویر د ډېرو ترخو لحظو په وخت کښې ملګرې را سره کړې وې او زه مې هم په تن کښې وې، دا پاکې ملي جامو ته ووېل شو:

زما جامو!
ای زما تورو وړو!
اې د غم جامو!
تاسې ملګرې یې مدام زما د ځان جامو!
هم د سفر، هم د حضر، هم د زندان جامو!
تاسو زما د زړه د غم ښکاروندویې کوئ!
تاسو د لوی ملي ماتم ښکاروندویې کوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما جامو!

ای زما تورو!

اې د غم جامو!

۱۳۵۸/۱۲/۶

کابل د خرخي پله زندان

# وطن پلورې

د وطن د خرڅوونکو مرګ روا دی!
که پلورلی یې په "روبل" که په "ډالر" دی
د افغان په پاك وطن کښې یې ځای نشته
که د سره دی، که د تور ښکیلاك لښکر دی

# تکل

شوم سرګردانه خوله تانه روګردانه نه شوم
خو به جانانه ستا پر عشق کښې بې ایمانه نه شوم
تکل مې وکړ د منزل په لور د سر په بیه
ستومانه ډېر شوم، خو بېې داده چې پښېمانه شوم

پېښور: ۱/۶/۱۳۵۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راز

که د خولې شې کړای د زړونو لارې مه بندوه!
ګرانه لا لیه د رازونو لارې مه بندوه!
نن د وختونو مجبوري که دیوالونه جوړ کړل
د مستقبل د امیدونو لارې مه بندوه!
که ما او تا ته شولې شاهې خبرې شاړې دي وي
خو دې بچو ته د پلرونو لارې مه بندوه!
زما د زړه درمل په تا د تا په ما کېدای شي
خوښي دې ستا وي د دردونو لارې مه بندوه!
پرون هېر نکړې، سبا خوار نکړې د نن د پاره
ها تېرې شوې د عمرونو لارې مه بندوه!
که د وړورې د شعور سترګې دې په رڼو لو بړنې
د لاشعور دې د شعرونو لارې مه بندوه!

۱۳۶۱/۷/۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوړسرونه

ورک شوې ، بې کوره شوې ، بې کوره هم شوې!
د لوی سفاک ، جاني خونړیز د لاسه!
په پاکو وینو مو خړوب شو وطن
د شلم قرن د چنګیز د لاسه!
کلي ، بنارونه مو داوړ لمبه شول
د نوي عصر د انګریز د لاسه!

* * *

ای د وطن خوږو ورو ز امنو!
څوک په شپلو څوک پر د بنتونو مړه شوې!
د چا په سر درانه تانکونه تېر شول
څوک په برچو څوک په بمونو مړه شوې!
د چا سینه د ماشینګن موځه شوه
څوک په درنو - درنو توپونو مړه شوې!
څوک په زندان کښې قصابي شوې ورونو
په کوټکونو ، په برقونو مړه شوې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک د اعدام په تخته وختلی

په ستمونو په ظلمونو مړه شوي!
د دوزخي ژوند نه وحشت مو ولید
په تکلیفونو عذابونو مړه شوي!
څوک یې ژوندي په تراکتور رخش کړي
د ظالمانو په لاسونو مړه شوي!
سر ونه ور مو کړل خو تیټ مو نکړل
د خبیثانو، رذیلانو پښو ته!
د دی وطن د دښمنانو پښو ته!

۱۳۵۸/۱۰/۸

وردګ، آبدره

## یو تصویر

دوران کوړ په وره کښې ناسته ده حیرانه
"خواره" "شنه" او "کوړ" یې ټول له منځه تللي
د "پوړیه"، "کالي" او "کوړ" دعوه دارانو
په روسي بمونو دي ورته سیځلي

۱۳۵۸/۶/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مور غېږ

ماشوم چې له مور بېل شي د هرچا ښېرې خوري
بې واره وار په وار له هرې خوا ښېرې خوري
ښاپېري وي ورته حورې، چې په هر لوري يې مخ شي
کړ خپل وي که پردي تر ې په بيا - بيا ښېرې خوري
ګلونه د دنيا ورته تېره - تېره اغزي شي
د ګل په شان يې مخ يې د دنيا ښېرې خوري
د مور په ودان کور به يې چې ټول عمر راټول وو
ددې ټولې له لاسه د جفا ښېرې خوري
سپين لمر وي، سپين سباوې خوشاپېرې يې پرې تورکړي
"سبا" ترې ورته هېله يې "بېګا" ښېرې خوري
خو مور وي ته هغه د مور د غېږې آرزو نه مري
تېرېږي به دا وخت د نن سبا ښېرې خوري

۱۳۶۱/۱۲/۲۱

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بریالی پاڅون

هر افغان وُ پخپل کور خوښ او مسعود

خپل یې شته ، خپل یې تاوان وُ خپل یې سود

د عادي ژوندون ښښتن و و پخپل کور کښې

نزول هم نه وُ کړ نه یې ژ صعود

بل واکي نه وه ، خپلواک یې خپل وطن وُ

واکداران یې که هر څو و و ننا محمود

د خپل خدای په عبادت یې ملا کښه وه

د بل چا پیټی یې نه وو په وجود

افتخار او سرلوړی یې وه په برخه

په خپل ژوند په خپل وطن و و تول خوشنود

په خندو ښو بربیدل او پرېغ تلل به

کړ کوله به یې هڅه د بهبود

خو څو کسه نا خلف پکښې پیدا شول

کړل یې ړنګ د عقیدې پاخه حدود

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلام او د افغان لاره یې پرېښوه
روس مردود، لیکن مردودو دوی مردود

د شوکت او اقتدار لېونه مینې
کړل د نورو په کړېو کښې محدود

خونړی غوبل یې جوړ کړ په وطن کښې
ورځ یې توره کړه په شپه کښې په داؤد

د راډیو څخه یې ونیوې په لاس کښې
په روسي ټانک الوتکو شول فرود

د وحشت دوره یې پیل په هېواد کړه
ټول احرار یې په زندان کښې کړل مسدود

ډېر یې مړه کړل په کورو، په زندانو کښې
کړل یې وضع په ژوندو باندې قیود

د روسي ارباب له حکم سره سم یې
د وطن په هره خوا باد کړل بارود

ویل یې نور د خپل معبود عبادت پرېږدئ
روس زموږ نه دی بادار زموږ معبود

خو مؤمن ملت دا کله شي زغملی
چې روس ومني او پرېږدي رب ودود

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه خوا ملحد خلقیان د روس بچیان وو
د وحشت یې نه ثغور وو ، نه حدود
الوتکې وې ، بمونه وو ، بې شانه ټانکونه
هره خوا ډکه په اور وه او په دود
کلي وران ، کورونه وران ، ښارونه وران شول
په وطن کښې وو خواره وحشي جنود
نامحدود روسانو راوستل وطن ته
خونړي کې یې ښودونه نوم د یوځ محدود
داسې ظلم او وحشت یې دلته وکړ
چې نه کړی و فرعون ، نه نمرود
د چنګیز او هلاکو تاریخ یې سپین کړ
کړل تاریخ تري بري ، هتلر ، یهود
نه په ښځو ، په سپین ږیرو باندې بند شول
ورې یې پریښودل ځوانان ، نه نو مولود
قتل عام یې په هر لوري کښې برپا کړ
خرابي یې کړې تر حد څخه افزود
هغه بلخ چې د جمشید د جام جمال و
رسیدل پرې بې رغونه زرانه دود

ها مزار چې د اسد د خدای مدفن وُ
رسېدل یې هر طرف ته د فیض عود
کندهار چې پایتخت د احمد شاه وُ
وُ رونلی یې میرویس او محمود
ها غزنین چې د ښارونو د سر تاج وُ
وُ پلازمینې د محمود او د مسعود
تود یې وران کړل په بمونو په توپونو
د ژوندنې او آثار یې کړل نابود
خو بل خوا ته افغانان مسلمانان وُو
نې الحاد شو لو منلی نه قیود
وُ سرلوړي ژوند یې کړی په تاریخ کښې
هر دښمن یې ژښلی په سجود
هیڅ تېری یې په وطن نه وُ زغملی
نې لوړ سر هیڅ نو دوی ته وُ فرود
په تش لاس یې بریالی پاڅون شروکړ
په قیام یې کړلو مات خمود، جمود
په وحشي دښمن یې وکړل گوزارونه
دین یې حفظ کړ په قیمت د خپل وجود

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر داسې مړ نیـــو ســــلامونه
تعظیمونه، تــکریمـــونه او درود

۱۳۶۳/۱۲/۱۷

پېښور

# اســـیر

چې وي ذهـــن یې آزاد زنداني نه دی
که په پښو کښې یې پښځه منه زنځیر دی
چې لاسونه یې آزاد نکر غـــلام وي
حقیقت کښې دا اسیر رښتیا اسیر دی

۱۳۶۶/۱۲/۲۷

# پلی نوم

کمونیزم د وحشت او زور مســلک دی
هر یو لوز، هـــر یو قول یې مـوهـوم دی
مصلحت دی دانسان د قتـــلولـــو
خو چې نوم یې پلیــنوم دی پلی نوم دی

۱۳۶۳/۹/۱٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زړه غوټۍ

شو بسرلي په هره خوا تو کېږي سره ګلونه
پر سمه، غر، دښت او دیوال بروي خواره ګلونه
په پاڼه - پاڼه کښې تصویر د شهیدانو ښکارېږي
چې د وطن په درد بدلي غېږ دې خره ګلونه
د خاورې مخ به ولې فرش په سرو ګلونو نه وي
ترې لاندې پټ چې دي تر دې ګلونو ښه ګلونه
ستا عظیم قبر ته شهیده یوه د الې ده کنه
د جنت ګلو تر فاني ګلونو نه ښکلــونه
چې د غمونو لوېږي - لوېږي غوټۍ وسپرېږي
خاونده کله به غوټۍ مې شي د زړه ګلــونه

۱۳۶۱/۱۲/۱۴

د اټک سپل

# کربلا ته سلام!

د کربلا دښتې ، په پاکو وینو سرې دښتې
د نازولو امامانو د اسرې د ښتې
تا ته سلام ستا د سینې سرو پرهرو ته سلام
چې ستا په غېږ کښې لوېدې ها ارادو ته سلام

د کربلا دښتې د کرب او د بلا د ورځو
دي ستا سینه کښې د استانونه د شهادو ورځو
ته په میدان کښې یې د داسې لوی ایمان شاهده
چې باطل وې ورته امان! امان! شاهده
ستا په سینه کښې حق د باطل په ضد قلم پورته کړ
د استبداد په مقابل کښې یې علم پورته کړ
عقیدې ټینګې وې د عقیدې یې ارادې ونکړې
توره یې ښکل کړه خو باطل ته یې سجدې ونه کړې

* * *

د کربلا دښتې! ستا یاد دې هغه نوی سره ونه

له تنه بېل خوشحال خوشحال نر شول څو سرونه

ستا په سینه کښې دایمان داسې داستان پاتې دی

چې پرېږده کښې ترابده جاویدان پاتې دی

د بشریت تاریخ پرې وياړي افتخار پرې کوي

د حق د لارې فدایان ګوره تکرار پرې کوي

د تا سرخرويه لاره پالي د خپل سر په وینه

د حق دوني کړې په مینه، او به خوږ پرېږنه

* * *

ګروهمن افغان د حسیني پاڅون په لاره درومي

دا لار به پالي کړ تر اوره، کړ تر داره درومي

د کربلا دښتې، په پاکو وینو سرې دښتې

دغازو لوا امامانو دا سرې دښتې

تا ته سلام، ستا د سينې سرو پرهرو ته سلام

چې ستا په غېږ کښې لوېدلي ها ارادو ته سلام

۱۳۶۶/۷/۱۹

د عاشورا ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوبې کوي

تو پان مې بیا په سروګلونو باندې لوبې کوي
پرغوړېدلو بهارونو باندې لوبې کوي
خوږه نادان دی نتیجه یې چې په پام کښې نه ده
په ازمویلو شمشیرونو باندې لوبې کوي
کدو خونه دی د افغان سر دی بې سره نه ځي
سر بېرې ځي چې په سرونو باندې لوبې کوي
د یلدا شپه که وي اوږده هم طرراخېژي پسې
تیاره برخو په سحرونو باندې لوبې کوي

۱۳۶۶/۱/۲۲

# د یلدا شپه

په سودا، سودا مې تېره کړه سودا شپه
شوه اوږده را تر ترکال نه د «یلدا» شپه
اورېدل به مې اوس - اوس مې تجربه کړه
په رښتیا تر ټولو شپو اوږده ده دا شپه

۱۳۶۶/۱۰/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیغام

ای نړیوالو !

نیاو غوښتونکو !

امن خوښو !

سوله دوستو !

نړیوالو واورئ !

* * *

واورئ پیغام !

د یوه مظلوم

خو میړني

او با ایمانه ملت

ای نړیوالو واورئ !

غوږ شئ !

د مظلوموخپه شوی پیغام

د انسانیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واقعیت ،
د حقیقت په غوږ و
واوره!
په دقت یې واوره!

* * *

دلته په زړه کښې د آسیا ،
یو تاریخي ملت دی .
چې د پیړیو په پوړیو کښې روڼ ژوند لري
له ویاړه ډک ،
له پتمه ډک
له ننګه ډک ژوندون!
ده لوږې ، تندې دي ځاللي ،
بې کوره زغلي
خو غلامي ته یې د چا غاړه نده ایښې
دا یې ګناه ده
پر همدې ګناه تېرې پرې شوي
د نړۍ د پرو لویو - لویو قوتونو مدام
د استعمار قوي لاسونو مدام

(c) ketabton.com: The Digital Library



دده د سر د ټيټولو ملي ځلي کړي

خوناکام شوي په مړو پښو تري تللي

* * *

ای نړيوالو واورئ !

غوږ شئ !

کيسه پاتې واورئ !

ددې ملت د سرلوړي کيسه :

زوړ استعمار دلته پخپله راغی

مات چې شو

بيايې د خپلو نوکرانو دلته لته وکړه

هغوی يې راوستل، خو پاتې نه شول

مات کړل ملت

ملي تاريخ تري د سرو زرو بابونه ورکړل

دا پاڼه وا وبنته هم دلته ،

بيا برسيره نه شوه

* * *

سره استعمار کړې سترګې پټې

په دې تورو پښو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ورورۍ، سولې، آزادۍ، بشر دوستۍ

د غولوونکو شعارو ترشخلګ یې

د تیرې توره کړه تېره

ددې ملت د ښکیلولو لاره یې جوړه کړله

لومړی یې دلته ایجنټان په روبلو وپیرودل

څو ناخلف یې له ملت بیل کړل

د ښکارې زړک په شان یې ځان ته ښکېل کړل

د کور، کالي، دوډۍ خوږې غاړې یې ورولې

بس یو څو وږي پرې غلط شول

خو نور وپوهېدل

د دوی پردۍ لوبې یې ولیدلې

خو دوی په ډېره بې شرمۍ

د خپل بادار په متو

په رڼا ورځ کښې بې رحمه داړه واچوله

په هغې ورځ یې په زرګونو افغانان

په وینو ولمبول

په خونړۍ کودتا واک د دوی شو

د روس له پاره یې د خلکو غلامي پیل کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د ملت ځواك يې ملګرى نه شو

ځکه ملت هر څه منل (خو:) غلام کېدلاى نه شو:

* * *

اى نړيوالو واورئ!

غوږ شئ!

کيسه خلاصه نه ده:

دوى د ملت د ايل کړو او سنګېدلو د پاره

روسي ټانکونه،

الوتکې،

ماشينګنې

او بموږنه راوړل

په بې رحمۍ يې په تش لاسو خلکو وچلول

ډېر ماشومان، ښځې، زاړه، ځوانان يې ووژل پرې

او ډېرې خونې يې د روس په وسلو ورانې کړلې

غوښتل يې پټه د وينو څاڅکي کړي په سره جنده کښې

خو د قصاب د لمن خاپ هم پټېدى شي کله؟

* * *

اى نړيوالو واورئ!

واورئ !

کیسه اوس خوږه شوه؛

په سپین میدان کښې د ایمان او د وسلې مقابله توده شوه

یو خوا ؤ روس، د روس ځپان، قوي وسلې ورسره

ؤ د ټېنګونو غرهار، د ماشینګن ټکهار

د الوتکو غورهار

او د بمو کړسهار

را خلاصېدل، راورېدل په بې دفاع ملت

بل خوا ملت ؤ تش لاسونه

بس څو ناپه ټوپک، کوتک ورسره

خو ټینګ ایمان او اراده یې وه تر شا ولاړه

مقابله وه د لېد و او د کتو په میدان

ټوپک په ټانک کښې لاړه وکړه رانسکور یې کړه

قوي دښمن داسې ترور شو چې شوکور یې کړه

شوبلې یې رتې لکه ترخې مندتې

په یوه لحظه کښې د لمبو خوراک شوې

پاس په آسمان شوې الوتکې ښکاره

د ټوپک ډزو پرې ترېښې شوکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څو لځو کښې لکه بیګې باښې وغورځېدې
څو چې تر ز مکه رسېدې، لمبې یې شوې دودونه
په هره برخه کښې تباه شول داقوي پوځونه
ملت بری وموند په ټولوزغوررو قوو
د ایمان نور ؤ
دافغان غیرت ؤ
دا د تاریخ د قهرمان غیرت ؤ،
چې هم یې روس ، هم یې ددوی نوکران وپرزول
اوس سروهلی، بروهلی په ځان نه پوهیږي .
باور دی ژر به محوکیږي
سور استعمار به هم د تور ښکیلاک د قبر خواکښې
د مېړنو په ملک کښې د ېر پر بې خوندهٔ خښیږي
او ددې آزاد ملت چلواك ژوندون به بیا پیلیږي
نوای رښتینو !
واقعبینو !
نړیوالو واورئ
دغه پیغام
دا د بري پیغام

دا دواړه خوځېږي ملت د سوبې کیسه
دا د یوه لوی استعماري قوت د ماتې داستان
دا ټول مظلوم انسان ته ور سوی!
او ور ته وايي چې ملي اراده نه ماتېږي
ملت په ټولو قوتو برېږي !!!

۱۳۵۸/۵/۲۳

## عمر

پنځه دېرش کاله مې د ژوند تېر شول د لمر په حساب
شپږ دېرش کلونه مې وتلي د قمر په حساب
چې لا ژوندی دی د وطن په سر کښې نه دی تللی
بې ننګه سر نما ونه بولې د سر په حساب

۱۴۰۰ هـ، ق د کوچني اختر ورځه (۱۳۵۹)

## د ایمان سوک

د "توره کي" سرې وخوړې، د "امین" سرې او بر کړې
"برژنف" يې کړ زړه چاودی "اندروپف" زړه یې اوبه کړ
د افغان د ایمان سوک دی، پر "باطل" د "حق" ګوزار دی
چې "مسکو" یې غمخانه کړ، پر "ببرک" یې بل وير وکړ

۱۳۶۲/۱۱/۲۲

# لوړې شملې

قدم - قدم کښېنې سلسلې دي زلزلې دي راځي
نړېکیه زار ستا حوصلې دي قافلې دي راځي
د افغانۍ همت پامیر د ټیټېدلو نه دی
چې په هر وخت د دښمنانو پرې حملې دي راځي
د بېرته تللو لاره یې نشته کوهستان ته درومي
زموږ وطن ته د خراسانو سرې ګټلې دي راځي
د ویښې تیلو د همت ډیوه مې بله ساتي
له هرې خوا د توپانونو سلسلې دي راځي
سرلوړې مړینه د اصلي ژوند پیلامه ده اشنا
سرټیټي ژوند، د مړینې نوې مرحلې دي راځي
د ککرو غلی دې لوړ شي، لا دې لوړ شي پسې
چې پرې رپاندې د غیرت لوړې شملې دي راځي

١٣٦٢/١/٢٩

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مجاهدو ماشومانو ترانه

سپېځلي مسلمان قهرمانان يو د وطن !

قربان يو د وطن !

قربان يو د وطن !

بچيان د لوی افغان يو فدايان يو د وطن !

قربان يو د وطن !

قربان يو د وطن !

* * *

سا تو يې آزادي د خپلو متو په همت !

لرو ملي غيرت !

لرو ملي غيرت !

په لار د قرباني باندې روان يو د وطن !

قربان يو د وطن !

قربان يو د وطن !

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

چنګېز دی، که انګرېز دی تسلیم شوی زموږ زور ته!

روس هم روان دی ګور ته!

روس هم روان دی ګور ته!

د خدای په کمک بر یو په هر میدان یو د وطن!

قربان یو د وطـــــن!

قربان یو د وطـــــن!

* * *

د روس ناولې پښې به پرې پرېږدو هېڅکله

ساتو به یې په خپـــله!

ساتو به یې په خپـــله!

زامن د میرویس خان یو او امان یو د وطن!

قربان یو د وطـــــن!

قربان یو د وطـــــن!

* * *

خوشاله به اروا د احمد شاه او د روښان کړو!

هوسا به خوشال خان کړو!

هوسا به خوشال خان کړو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ئن که ما شومان سبا ځوانان یو د وطن!

قربان یو د وطن!

قربان یو د وطن!

۱۳۶۲/۶/۹

پښین، بازارګی

# د ایمان زور

د افغان د ایمان زور چې دی لیدلی

«کمونست» به «کم» و «نیست» شي که خدای کړه

د کمون وحشت به بېرته ځي کمون ته

له دې وخت به «جم» و «نیست» شي که خدای کړه!

۱۳۶۱/۷/۲۳

## شهیدانو!

مېړنیو! قهرمانو! اتلانو!

د وطن د پاکې لارې شهیدانو!

زمونږ هم د خپل وطن په ننګه جنګ دی

ستاسو لاره خو به کړې سربازانو

۱۲/۲/۱۳۵۸ وردګ، آبدره، زیری شهیدان

# چېرته ولاړ شم؟

لاس مې تړي وحشي قاتل ترمې په بېرته سپاسي
د ټول جهان قضاوت دادی زه نو چېرته ولاړ شم؟

د حق غاصب به مې د حق غوښتو؟ ، له جرمه تېرېږي
چې د انسان قضاوت دادی؟ زه نو چېرته ولاړ شم؟

د امن خوښو امن او سر له خومې هم ولېږل
امن و امان! قضاوت دادی؟ زه نو چېرته ولاړ شم؟

د عالمي ضمير وجدان مې تجربه هم وکړه
افسوس! ايمان قضاوت دادی زه نو چېرته ولاړ شم؟

تکيه په خدای ده، مې د توري بله لاره نشته
د هر افغان قضاوت دادی زه نو چېرته ولاړ شم!

د خدای مدد به وي، لوړ غرونه، سنگرونه به وي
د ټينګ ايمان قضاوت دادی زه نو چېرته ولاړ شم!

افغان د مور غېږه کښې پايي، ځکه وايي: وي به
افغانستان قضاوت دادی! زه نو چېرته ولاړ شم!

۱۳۶۲/۳/۲۹

کوېټه، نقيب محمد زوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تاریخ غبرګون

د ۱۳۵۹ کال د ثور میاشت له روسي وحشي ښکېلاک سره د کابل ښار په واټونو کښې د ځوانانو او پېغلو د روښنفکرې پاڅون میاشت وه، دوی په تش لاس او مېړانه په رڼا ورځ د روسانو په لښکرو راووتل او له روسي ښکېلاکګرو سره لاس او ګرېوان شول، لاندېنۍ کیسه د دې میاشتې د پاڅون یوه تاریخي حماسه ده چې د "آسه‌مايي د تاریخي غره په لمنه کښې د جوی شیر" د ویالې په غاړه پېښه شوې او د تاریخ په زړه کښې به تل خوندي وي او ما د دې لنډې مثنوي په کالب کښې نظم کړې ده .

یوه کیسه ده حماسه ده
د افغاني قهرماني
را روان ؤ لوی توپان ؤ
د ځوانانو د پېغلانو
پوهنتون ؤ په پاڅون ؤ

په کابل کښې    سهار مل کښې
پوره تر غښو    دا یو ځوانو
"مړه روسان شه!    مړه خلقیان شه!
روس دې دروځي!    زموږ له سیمې!
روس دښمن دی!    روس میرځمن دی!
روس نه غواړو!    روس نه غواړو!
آزادۍ ته!    خپلواکۍ ته!
بر رسیږو!    نه رستنیږو!"
په دې چیغو    په دې کریغو
راټول ښار ته    ژړ نګار ته
څو هجوم کړي    روس محکوم کړي
دې بهیر ته    "جوی شیر" ته
روس ټانکونه    او پوځونه
ور چمتو کړل    سپي یې تو کړل
په ځوانانو    په پیغلانو
ورحمله شوه    دربله شوه
د ګولیو    په ږلیو
تویېدونه    زلمي نجونه

څو کسانو څو ځوانانو
کړلې منډې له دې غونډې
غره ته تلنه تښتیدنه
خو یوې ځوانې قهرمانې
ورته غږ کړ جوهړې ځوږ کړه
"څه کړئ؟ تښتئ! ځان نه پوښتئ؛
ژوند خپلواک کړئ! که بې واک وئ -
ژوندون نه دی! مرګ ترې بهتر دی!"
په دې چیغه په دې تریغه
دوی په تېښتنه پرېښوه تېښته
حمله ور شول سینه سپر شول
مردکو ته هوپکوته
هېر ترې مرګ شو تاریخ غږکړ شو
د ملالې بې مثالې
احترام دی صد سلام دی
دې میدانه دې ایمان ته
دافغانې
قهرمانې ۱۳۶۳/۱۱/۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استاد پژواک په لیکه:

# د حق لمر

بیا «بشر» بې سره شوی جوړ پرې «بشر» دی
بشر دوستو (؟) اوړ ولې په محشر دی
زیر وبم د بم په هره خوا کښې خور دی
دوېړ ساندې دي عالم زیر و زبر دی
په هرگام کښې لوېې کندې، لوړ پاڼونه
مسخ په وړاندې توپانونه دي، خطر دی
مکانې اثر پرې شوی دی د عصرونو
په کنډو د زمانې موتل سفر دی
پښو نه نه ځي هسکه غاړه به اوسپړي
زمانه ده، حادثې دي، زموږ سر دی
روغ زړه نه دي له دې خاوړې نه وتلي
که چنګېز، که هلاکو، که سکندر دی
د انګرېز جهانی زور دولت او به شو
په زاریو د تزار نوی لښکر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرخرويي تل په وينو د دښمن ده
د کابل بالاحصار کښې دا اشر دی
که د روس «شاپرک» هرځو بمباري کړي
چا وژلی په ګوليو د حق ملګر دی؟
شپه اوږده، تاریکه ده، څو ډاړه یم
خښ په زړه کې د سپیدو ځلند خنجر دی
دا منمه شپه اوږدې دي بې کله
خوشحال نه مري په دې مې همسر باور دی
یخ به تېر شي ځي نوری به د سکروي
«پایښت بوله استثني قانون ګذر دی»

۱۳۶۶/۵/۲۹

کوټه

## د ځان مرګ

ډېرو سرونه دي داوکړي دایمان د پاره
تاسو ایمان کړ تربښو لاندي دامان د پاره
ژوندون ایمان او عقیده ده، ګني مرګ دی مرګ دی
افسوس پچپله غوښتی مرګ تاسې د ځان د پاره

۱۳۶۶/۲/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تره کي په یاد

سور تره کی،
په سره کلي کښې پیدا شو
سره روس ورکړل
ورته سره ـ سره کتابونه
ترې نه زده یې د سرو وینو تویول کړل
په خپل معنز کښې یې ساتل سره ـ سره فکرونه
څوچې سرې کودتا وروست د ارګ تخت ته
کړل جاري یې ژر ـ ژر
سره ـ سره فرمانونه
سور بیرغ،
سور یې دیرک،
سور یې تناب شو
کړل یې څوړند په سینو سره نښانونه
په وطن کښې یې سرې وینې کړې روانې
ټول یې سره کړل که وو کلي، که ښارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره خوایې سره ورځ راوسته
په خلکو

په افغان باندې یې بل کړه سره اوروونه
څوچې سره باداریې کښتېکړه قربانۍ ته
ترینه پاتې سرې څوکۍ شوې
سره تختونه

رونې دې فشان پرې راووست
خوسره نه شول

د تره کي په سرو وینو بالښتونه
د «سره‌عمر» شرمیدلی پای یې «ژړه» ؤ
وو په «سره» نیکړیې جوړه
«ژړه-ژړه» خاپونه

کوټه: ۱۳۶۴/۴/۱۲

## د سر سیوري

نه یې کوره مسافریه کومه ولاړ شم؟
ګاډي دروميـ هرڅوك وېږي خپلوکورو ته
چې د سر سیوری مې دی پکښې موندلی
زې خوشاله یم یوازې دې دوو شپو سته :۲۲ /۸/ ۶۲، پېښاور
دریلپېږون

# غم

نه د ځان په غم کښې نه یم، د جهان په غم کښې زه یم!
چې له ما مخه کوږ کړي، د جانان په غم کښې زه یم!
په دې زه یم چې څه وشول؟ پر دې زه یم چې څه کیږي؟
د څپو په غم کښې زه یم، د توپان په غم کښې نه یم!
زمانه شوه ولې ورانه؟ مکانونه ولې وران شول!
د زمان په غم کښې زه یم! د مکان په غم کښې نه یم!
د تعمیر په ځای تخریب دی، د تجلیل په ځای تعذیب دی
د بدلون په غم کښې نه یم، د بحران په غم کښې زه یم!
که دا زمکه نسکوریږي، که آسمان پرې را نړیږي
د زمین په غم کښې نه یم، د آسمان په غم کښې زه یم!
که ناپالم که ایټم دی، نایتروجن که راوریږي
د جبران په غم کښې زه یم، د درمان په غم کښې زه یم!
خبر دې شلیږي دې، دا کیږي، په کنډوون پسې لیږ زه یم
د لمن په غم کښې زه یم، د ګریوان په غم کښې نه یم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما سوال تر ټولو لوړ دی، زما غم تر ټولو بر دی
د افغان په غم کښې نیم، د لبنان په غم کښې نه یم!
زما غم بس هم دا غم دی، چې انسان هم چېرته شته دی؟
چې الفت او انس یې نه وي، دې حیوان په غم کښې نه یم!

۱۳۶۳/۶/۲۹

پېښور

# فلکه!

په خپل وطن کښې د وطن د آبادۍ په تمه
اوس بې وطنه د وطن په آزادۍ پسې یم
هضم دې نه کړمه فلکه ان مو یېبت خو دې کړم
ستا خوله کښې هم د خپل غلیم په بربادۍ پسې یم

۱۳۶۲/۳/۵

باجوړ، ناقې غابنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګران

ځان ګران دی خو تر ځانه مې جانان راباندې ګران دی
ثابته مې جهان ته کړه چې ګران راباندې ګران دی

سر بې دم پرې خو د زړه محبوب مې نر پرې بې دمه بل تر
رښتیا راباندې ګران دی، په ایمان راباندې ګران دی

چې کړې مې خاپوڅې یې په مینه دي په غېږ کښې
دا مور راباندې ګرانه، دا دامان راباندې ګران دی

زما د تن ذره - ذره یې جوړه ده له خاورې
ذره - ذره د ملک تر ټول جهان راباندې ګران دی

جلال د «جلاله» لرې، جمال د «افغاني» مې
«کونړ»، که «ننګرهار» دی، که «لغمان» راباندې ګران دی

هر غر جنګي کلا ده، هره تره یې سنګر دی
«ځاځي» دی، که «منګل» دي، که «ځدران» راباندې ګران دی

«لوګر» لکه لوی غر تل د دښمن مخ ته ولاړ دی
«پادخواب» دی، که «سرخاب»، «تنګ واغجان» راباندې ګران دی

«کابل» چې حال کابل د دښمنانو د غرور
زور ګیر کړي په زاریو دا مکان را باندې ګران دی

«مالخه» چې د «بري» یې تر آسمانه پورې رسي
یادګار د خپلواکۍ مې دی «پغمان» را باندې ګران دی

مغرور دښمن یې څوځوځلې مات کړ په میړانه
«پنجشیر» را باندې ګران دی او «پروان» را باندې ګران دی

دښمن چې ورغلی ژوندی نه دی ترې راغلی
سرلوړی «کاپیسا»، مغرور «بامیان» را باندې ګران دی

د روس وحشي لښکرې چې د مرګ کندې ته سپارې
«سالنګ» را باندې ګران دی او «خنجان» را باندې ګران دی

د روس د سرو لښکرو یې مات کړي قطارونه
«دوشي»، «پلخمري» ده، که «بغلان» را باندې ګران دی

«کندز» رښتیا کندیس دی که دښمن ته د مرګ کنده
چې نغړي دښمنان، هغه «آبدان» را باندې ګران دی

لالونه د سرو وینو د شهیدو یې پر ځلا دی
چې د اسې وینه لال کړي «بدخشان» را باندې ګران دی

د «بلخ» په «ذبیحانو» مې تاریخ کړي افتخار
«مزار» د لوی اتل «شیر مردان» را باندې ګران دی

«سرپل» بازاري وران شو خو دښمن تري سرپټ نشو
چې روس پکښې قاش قاش، «تاشقرغان» راباندې ګران دی

د کوږ دښمن سرونه يې سم - سم پکښې هوار کړل
قربان يې له بچونه «سمنګان» راباندې ګران دی

هر څومره که روسان ورباندې بلوسي، سروې نښتي
چې لوړه غاړه اوسي «چغچران» راباندې ګران دی.

چې ساتي خپل وياړونه، د پردو له يرغلونو
«فارياب» راباندې ګران دی او «جوزجان» راباندې ګران دی

«تخار» دی، که «فرخار» دی، هر يو ډک د افتخار دی
چې هسکه غاړه ژوند کړي «شبورغان» راباندې ګران دی

چې کندې يې شوې ډکې په روسي ټانک او عسکرو
«سبزک» راباندې ګران دی او «لامان» راباندې ګران دی

لوی وات په رڼا ورځ کښې سره دښمن تر سور تنور کړي
دښمن تري ميدان نه شي وړلی، «ميدان» راباندې ګران دی

له اور يې کړې وړ ړنګې، پر دښمن خپلې ټوپکې
«ونخي»، «خوات»، «تنګي»، «شينز»، «زنخان» راباندې ګران دي

«غزني» که «قره باغ» دی که «شلګر» دی، که «مقر» دی
هر يو قوي سنګر د قهرمان راباندې ګران دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړګونه رستمان دي زالوي شوي په زانګوکښې
«زابل» ستاهر زوی، هر قهرمان راباندې ګران دی
روزګار چې پکښې تل په مینتون دی د دښمنه وځ
پرې ویاړم، پرې نازېږمه «روزګان» راباندې ګران دی
«قندهار» ستا د قندو زهر ښخبلي دي روسانو
«زوږ ښار دې، زوړ سنګر دی» د ایمان راباندې ګران دی
«هیلمند» د ملي هیلو او ملي پوځ «لښکرګاه» دی
«ګرشک» دی، «نیمروز» دی، «سیستان» راباندې ګران دی
«فراه» کښې د پردیو د فرحت لارې بندېږي
«شینډنډ» چې پکښې روس دی سرګردان راباندې ګران دی
نازېږم د «هرات» له قهرمانو توریالیو
دښمن ترې چې وړنکي امان راباندې ګران دی
چې هر ترې شنډېږي، پکې هر زور او به کېږي
وطن د میړنو افغانستان راباندې ګران دی
الحاد او کمونیزم یې ځپلي ابدي دي
دا خوږ ملک د سپېڅلي مسلمان راباندې ګران دی
چې ټول سنګر سنګر دی او سرخرویه دی په روینو
وطن د ننګ، غیرت او د ایمان راباندې ګران دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا ویل اُچې وطن وران دی او ورانو به څه خوند وي؟
ویران دې وي، ویران دې وي، ویران را باندې ګران دی
چې نه او ښځه، زوړ او ووړ او ځوان یې ټول جهاد کړي
دا نه ملت، دا نسل قهرمان را باندې ګران دی
په نره یې سر دا اوکړ او په نره دښمن ولي
"شهید"، را باندې ګران دی، "غازي"، ځوان را باندې ګران دی
چې لار کوي د روس په الوتکو او ټانکو کښې
د حق د مرد کیو تونده باران را باندې ګران دی
دا سره خونړۍ وږمې یې نور په سترګو لیدی نه شم
افغان ځکه کومه چې افغان را باندې ګران دی
غافل وُم په وصال کښې د خپل ګران اشنا له قدره
د وصل تر خوبونو تریخ هجران را باندې ګران دی
"رفیعه"، چې په درد کښې د وطن دې قلم خوځي
د تا هره انشاء او هر بیان را باندې ګران دی

۱۳۶۳/۱۲/۱۹

# تروړ شعر

د حالاتو په دُرشل کښې مې یارانو
نن دا شعر زماني هسې تروړ دی ۱۳۶۴/۵/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یولیک

## دیوبېل اشنا په نوم

فلک څنګه مهربان شو نه پوهېږم ؟
چې د بېل اشنا له یاده بیا خبرېږم ؟

نوي کېن یې نوي مهرکښې دي نغښتي؟
که رښتیا یې نن د ناز غېږې ته لوېږم!

ما ویل دواړه به تر مرګه سره مله وو
چې هم بېل یو هم ژوندي یو ، شرمېږم

شکر دادی چې د لیکلاره شوه خلاصه
چېل لیکونه رالېږه خپل بېړ درلېږم!

هیوادې یاران وو څنګه؟ حال یې څه وُ؟
له هېچا نه خبر نه یم ځوروېږم!

د ژوندون د سختو لاروپه سفرکښې
څه به کېږي، څه به کېږي ، څه به کېږم؟

اوښکو ژاړئ چې له سترګو راجلا شوئ
نما کال د بېلتون وشولا خندېږم!

۱۹ / ٦ / ۱۳٦۲ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چاربیته

په وینو رنګ افغانستان دی
په هر یو کور کښې دي ویرونه
هغه ودان وطن اوس وران دی
دي پرې راغلي توپانونه

+++

داد غوایه له بغاوته  په وطن جوړې غلبلې شوې
د سرو روسانو له وحشته  بلې په هره خوا لمبې شوې
د کمونیزم په لعنته  ټولې دېرې موادېرې شوې
ورکه دنیاو او عدل پته  چې سرې لښکرې راخورې شوې
په وطن کې چور او تالان دی
ورېږي بې سرونه او مالونه
په وینو رنګ افغانستان دی
په هر یو کور کښې دي ویرونه

+++

سپېڅې خواره پرې راخواره دی  جنت نظیر وطن ورانېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره خوا پلي دي، سپاره دي    خرسان په وينو نه مړيږي
وطنداران خواره واره دي    هره خوا کډې ئې بارېږي
پاتې پراته په تناره دي    نمرودي اوردي پرې بليږي
په هره خوا کښې بمباران دی
دي د زنګير ويـو آوازونه
په وينو رنګ افغانستان دی
په هر يو کور کښې دي ويرونه

* * *

د کور پر ځای يې نصيب ګور شو    د کمونستو په وعدو کښې
هرچا ته خپل وطن سور اور شو    وسول د ظلم په لمبو کښې
وحشت په هره خوا کښې خور شو    آرام شو ورک کليو ښارو کښې
له ورانۍ حالې پورته شور شو    آور و په تنو غلبلو کښې؛
« دا بشر دوست دی؟ دا انسان دی
چې بلوي په مونږ اورونه!»
په وينو رنګ افغانستان دی
په هر يو کور کښې دي ويرونه

* * *

خو پاڅېدلي شاګلیان دي    په کاميابۍ مو اعتماد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې جهادي سنګر ودان دي آزاد به وي نګی مو هوا دی
په غزا بوخت مو چې غازیان دي آخر راتلونکی عدل وداد دی
په وینو رنګ مو شهیدان دي د سرخرویی د زیرې یاد دی
د سبا ستورې مو روښان دی
«رفیع» اېن کړ دي غمــــــونه
په وینو رنګ افغانستان دی
په هر یو کور کښې دي ویـــرونه

سنبله ۱۳۶۴ هـ، ش

# د ننګ تاریخ

ستا په مخ چې را خورې شوې د شهید د وینو پرخې
سرخرویي دې کړه حاصله، ای د لوېو عزو نو پښې!
کتیبه ده د مېړانې، د شهید په وینو لیک ده
تر ابده ژوندی ساته، دا د ننګ د تاریخ کرښې

۱۳۶۲ پېښور منظور عام پرېس

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوې مسرې

په وطن کښې د وحشت لړې خورې شوې
کندو وازې کړلې خولې سرې خورې شوې
پسرلې چې به غاټولو سره ښکلې
هغه دښتې په سرو وينو باندې سرې شوې
چې درنې وې، چې تودې وې، تالېـدلې
هـادېرې اوس سرتر پايه هډېرې شوې
چې ښادې چې آبادې ته مولـرلې
ځوانيمرګې د عمـرو - عمرو اسرې شوې
ځوانان ولاړل د وحشت ترکومي تېرشول
رانه لوټ مو ملي پانګې او پاسرې شوې
اوښکې ورکې شوې د وينو په سيلاب کښې
په سرو وينو باندې سرې سوې مسرې شوې

۱۳۶۶/۸/۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نیل پر غاړه
## (بکرنش النیل)

زه د نیل پر غاړه ناست یم!
نیل روان دی!
نیل روان دی!
ورو- ورو اخلي قدمونه!
د هدف په لوري یون دی!
دا روان دی له پرونه
د سبا غېږې ته رسي!

***

زه د نیل پر غاړه ناست یم
څوپې- څوپې يې څپې دي
خو په تنتو اشاره کښي
راته سپړي ډېر رازونه
کوي تېر حکایتونه
راته یاد کړي تېر وختونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته سپړي تاریخونه

* * *

زه د نیل پر غاړه ناست یم !

را یادیږي هغه ورځې !

چې د نیل چوپو څپو به

تېرولې د نیل ناوې

او حسینې به نغرلې

دا د نیل غوښتنه نه وه

دا هوس د ها پاچاؤ

چې به نجونې خوښولې، غرقولې

د وحشي شهوت تسکین به پرې کولو

* * *

زه د نیل پر غاړه ناست یم !

څپې چوپې - چوپې درومي

اشارې کښې راته وایي :

« څه شول هغه هوسونه ؟

بې حلیه شهوتونه ؟

زه شاهد یم !

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی پناه شول
او د نیل حسینې ناوې
بیا په امن او سېدلې
نه چا ماته راوستلې !
نه او بو کښې ډوبېدلې ! ،،

***

نه د نیل پرغاړه ناست یم
زمانه وهي څرخونه
راته ښکاري تېر قلمونه ؛
د فرعون شاهي تخت دی
ځان ته خدای د خلکو وایي
کړي چپه - چپه حکمونه
په ترلو - په وژلو
د مظلومو انسانانو
نه سرېږي ، نه مرېږي !

***

نه د نیل پرغاړه ناست یم !
نیل روان لکه پرون دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په یون کښې راته وایي:

„ها فرعون د لته ګوره ؟

ها خدایي مقام یې کوم دی ؟

زما غیږه کښې زبون دی !

غوږ ځولی ما دی بیرته

دی عبرت د تاریخونو !

* **

زه د نیل پر غاړه ناست یم

پر زاړه قلم کښې ګورم

مصر یو ک له شر او شور دی

د زرګونو عالمونو پر منځ ـ منځ کښې

ښایسته یوسف خرڅیږي

په پیسو او په مالونو

هر یو نیسي یې له لاسه

غواړي دا ښکلی غلام کړي !

د انسان مقام بدنام کړي !

***

زه د نیل پر غاړه ناست یم !

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلم خرنخ خوري را تاوېږي!
ښایسته یوسف ښکارېږي!
غلامي يې شاتړ کړي
د شاهي پر پالنګ ناست دی
او د نیاؤ دور چلېږي!
د انسان سوداوې نښته
ورور په ورور باندې نازېږي!

***

نه د نيل پر غاړه ناست يم!
راته کړي حکايتونه،
راته کړي اشارتونه،
د نسل په ژبه وايي:
ډېر زوروکي دي ماليدلي
چې زما پېښو ته لوېدلي
له غروره ډك سرونه
په دې کانو دوېدلي:

***

نه د نيل پر غاړه ناست يم
او د نيل له حاله وايم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرعونان تل نسکوریږي
حق باطل باندې بريږي
زور زياتی نه پاتې کیږي
بې له خدايه! مصنوعي خدايان غرقيږي!

***

نو :

نه د نيل پرغاړه ناست يم
په ډاډ منه لهجه وايم:
چې ای د عصر فرعونانو!
ای وحشي ښکيلاکګرانو!
ای د روس وحشي لښکرو!
نور راغلی هغه وخت دی
چې په لاره د فرعون به روانيږئ!
او د مرګ په رود نيل به ورکيږئ!
دا به کیږي ، دا به کیږي
کرخپه اوکه خوښيږئ!

***

نه د نيل پرغاړه ناست يم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د نیل په ژبه وایم:

د افغان اولس د قهر رود نیل بر

غرقوي د تزاري فرعون لښکري

دا آزاد وطن به بېرته آزاد بېږي

د افغان مؤمن اولس به

خپلي خوښي ته رسېږي

د هدف رڼه منزل ته

به سمېږي هسکه غاړه!

زه د نیل پر غاړه ناست یم

نیل روان دی

نیل روان دی

ورو - ورو اخلي قدمونه!

۱۳٦۵/۹/۹

۱۹۸٦/۱۱/۳۰

مصر، قاهره

د راډیو تلویزیون ودانۍ

د نیل پر غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وحشت غېږ

سرې - سرې اوښکې چې تویېږي مې ګریوان ته
څه به ورځي د مینې ګلستان ته؟
نه یوازې ګل په سوي، بلبل په سوي شو
یوه چاره په کار ده دې سوي خزان ته
د وحشت په خوره غېږه کښې شلم پروت دی
حیرانېږم د شلم قرن انسان ته
میته نشته، مینې سرې دي په سرووینو
ته لا اوس هم انسان وایې دې حیوان ته؟
یو ویښتي پیرې ته چې رابرېږي
څوک به پاتې وي چې وبې غواړې ځان ته؟

۱۳۶۲/۸/۸

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چرنینکو د مړ کېدو په ارتباط څو قطعې:

# خرس مړ کي

خرس مړ کي ده په روسیه کښې لګېدلې
لوی خرسان یې سر په سر مړې کال په کال مري
عجیبه ده ټول زوړ چاودي ځي له تنخته
د افغان د ارادې په پاخه ډال مري

۱۳۶۳/۱۲/۲۰

# د اقتدار جنګ

اورو : «یو» کله یې «بل» مشر مردار دی
چې ګوښه شي وروسته یې د مرګ وار دی
کودتا د کمونیزم هم اسرار وي
په مسکو کښې روان جنګ د اقتدار دی

۱۳۶۳/۱۲/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زوړین

چرینکو ؤ اندروپف ګور ته لېږلی
اقتدار د کی جي، بي، بي ؤ رټلی
خو زوړین یې لکه مړه رانسکور کړ
ګوربه چف لکه ګوربه ؤ ورته غلی

۱۳۶۳/۱۲/۲۱

***

بریژنف یې چې مردار شو کار یې زار شو
اندروپف یې له یو پف سره ګوزار شو
چرینکو که هر څو وچرېده وخت تېر ؤ
ګوربه چوف یو چوپ پرې وکړ په قرار شو

۱۳۶۳/۱۲/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امتحان

که هرڅو مې دافغان قصه اوږده شوه
د ښنه! ستا هم هدا شان قصه اوږده شوه

پروا دار مې نه د مال او نه د سر یم
اوس چې ماته د تاوان قصه اوږده شوه

توجه! کښخ ته مې دامن بېرېږه باسه
چې پر ما د سرو توپان قصه اوږده شوه

ځکه وینې مې له اوښکو سره درومي
د بېسوبو د باران قصه اوږده شوه

د بېزو نو یه! د سره سحر په لوري
غرق خون دې شو کاروان قصه اوږده شوه

د روسي ښکېلاک قصر مې هم کړه ختمه
که زما د امتحان قصه اوږده شوه

د خوابه اشنا وصال به مې لا خوښ وي
که هرڅو مې د هجران قصه اوږده شوه

اور بې پوزې کړ د عصر په دیوانو
دریغ که د دیوان قصه اوږده شوه

۱۳٦۴/۱۲/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوشال بابا په لیکه؛

# دخوشال بابا په مزار

که ته نه وای دې خړ غره ته به راتلل څوک
په حضور به دې داسې ژړ سېلل څوک
ستا کشش، ستا جذبه، ستا مقناطیس دي
گنې نه څوک، دې لوړ ځای ته رسېدل څوک؟
هغه درد چې تا درلود ما سره همر شته
بنکېلاک یو دی، گنې روس څوک دی، مغل څوک؟
بیا نا اهله چېل له بله سره مل شو
گنې مېنه د افغان څوک وه او بل څوک؟
د نفاق درد چې تالید لا دوا نه دی
ځکه زه څوک یم او ځوان پاتې کېدل څوک؟
ته ترې لاړې جانکوړې، زه اکوړې ته
که بخت بد نه وي نو موږ څوک وو او تلل څوک؟
ستا له لاسه اوس زما لاس ته رسېږي
پر دې شان دې کړي د تلك توره تړل څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاڅنګه اجازه رفیع ترور کــــــړه
کښېنه نه څوك، دې مقام ترلاخته څوك؟

۱۳۶۳/۱/۲۱

# مقابــــله

په ننګ، په غیرت، په سپین میدان مقابله ده
روانه په وطن کښې دافغان مقــابلــــه ده
یو لور ته دي ټانــګونه، الوتــکې اوبمــونه
بل خوا داړادې اودایمــان مقابـــله ده

۱۳۶۱/۷/۱۸

# تپې غاټول

په وطن کښې اوس ـ اوس هم لاله غوړیږي
خو له لاسه د وحشت ځدتپــــې کیږي
لا یې داغ د سوې زړه ښودلی نــــــه وي
چې په غــېږه د بیدیا کښې ورژیــږي

۱۳۶۳/۱۲/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بلخ د نامتو قوماندان ذبیح الله په شهادت

د دین د پاره ، د حق په لوري
د وطن لار کښې لاړې فدا شوې
ستا قرباني کړه الله قبوله
ذبیح الله وې ، ذبیح الله شوې

۱۳۶۳/۱۱/۱۲

پېښور

# فردوس

چې محروم نشم محشر کښې له فردوسه
ځان ساتمه پېښور کښې له فردوسه*
شیخ به ناست وي انتظار به د قیامت کا
شهید حظ مومي سنګر کښې له فردوسه

۱۳۶۳/۱۰/۱۸

---

* فردوس په پېښور کښې د یوې سینما نوم دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوشال بابا په لیکه ،

# منظوم لیك

یاره څه به درته کښمه ، په څه باب کښم ؟
زه به تا وته د هجر کوم عذاب کښم ؟
د «هجرت» او د «هجران» غمو بیتاب کړم
نو به څنګه دا بیان په آب و تاب کښم ؟
د دوستانو دښمني درته بیان کړم ؟
که دوستي د دښمنانو په کتاب کښم ؟
له هر لوري مې زړه خوږېږي حال مې خراب دی
درته څه به د دې خپل خاطر خراب کښم ؟
نه وُم پوه نه به هېواد ، نه هېواد وال وي
«چې به دا د غم بیتونه په پنجاب کښم» ؟

پنجاب، دریل سیون

۱۳۶۶/۸/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلطان محمود غزنوي د مزار د ورانولو په ویرکښې؛

# لوی فاتح

هاغه لوی محمود چې مات یې سومنات* کړ
د منات، لات او عزی** ورور یې میرات کړ
کمونستو د هندوانو خوښېدنګ ته
د هغه فاتح ګنبد په بمو مات کړ

۱۳۶۳/۱۲/۲۱

# دروند غم

یو څلویښت کلونه دژوندون را باندې تېر شول
ټول په غمو تېر شول، ورځ په ورځ غمونه ډېر شول
سور وحشت د روس چې په وطن کښې زموږ پلی شو
دا داسې دروند غم وُ چې پرې تېر غمونه هېر شول

۱۳۶۴/۹/۳۰

---

* سومنات د هند د مشهور بت نوم دی.

* لات، منات او عزی د جاهلیت په دوره کښې په کعبه شریفه کښې ایښودل شوي مشهور بُتان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دښمن

په خوله يې سوله ده، په زړه کښې يې د سر دښمن دي
د باطل مرسته کښې، د حق د حق سنګر دښمن دي
بشر- بشر وايي جهان يې ډک له شره ډک دي
بشر يې سره کړي ربښتيا چې د بشر دښمن دي
مخ ترې تندر راولي دا د ښکلا لوټماران
هغوي چې غواړي سور سحر د ځلند لمر دښمن دي
د کمونيزم د رژيم، رژيم دي وينې خوړل
دا رژيمونه انسانيت ته سراسر دښمن دي
که کمونيزم ګورئ ورشئ د خيبر نه هاخوا
هم د حيوان، هم د نبات، د سم او غر دښمن دي

۱۳۶۲/۱۱/۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په شینډنډ کښې د روسي الوتکو
## د یو ځایي سوځولو د عملیاتو یاد

○

تول وطن مې پې شو دیاره کړې په چین
بیا یې تخم پکې وکاره د مین
ما یې هم مبلغ لکه میږې قرباني کړې
ګوندې خه یې شي ادا د دوستۍ دین

۱۳۶۴/۲/۳۰

پښین

## پر لیبیا تیری

ظلم دی یو ، وحشت دی یو او بمباري یوه ده
که په پولینډ ، په فلسطین ، یا په لبنان کیږي
ښکیلاک : سور، تور، بشر دښمن او بشر دوست نلري
تیری تیری دی په لیبیا ، که په افغان کیږي

۶۵/۱/۲۷

پنجاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مینې بقاء

دا د نیا ټوله زما شي ، په دنیا کښې چې تا وینم
له دنیا مې چې ته ځېل شې ، بیا نو څه له دنیا وینم

څه عجبه زمانه شوه ، ټول کاروڼه په بل پړشول
له پردي هم ستم وینم ، له آشنا هم جفا وینم

لا قیام د قیامت نه دی ؛ چې نفسي نفسي نفسي شوه
دي چاغ شوي په نفسونو که امي که ملا وینم

زړه پریشانه پریشانه کړي ، ستا په مینه یې رابټول کړم
ځان له مانه چې ټول نه کړي ، ټولېده مې د سا وینم

لاس مې پرېږده د زړه سره ، ستا د زړه د سرد پاسه
چې دې زړه سره درزا کښي ، نه د مینې بقاء وینم

جمعیت که را نه ټول دی ، ټول په یوه سیلي خواره شي
رفیع ځکه په دې ټول کښې ځان بې یاره تنها وینم

۱۳۶۲/۹/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو هدف

چې د باران یوه رڼه اوښکه یې ترخولې نه روشي
په سمندر کښې مرغلره شي صدف د پاره
ټوټې - ټوټې نه به بیا راټول کړم که راټول شي یو ځل
دغه بې نظمه تنظیمونه یو هدف د پاره

۱۳۶۳/۹/۲۸

# د روس ښځې

د افغان دېوړانیمو د زړه دوک ؤ
چې راپورته شو په کیف کښې له ښځې نه
دا نړۍ که له مضمونې، ښکاري داسې
چې روسیه به کاندي ورکه له نړۍ نه

۱۳۶۵/۲/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوې سا

زما نارام زړګی له ډېرو اندېښنو ویده شي
لکه ماشوم چې بې له موره په سلګو ویده شي

د وطن خاورې ستا ګردونه مې راغجه د سترګو
لېچن به څنګه بې له دې پستو رنجو ویده شي

د آرزوګانو په مقتل کښې به خوب څرې آشنا
پر دې بستر چې وغزیږي په عمرو ویده شي

رقیبه عزم یې یوه نوې غونډې سا اخلي
ستړی که هر څو پر دریغ ـ دریغ خوب ویده شي

د خیال د نیایې د عمرو ـ عمرو زنګوته اخلي
چې د غزل پر رنګین تال کښې په جوهتو ویده شي

۱۳۶۲/۱۲/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زړه قصه

زما د زړه قصه د زړه پر غوږونو واوره آشنا
د سر غوږونه کله سرسري اوري
ما معنوي ماته ورکړې خپل مادي دښمن ته
خلک به محض د میدان لرې برې اوري

۱۳۶۳/۷/۱۶

## د زړه کور

زړه مې وړوکی دی خو دومره لوی دی
د هر مظلوم غم ځایېدی شي پکې
هر یو ظالم ته د نفرت مېنه ده
هر یو جابر تلعین کېدی شي پکې

کوټه: ۱۳۶۴/۶/۷

# د بهار په لوري

د زړګي سستې مې کړې شولې د يار په لوري
د يار په لوري د آشنا ځوندې د يار په لوري

د ننګ او ننګ وطن ويښته هومره نږدې دی آشنا
خپل قدمونه چستوه د افتخار په لــــــوري

د حق قصه راته اوږده شوه د منصور تر دره
ځکه بې واره ور روان یمه د دار په لوري

زه باوري یم چې سیلۍ به مدام نه لګېږي
داخزانونه به مې درومي د بهار په لوري

۱۳۶۲/۱۰/۲۲

# يوه لنډۍ

پسرلی بیا په وطن راغی
ګلان راځي څو شهیدان خاورو ته ځينه

۱۳۶۲/۱۲/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اصلي رنګ

کمونیزم لفاظي ده، فریبکاري ده
خو زموږ په ملک کښې ښکاره په اصلي رنګ شو
یورش وکاندې په خلکو اعلان مارش کا
جومات «رنګ» کړي په راډیو کښې وایي «رنګ» شو

۱۳۶۳/۳/۲۵

# دار

څنګه ښه بېلتون دی تر وصلت لا خو بلت لري
هر څه ته چې دید کړمه دیدار شي د آشنا
زه هغه منصور یم د خدای نصر مې ملګری دی
دار ته چې مې بوزې را ته دار شي د آشنا

۱۳۶۴/۷/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغان فخر

د افغان فخر په هغو ننګيالو دی
چې نه دار لري له بند او نه له داره
داسې فخر د افغان له پاره عار دی
مفتخر چې وي د روس له افتخاره

۱۳۶۵/۳/۱۰

نوبنار، د موټر یون

○

يار مې مار شو له بنماره سره مل شو
له بې سره استعماره سره مل شو
افغان څرنګه شي فخر پرې کولی
چې د روس له استعماره سره مل شو

۱۳۶۵/۳/۱۰

اکوړه، د موټر یون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فاصله

پرون خر به ؤ هغه کته بدله
اوس خره بدلیږي کته یې یوه ده
نوره شنکیلاک په سره شنکیلاک دی بدل شوی
د پرون او د نن دغه فاصله ده

۱۳۶۵/۳/۱۰

خیرآباد، د موټریون

# ولایت

پرون ورور ؤ د ببرک خوښ یې نه دی
هی توبه د سیاست له اخــــوته
چې الهام ورته رادرومي له مسکوه
اوس اګاه شوم دولي له ولایتــــه

۱۳۶۵/۳/۱۰

اټک، د موټریون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رشته

چې شپېته کاله پخوا يې سرې جامې وې
ما ويل دا يې نښانه د قربانۍ ده
خو چې نن د روس په سره بيرغ نازېږي
ښکاري داسې چې رشته يې پخوانۍ ده

١٣٦٥/٣/١٠
اتک

# د روس بار

مفتخر چې د روسانو په دوستۍ وي
کله ودروي يو او کله بل خر
څو دا خره وي د روس بار زمکې ته نه رځي
نجيب راولي او لرې کا، کارمل خر

١٣٦٥/٣/١٠

اتک : د موټر يون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ابدي مينه

مسخره مې کړلې نوري يـــــارانې
چې مې ووې ستادمينې تـــــرانې
ابدي مې کړه وطنه دتا مينـــــــه
زما غزنشي وژلې زمـــــــانې

۱۳۶۴/۳/۲۳

کوټه

# هېــواده!

که ګــرانه ګــرانــه ! ګرانه هيـــواده
فارغ مې مه کړې داستاله يـــاده
يم راوتـــلى ددې له پـــارهٔ
چې دې آزاد کــړم له اســــتبداده

۱۳۶۵/۳/۱۶

پنجاب ،ګجرات ، دريل يـون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مرام

په حال کښې کښېناستل او يو لحظه غافل پل
لوی جرم يې ګڼي چې څوك قيام لري په مخ کښې
په دار باندې زنګل لکه په ټال باندې زنګل دي
معنوی ته چې هدف لري، مرام لري په مخ کښې

۱۳۶۴/۴/۶

# د سپېدو خنجر

ظاهري زخم مې نشته خو په زړه مې وينې بهېږي
نه پوهېږم څه راپېښ شول دا د سترګو په ټکر کښې
په سحر کښې نه سنګار بڼې، په غرمه کښې يې نه وينم
چې لېدلی مې کوم نور دی، د سپېدو په سپين خنجر کښې

۱۳۶۴/۱۱/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لفظي بشر دوستان

چې کورونه ورانوې د کارګرانو
چې کښتونه سوځوي د بزګرانو
چې مالونه لوټوي د زیارکښانو
چې سرونه غوڅوي د ماشومانو
چې وژل کاندې ، د ښځو بوډاګانو
چې کړې قتل د مظلومو افغانانو

دغه کار دی د لفظي بشر دوستانو
تف لعنت په کمونیزم ، په روسانو

# حرارتونه

له موږ "ګان" وړې څرخوي پرې خپل غرغرونه
راکوي" بم ، ورانوي مو پرې کورونه
دا دوستي ده؟ دا ورورې؟ برابري ده ؟
چې بدلېږي پر دې راز حرارتونه

۱۳۵۸ / ۲ / ۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتونولۍ پښتونوالی

چې مینه په ملي والی، په ملي ځواک دی
چې دښمن د هر بنسټپال، د هر زبیښناک دی
که عمر خو تري لري ځي بیا را غبرګیږي
د اولس غوښې خلاصوي داسې پښتونوال دی

۱۳۶۵/۲/۲۸

# آسیا

په افغانستان او په لبنان کښې کربلا ده
په ایران عراق ښاروله لوبلا ده
د انسان د ګکرو دانې دل ګیږي
آسیا ځکه سرګردانه ده، آسیا ده

۱۳۶۵/۱۱/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قدمونه

ناشنا لوري ته راغلم د آشنا په قدمونو
پلونه مې بيا کښېښول د بابا په قدمونو

يوسف پاچا د حُسن دی د ناز په نيلي سپوری
په مخ کښې يې ښکاريږي زليخا په قدمونو

کتنه وه د ګدايي يې پټوي شری خوری خوښېږي
مجنون ښکاري چې پروت دی د ليلا په قدمونو

تا نه يې قرباني د اماماتو کړه دنيا کښې
روان افغانستان د کربلا په قدمونو

۱۳۶۳/۹/۱٦

# ائتلاف

يو هدف ته مو وحدت وُ اتحاد شو
اتحاد د اختلاف په لوري درومي

هئ افسوس دی طلايي وخت مو تلف شو
ائتلاف او س د اتلاف په لوري درومي

۱۳٦۵/۴/۵

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**